# د شمېر کتاب

سریزه

د شمېر کتاب د تورات څلورم کتاب دی چې د اسراییلو د سختیو په باره کې خبرې کوي.

خدای پاک حضرت موسیٰ د اسراییلو د مشر په توګه انتخاب کړ چې هغوی وعده شوي وطن یعنې کنعان ته رهنمایي کړي. په دې سفر کې څلوېښت کاله تېر شول. کله چې هغوی د سینا د غره لمنو ته ورسېدل او د څه مودې دپاره یې هلته خېمې ودرولې، نو د تګ څخه مخکې حضرت موسیٰ د خدای پاک د لارښوونې سره سم د قوم سرشمېرنه وکړه ترڅو د کنعان د نیولو دپاره تیار اوسي. هغوی قادش برنیع ته چې د کنعان په جنوبي سرحدونو کې پروت ؤ ورغلل خو وعده شوي وطن ته په ورننوتلو کې ناکام شول او د حضرت موسیٰ د مشرۍ څخه یې سرغړونه وکړه. د دې کار په نتیجه کې کلونه کلونه سرګردانه شول تر دې پورې چې د هغوی یو نسل په دښته کې له منځه لاړ او یو بل نسل راپیدا شو. بیا هغوی د موآب ډاګونو ته چې د اردن د سیند په ختیځو برخو کې وو ورسېدل او حضرت موسیٰ بیا د هغوی سرشمېرنه وکړه چې کنعان ته د ننوتلو دپاره تیار شي.

د شمېر د کتاب نوم د اسراییلو د دې سرشمېرنو څخه اخیستل شوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی. د شمېر کتاب په دښته کې د اسراییلو د قوم د سفر جریان په لنډ ډول بیانوي. زیاتې پېښې چې د شمېر په کتاب کې ورڅخه یادونه شوې ده په هغو کې د خدای پاک عمل په ښه توګه څرګندېږي. هغه اسراییلیانو ته د هغوی د نافرمانۍ له کبله سزا ورکوي او په عین وخت کې یې دې ته تیاروي چې د قومونو په منځ کې د هغه د کارونو په خاطر د شاهدۍ ورکولو یوه وسیله وګرځي. د شمېر کتاب د هغو اسراییلیانو قصې بیانوي چې زیاتره یې د سختیو په مقابل کې ناامیده کېږي او د خدای پاک او حضرت موسیٰ په مقابل کې سرکشي کوي. خو خدای پاک همېشه په خپلو وعدو باندې وفا کوي او د خپل قوم ساتنه کوي.

## د موضوعګانو فهرست:

اسراییلیان د سینا د غره څخه د تللو دپاره تیاری نیسي ۱: ۱ – ۹: ۲۳

الف: اوله سرشمېرنه ۱: ۱ – ۴: ۴۹

ب: مختلف قوانین او اصول ۵: ۱ – ۸: ۲۶

ت: د فسحې دوهم اختر ۹: ۱ – ۲۳

د سینا د غره څخه تر موآب پورې ۱۰: ۱ – ۲۱: ۳۵

د موآب پېښې ۲۲: ۱ – ۳۲: ۴۲

د مصر څخه د موآب پورې د سفر لنډیز ۳۳: ۱ – ۴۹

د اردن د سیند څخه د تېرېدلو څخه مخکې لارښوونې ۳۳: ۵۰ – ۳۶: ۱۳

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د اسراييلو اوله سرشمېرنه

١ ١ د مصر څخه د اسراييلو د قوم د راوتلو څخه وروسته د
دوهم کال د دوهمې مياشتې په اوله ورځ کله چې ښښتن د حضرت
موسیٰ سره د سينا په دښته کې په مقدسه خېمه کې خبرې وکړې هغه
وفرمايل: ٢ <ته او هارون طايفه په طايفه او کورنۍ په کورنۍ د
اسراييلو د ټول قوم سرشمېرنه وکړئ او د هغو ټولو خلکو د نومونو
لست وليکئ ٣ چې عمر يې شل کاله يا زيات وي او جنګ کولی
شي. ٤ د هرې قبيلې د طايفې د يو مشر څخه مرسته وغواړئ.
٥ دا د هغو مشرانو نومونه دي چې تاسو سره بايد مرسته وکړي:

د روبين له قبيلې څخه اليصور د شديئور زوی
٦ د شمعون له قبيلې څخه شلوميئيل د صوريشدای زوی
٧ د يهودا له قبيلې څخه نحشون د عميناداب زوی
٨ د يساکار له قبيلې څخه نتنائيل د صوغر زوی
٩ د زبولون له قبيلې څخه الياب د حيلون زوی
١٠ د حضرت يوسف له زامنو څخه:
د افرايم له قبيلې څخه اليشمع د عميهود زوی
د منسي له قبيلې څخه جمليئيل د فدهصور زوی
١١ د بنيامين له قبيلې څخه ابيدان د جدعوني زوی
١٢ د دان له قبيلې څخه اخيعزر د عميشدای زوی
١٣ د اشير له قبيلې څخه فجعيئيل د عکران زوی
١٤ د جاد له قبيلې څخه الياساف د دعوئيل زوی
١٥ د نفتالي له قبيلې څخه اخيرع د عينان زوی.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١۶ دا خلک قبیلوي مشران وو چې د اسراییلو د قوم څخه د دې
کار دپاره وټاکل شول.

١٧ د دې دولسو نفرو په مرسته حضرت موسیٰ او حضرت هارون
١٨ د دوهمې میاشتې په اوله ورځ ټول قوم راوغوښت. خلکو خپل
نومونه طایفه په طایفه او کورنۍ په کورنۍ ولیکل او هغه نفر چې عمر
یې شل کاله یا زیات ؤ د هر یو نوم په لست کې ولیکل شو. ١٩
څنګه چې څښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ، هغوی یې د
سینا په دښته کې وشمېرل: ٢٠-۴۶ ټول نفر چې عمر یې شل کاله
یا زیات ؤ او جنګ یې کولی شو نومونه یې په لست کې ولیکل شول.
د هر یو نوم د خپلو طایفو او کورنیو د سوانحو په مطابق ولیکل شو
او د حضرت یعقوب د مشر زوی روبین د قبیلې څخه شروع وشوه.

د روبین د اولادې شمېر: ۴۶۵۰۰ تنه

د شمعون د اولادې څخه: ۵۹۳۰۰ تنه

د جاد د اولادې څخه: ۴۵۶۵۰ تنه

د یهودا د اولادې څخه: ۷۴۶۰۰ تنه

د یساکار د اولادې څخه: ۵۴۴۰۰ تنه

د زبولون د اولادې څخه: ۵۷۴۰۰ تنه

د حضرت یوسف د زامنو څخه:

د افرایم د اولادې څخه: ۴۰۵۰۰ تنه

د منسي د اولادې څخه: ۳۲۲۰۰ تنه

د بنیامین د اولادې څخه: ۳۵۴۰۰ تنه

د دان د اولادې څخه: ۶۲۷۰۰ تنه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د اشیر د اولادې ښځه: ۴۱۵۰۰ تنه

د نفتالي د اولادې ښځه: ۵۳۴۰۰ تنه

د هغو نفرو شمېر چې د حضرت موسیٰؑ، حضرت هارون او د دولسو
قبیلو د مشرانو له خوا لیکل شوی ؤ، ټول ۶۰۳۵۵۰ تنه وو.

۴۷ مګر هغه خلک چې د لاوي د قبیلې ښځه وو په دې کې شامل
نه وو، ۴۸ ځکه چې ښتن حضرت موسیٰؑ ته فرمایلي وو: ۴۹
<کله چې ته د هغو نفرو سرشمېرنه کوې چې جنګ کولی شي، نو د
لاوي قبیله په کې مه شاملوه. ۵۰ د هغې په ځای لاویان د مقدسې
خېمې او د هغې د ټول سامان مسوولان وټاکه. هغوی به دا خېمه او د
هغې سامان انتقالوي، ساتنه به یې کوي او د هغې په شاوخوا کې به
خپلې خېمې ودروي. ۵۱ هرکله چې تاسو خپلې خېمې بل ځای ته
وړئ، نو لاویان دې مقدسه خېمه راټوله کړي او په نوي ځای کې
دې بیا ودروي. که بل هرڅوک ورته نژدې ورشي وبه وژل شي. ۵۲
پاتې اسراییلیان به د خپلو ډلو په اساس خېمې ودروي، هر سړی به د
خپل بیرغ لاندې د خپلې ډلې سره وي. ۵۳ خو لاویان به خپلې
خېمې د مقدسې خېمې په شاوخوا کې ودروي ترڅو د اسراییلو په
قوم باندې زما قهر نازل نه شي. لاویان دې د مقدسې خېمې د ساتلو
مسئولیت په غاړه واخلي.>

۵۴ څنګه چې ښتن په حضرت موسیٰؑ باندې امر کړی ؤ،
اسراییلیانو کټ مټ هماغسې وکړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په کمپ کې د قبیلو ځای په ځای کول

۲ ۱ څښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمايل: ۲
<کله چې اسراییلیان خېمې ودروي، هر سړی به د خپلې ډلې د بیرغ
او د خپلې طایفې د نښان لاندې خېمې ودروي. کمپ دې د مقدسې
خېمې په شاوخوا کې جوړ شي.>

۳ د یهودا د کمپ ډلې دې په ختیځ کې د لمرخاته خواته د خپل
بیرغ لاندې خېمې ودروي. د یهودا د خلکو مشر د عميناداب زوی
نحشون دی. ۴ د هغه د ډلې شمېر ۷۴۶۰۰ تنه دی.

۵ د یساکار قبیله به د هغوی په څنګ کې خېمې
ودروي. د یساکار د خلکو مشر د صوغر زوی نتنائیل دی.
۶ د هغه د ډلې شمېر ۵۴۴۰۰ تنه دی.
۷ وروسته به د زبولون قبیله وي. د زبولون د خلکو مشر
د حیلون زوی الیاب دی. ۸ د هغه د ډلې شمېر ۵۷۴۰۰
تنه دی.
۹ هغه ټول نفر چې د یهودا کمپ ته د هغوی د ډلو په
مطابق ورکړل شوي دي، د هغوی شمېر ۱۸۶۴۰۰ تنه دی.
اول به دوی روان شي.

۱۰ د روبین د کمپ ډلې به په جنوب کې د خپل بیرغ لاندې وي.
د روبین د خلکو مشر د شدیئور زوی الیصور دی. ۱۱ د هغه د ډلې
شمېر ۴۶۵۰۰ تنه دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ د شمعون قبيله به د هغوی په ثنګ کې خېمې
ودروي. د شمعون د خلکو مشر د صوريشدای زوی
شلوميئيل دی. ١٣ د هغه د ډلې شمېر ۵۹۳۰۰ تنه دی.
١۴ ورپسې به د جاد قبيله وي. د جاد د خلکو مشر د
دعوئيل زوی الياساف دی. ١۵ د هغه د ډلې شمېر ۴۵۶۵۰
تنه دی.
١۶ هغه ټول نفر چې د روبين کمپ ته د هغوی د ډلو په
مطابق ورکړل شوي دي، د هغوی شمېر ١۵١۴۵۰ تنه دی.
دوهم به دوی روان شي.

١٧ بيا د اولنيو او آخرنيو دوو کمپونو په منځ کې دې لاويان روان
شي او مقدسه خېمه دې يوسي. هر کمپ دې په هماغه ترتيب سره
روان شي لکه ثنګه چې هغوی خېمې ودروي. هر يو به په خپل
ځای کې د خپل بيرغ لاندې وي.

١٨ د افرايم د کمپ ډلې به په لوېديځ کې د خپل بيرغ لاندې وي.
د افرايم د خلکو مشر د عميهود زوی اليشمع دی. ١٩ د هغه د ډلې
شمېر ۴۰۵۰۰ تنه دی.

٢٠ د منسي قبيله به د هغوی په ثنګ کې وي. د منسي د
خلکو مشر د فدهصور زوی جمليئيل دی. ٢١ د هغه د
ډلې شمېر ۳۲۲۰۰ تنه دی.
٢٢ ورپسې به د بنيامين قبيله وي. د بنيامين د خلکو مشر
د جدعوني زوی ابيدان دی. ٢٣ د هغه د ډلې شمېر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۵۴۰۰ تنه دی.
۲۴ هغه ټول نفر چې د افرایم کمپ ته د هغوی د ډلو په
مطابق ورکړل شوي دي، د هغوی شمېر ۱۰۸۱۰۰ تنه دی.
دریم به دوی روان شي.

۲۵ د دان د کمپ ډلې به په شمال کې د خپل بیرغ لاندې وي. د
دان د خلکو مشر د عمیشدای زوی اخیعزر دی. ۲۶ د هغه د ډلې
شمېر ۶۲۷۰۰ تنه دی.

۲۷ د اشیر قبیله به د هغوی په څنګ کې خېمې ودروي. د
اشیر د خلکو مشر د عکران زوی فجعیئیل دی. ۲۸ د هغه
د ډلې شمېر ۴۱۵۰۰ تنه دی.
۲۹ وروسته به د نفتالي قبیله وي. د نفتالي د خلکو مشر د
عینان زوی اخیرع دی. ۳۰ د هغه د ډلې شمېر ۵۳۴۰۰ تنه
دی.
۳۱ هغه ټول نفر چې د دان کمپ ته ورکړل شوي دي، د
هغوی شمېر ۱۵۷۶۰۰ تنه دی. هغوی به د خپلو بیرغونو
لاندې په آخر کې روان شي.

۳۲ نو دا د اسراییلو د قوم سرشمېرنه وه چې د هغوی د کورنیو په
اساس ترسره شوه. هغه ټول خلک چې په ډلو ډلو په کمپونو کې وو،
شمېر یې ۶۰۳۵۵۰ تنه وو. ۳۳ لکه څنګه چې څښتن په حضرت
موسیٰ باندې امر کړی ؤ لاویان د نورو اسراییلیانو سره یوځای ونه
شمېرل شول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۴ نو د اسراییلو قوم هغه ټول کارونه سرته ورسول چې څښتن په
حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ. په دې ډول هغوی هر یو د خپل
بیرغ لاندې خېمې ودرولې او د خپلې طایفې او خپلې کورنۍ سره
روان شو.

## د حضرت هارون زامن

۳ ۱ دا د حضرت موسیٰ او حضرت هارون د کورنۍ د هغه
وخت قصه ده کله چې څښتن د حضرت موسیٰ سره د سینا په غره
کې خبرې وکړې. ۲ حضرت هارون څلور زامن درلودل: ناداب
چې مشر ؤ، ابیهو، العازار او ایتامار. ۳ هغوی مسح کړای شول او
د کاهنانو په توګه وټاکل شول. ۴ مګر ناداب او ابیهو د څښتن په
حضور کې په داسې وخت کې مړه شول کله چې هغوی د سینا په
دښته کې څښتن ته ناپاکه اور وړاندې کاوه. هغوی اولادونه نه
درلودل، نو العازار او ایتامار د حضرت هارون د ژوندانه په دوران کې
د کاهنانو په توګه خدمت وکړ.

## د لاویانو وظیفې

۵ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۶ <د لاویانو قبیله
راوله او د هارون کاهن د خدمتګارانو په توګه یې وټاکه. ۷ دوی
به په مقدسه خیمه کې کار کوي او د هارون او ټول قوم دپاره به
وظیفې سرته رسوي. ۸ هغوی به د مقدسې خېمې د ټول سامان
مسئولیت په غاړه واخلي او د نورو اسراییلیانو دپاره به وظیفې اجرا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوي. ﴿٩﴾ د لاویانو مسئولیت دا دی چې د هارون او د هغه د زامنو
خدمت وکړي. ﴿١٠﴾ هارون او د هغه زامن د کاهنانو په توګه د
خدمت دپاره وټاکه. که بل هرڅوک مقدس ځای ته ورننږدې شي باید
ووژل شي.>

﴿١١﴾ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ﴿١٢﴾-﴿١٣﴾ <اوس دې
لاویان زما شي. کله چې ما د مصریانو ټول مشران زامن او اولني
زیږېدلي حیوانات ووژل، دا پرېکړه مې وکړه چې په هرې اسراییلي
کورنۍ کې مشران زامن او د هغوی د رمو او پادو څخه هر اولنی
زیږېدلی نر حیوان به زما وي. مګر اوس ما د اسراییلو د ټولو مشرانو
زامنو په ځای لاویان انتخاب کړي دي. زه څښتن یم.>

## د لاویانو سرشمېرنه

﴿١٤﴾ څښتن حضرت موسیٰ ته د سینا په دښته کې وفرمایل: ﴿١٥﴾
<لاویان کورنۍ په کورنۍ او طایفه په طایفه وشمېره. هر نارینه چې
عمر یې یوه میاشت یا زیات وي وشمېره.> ﴿١٦﴾ نو څنګه چې
څښتن ورباندې امر کړی ؤ، حضرت موسیٰ هغوی وشمېرل.

﴿١٧﴾-﴿٢٠﴾ د لاوي درې زامن وو: جرشون، قهات او مراري. هغوی
د هغو طایفو نیکونه وو چې د هغوی په نوم یادېږي. د جرشون دوه
زامن وو: لبني او شمعي. د قهات څلور زامن وو: عمرام، یصهار،
حبرون او عزیئیل. د مراري دوه زامن وو: محلي او موشي. هغوی د
هغو کورنیو نیکونه وو چې د هغوی په نوم یادېږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ لبنیان او شمعیان د جرشونیانو طایفې وې. ۲۲ د هغو نارینه
جرشونیانو ټول شمېر چې عمر یې یوه میاشت یا زیات ؤ او وشمېرل
شول، ۷۵۰۰ تنه وو. ۲۳ دغو طایفو د مقدسې خېمې شاته یعنې
لوېدیځ خواته خېمې ودرولې. ۲۴ د جرشونیانو د کورنیو مشر د
لایل زوی الیاساف ؤ. ۲۵ په مقدسه خېمه کې جرشونیان د دغو
شیانو د ساتنې مسوولان وو: د خېمې، د هغې د پوښونو، د خېمې د
دروازې د پردې، ۲۶ د حویلۍ د پردو، د هغې حویلۍ د دروازې د
پردې چې د مقدسې خېمې او قربانۍ د ځای ګردچاپېره ده او د هغو
د رسۍګانو. هغوی د دې ټول سامان او په هغه پورې د اړونده
کارونو مسئولیت په غاړه درلود.

۲۷ عمرامیان، یصهاریان، حبرونیان او عزیئیلیان د قهاتیانو طایفې
وې. ۲۸ د هغو نارینه قهاتیانو ټول شمېر چې عمر یې یوه میاشت
یا زیات ؤ ۸۶۰۰ تنه وو. قهاتیانو د مقدس ځای د ساتنې مسئولیت
په غاړه درلود. ۲۹ دغو طایفو د مقدسې خېمې جنوب خواته
خېمې ودرولې. ۳۰ د قهاتیانو د طایفو د کورنیو مشر د عزیئیل
زوی الیصافان ؤ. ۳۱ د دغو شیانو مسئولیت د هغوی په غاړه ؤ: د
لوظ صندوق، مېز، څراغدان، د قربانۍ د ځایونو، هغه لوښي چې
کاهنانو په مقدس ځای کې ورڅخه کار اخیست او د ډېر مقدس
ځای د دروازې پرده. هغوی د دې ټول سامان او په هغه پورې د
اړونده کارونو مسئولیت په غاړه درلود.

۳۲ د لاویانو د مشرانو رئیس د حضرت هارون کاهن زوی العازار
ؤ. هغه په هغو خلکو باندې مقرر شوی ؤ چې د مقدس ځای د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ساتنې مسوولان وو.

۳۳ محلیان او موشیان د مراریانو طایفې وې. ۳۴ د هغو نارینه
مراریانو ټول شمېر چې عمر یې یوه میاشت یا زیات ؤ او وشمېرل
شول ۶۲۰۰ تنه وو. ۳۵ د مراریانو د طایفو د کورنیو مشر د
ابیحایل زوی صوریئیل ؤ. هغوی د مقدسې خېمې شمال خواته خېمې
ودرولې. ۳۶ مراریان د دې دپاره ټاکل شوي وو چې د مقدسې
خېمې په چوکاټونو، د هغې په اړمونو، ستنو، پایو او د هغې د ټول
سامان ساتنه وکړي. هغوی د دې ټول سامان او په هغه پورې د
اړونده کارونو مسئولیت په غاړه درلود. ۳۷ همدارنګه هغوی د
ستنو، پایو، مېخونو او د هغو رسۍ ګانو مسئولیت په غاړه درلود چې
د شاوخوا حویلۍ دپاره وې.

۳۸ حضرت موسیٰ او حضرت هارون او د حضرت هارون زامنو د
مقدسې خېمې لمرخاته خواته یعنې د مقدسې خېمې په مخ کې خېمې
ودرولې. هغوی د هغو کارونو د سرته رسولو مسئولیت په غاړه درلود
چې د اسراییلو د قوم دپاره په مقدس ځای کې ترسره کېدل. بل
هرڅوک به چې مقدس ځای ته ورنژدې کېده، هغه به وژل کېده.
۳۹ د هغو ټولو نارینه لاویانو شمېر چې عمر یې یوه میاشت یا
زیات ؤ او حضرت موسیٰ او حضرت هارون د څښتن په امر طایفه
په طایفه وشمېرل، ټول ۲۲۰۰۰ تنه وو.

## لاویان د مشرانو زامنو په ځای منل کیږي

۴۰ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <د اسراییلو ټول مشران

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زامن چې عمر یې یوه میاشت یا زیات وي وشمېره او د هغوی د
نومونو یو لست تیار کړه. ۴۱ د اسراییلو د ټولو مشرانو زامنو په
ځای زما دپاره لاویان واخله او د هغوی د ټولو اولنیو زېږېدلو
حیواناتو په ځای زما دپاره د لاویانو حیوانات واخله. زه څښتن
یم.> ۴۲ نو څنګه چې څښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړی
ؤ، هغه د اسراییلو ټول مشران زامن وشمېرل. ۴۳ د نارینه مشرانو
ټول شمېر چې عمر یې یوه میاشت یا زیات ؤ او د هر یو نوم په
لست کې لیکل شوی ؤ ۲۲۲۷۳ تنه وو.

۴۴ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۴۵ <اوس د
اسراییلو د ټولو مشرانو زامنو په ځای لاویان وقف کړه او د لاویانو
حیوانات د هغوی د حیواناتو په ځای وقف کړه. لاویان دې زما شي.
زه څښتن یم. ۴۶ په دې خاطر چې د اسراییلو مشران زامن د
لاویانو په پرتله ۲۷۳ تنه زیات دي، نو ته باید اضافي زامن بېرته په
بیه واخلې. ۴۷ د هر نفر دپاره د مقدس ځای د مثقال په مطابق
پنځه پنځه مثقاله سپین زر راټول کړه ۴۸ او هغه هارون او د هغه
زامنو ته ورکړه.>

۴۹ حضرت موسیٰ د ۲۷۳ اضافي مشرانو زامنو څخه سپین زر
راټول کړل ۵۰ چې د هغو وزن د مقدس ځای د مثقال په مطابق
۱۳۶۵ مثقاله ؤ. ۵۱ هغه یې د څښتن د حکم سره سم حضرت
هارون او د هغه زامنو ته ورکړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ۱ ښښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمايل: ۲
<د قهاتيانو سرشمېرنه چې د لاويانو د قبيلې يوه برخه ده طايفه په
طايفه او کورنۍ په کورنۍ وکړئ. ۳ هغه ټول نفر وشمېرئ چې
عمر يې د دېرشو کالو څخه تر پنځوسو کالو پورې وي او په مقدسه
خېمه کې د کار کولو توان ولري. ۴ په مقدسه خېمه کې د قهاتيانو
کار دا دی چې په مقدسو شيانو باندې پام وکړي.

۵ کله چې د دې وخت راشي چې کمپ ته حرکت ورکړای شي
نو هارون او د هغه زامن به خېمې ته ورننوزي، هغه پرده به راکښته
کړي چې د لوظ د صندوق په مخ کې ده او صندوق به ورباندې پټ
کړي. ۶ په هغه باندې به د ښې څرمنې پوښ واچوي او په سر
باندې به يې يو داسې ټوکر خپور کړي چې پوخ آبي رنګ ولري او
بيا به وړونکې ميلې په کې ورننباسي.

۷ هغوی به په هغه مېز باندې چې خدای ته ورباندې ډوډۍ
وړاندې کيږي يو آبي ټوکر خپور کړي او په هغه باندې به قابونه، د
خوشبويۍ کاسې، د نذرانې دپاره کاسې او هغه منګې کيږدي چې د
څښلو د نذرانو دپاره دي. په مېز باندې به همېشه ډوډۍ پرته وي.
۸ هغوی به په دې ټولو باندې يو سور ټوکر خپور کړي، د يوې
ښې څرمنې پوښ به ورباندې واچوي او بيا به وړونکې ميلې په کې
ورننباسي.

۹ هغوی دې يو آبي ټوکر واخلي او دغه شيان دې ورباندې پټ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي: ځراغدان د ځراغونو سره، د هغه پلتي پاکوونکي، پتنوسونه او د
زيتونو د تيلو ټول لوښي چې د ځراغونو دپاره استعماليږي. ۱۰
هغوی به ځراغدان او د هغه ټول سامان د ښې ځرمنې په پوښ کې
راتاو کړي او په يو وړونکي چوکاټ باندې به يې کېږدي.

۱۱ بيا به د سرو زرو په قربانګاه باندې يو آبي ټوکر خپور کړي، د
ښې ځرمنې يو پوښ به ورباندې واچوي او بيا به وړونکې ميلې په
کې ورننباسي. ۱۲ هغوی به هغه ټول لوښي چې په مقدس ځای
کې ورڅخه کار اخيستل کيږي واخلي او په يو آبي ټوکر کې به يې
تاو کړي، د ښې ځرمنې يو پوښ به ورباندې واچوي او په يو
وړونکي چوکاټ باندې به يې کېږدي. ۱۳ د قربانۍ د ځای څخه به
ايرې لرې کړي او په هغه باندې به يو بانجاني ټوکر خپور کړي.
۱۴ په هغه ټوکر باندې دې هغه ټول سامان کېږدي چې د قربانۍ په
ځای کې ورڅخه کار اخيستل کيږي: لکه د اور لوښي، د غوښې
قاشق پنجې، بېلچې او د وينې د شيندلو کاسې. بيا به هغوی ورباندې
د ښې ځرمنې يو پوښ واچوي او وړونکې ميلې به په کې ورننباسي.

۱۵ کله چې هارون او د هغه زامن د مقدس سامان او ټولو مقدسو
موادو د پټولو څخه وزګار شي او کمپ د وړلو دپاره تيار شي، نو
قهاتيان دې د دغو شيانو د وړلو دپاره راشي. مګر هغوی بايد مقدسو
شيانو ته لاس ورنه وړي که نه، نو مړه به شي. قهاتيان دې هغه شيان
انتقال کړي چې په مقدسه خېمه کې دي.

۱۶ د هارون کاهن زوی العازار دې د دغو شيانو مسئوليت په غاړه
واخلي: د ځراغونو دپاره د زيتونو تيل، خوشبويي، د عادي غلې داني

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نذرانه او د مسح کولو تېل. هغه دې د ټولې مقدسې خېمې او هرڅه
چې په کې دي، د مقدس سامان او لوښو په شمول د هغو مسئولیت
په غاړه واخلي.>

۱۷ ښښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمایل: ۱۸-
۱۹ <پرېږدئ چې قهاتیان ډېرو مقدسو شیانو ته په ورنژدې کېدلو
سره ووژل شي. د دې دپاره چې د داسې پېښې مخه مخنیوی وشي،
نو هارون او د هغه زامن دې مقدس ځای ته ورننوزي او هر سړي ته
دې خپل کار وروسپاري چې څه شی یوسي. ۲۰ مګر قهاتیان باید
دننه لاړ نه شي چې مقدس شیان وګوري، حتیٰ د یوې شېبې دپاره
هم. که نه، نو مړه به شي.>

## د جرشونیانو وظیفې

۲۱ ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲۲ <د جرشونیانو
سرشمېرنه چې د لاویانو د قبیلې یوه برخه ده کورنۍ په کورنۍ او
طایفه په طایفه وکړه. ۲۳ هغه ټول نفر چې عمر یې د دېرشو کالو
څخه تر پنځوسو کالو پورې وي او په مقدسه خېمه کې د کار کولو
توان ولري وشمېره. ۲۴ هغوی به د لاندینیو شیانو د وړلو مسئولیت
په غاړه لري: ۲۵ خېمه، د هغې داخلي او بیروني پوښ، د هغې په
سر باندې د ښې څرمنې پوښ، د دروازې پرده، ۲۶ د خېمې او د
قربانۍ د ځای د ګردچاپېره حویلۍ دپاره پردې، د حویلۍ د دروازې
پرده، رسۍ ګانې او هرڅه چې د دې شیانو په وړلو کې په کارېږي.
جرشونیان د دې ټولو شیانو د ساتنې او ترتیبولو مسئولیت په غاړه
لري. ۲۷ ته او هارون به وګورئ چې جرشونیان دا ټول کارونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترسره کوي او هر هغه شی چې هارون او د هغه زامنو هغوی ته
ورسپارلی دی وړي که نه. ٢٨ دا د مقدسې خېمې په کار کې د
جرشونیانو وظیفې دي. هغوی به دا کار د هارون کاهن د زوی یعنې
ایتامار تر لارښودنې لاندې ترسره کوي.>

## د مراریانو وظیفې

٢٩ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <مراریان چې د لاویانو د
قبیلې یوه برخه ده طایفه په طایفه او کورنۍ په کورنۍ وشمېره. ٣٠
هغه ټول نفر چې عمر یې د دېرشو کالو څخه تر پنځوسو کالو پورې
وي او په مقدسه خېمه کې د کار کولو توان ولري وشمېره. ٣١
هغوی به د چوکاټونو، اړمونو، ستنو او خېمې د پایو د وړلو مسئولیت
ولري ٣٢ او همدارنګه د خېمې د ګردچاپېره حویلۍ د ستنو، پایو،
مېخونو، رسۍګانو او هغو ټولو شیانو چې د هغو په ودرولو کې په
کارېږي. هر سړی به د ځانګړو شیانو د وړلو مسئولیت په غاړه
ولري. ٣٣ دا د مقدسې خېمې په کار کې د مراریانو وظیفې دي.
هغوی به دا کار د هارون کاهن د زوی یعنې ایتامار تر لارښودنې
لاندې ترسره کوي.>

## د لاویانو سرشمېرنه

٣٤-٤٨ حضرت موسیٰ، حضرت هارون او د اسراییلو نورو
مشرانو د څښتن امر ته غاړه کېښودله او د قهاتیانو، جرشونیانو او
مراریانو سرشمېرنه یې وکړه. هغوی دا کار طایفه په طایفه او کورنۍ
په کورنۍ وکړ او هغه ټول خلک یې وشمېرل چې عمرونه یې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دېرشو او پنځوسو کالو ترمنځ وو او په مقدسه خېمه کې يې کار کولی
شو. د هغو شمېر په لاندې ډول ؤ: قهاتيان ۲۷۵۰، جرشونيان ۲۶۳۰
او مراريان ۳۲۰۰ چې د ټولو شمېر ۸۵۸۰ ؤ.

۴۹ څنګه چې څښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړې ؤ، هر
سړی وشمېرل شو او هر يو ته د خدمت کولو يا د وړلو د وظيفې
مسئوليت وسپارل شو.

## د کمپ پاکوالی

۵ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲ <د اسراييلو په
قوم باندې امر وکړه چې هرڅوک چې د پوستکي په ساري ناروغی
باندې اخته وي يا د بدن څخه يې زوه راوزي او هغه څوک چې په
مړي باندې لګېدلی وي او ناپاک شوی وي د کمپ څخه وشړي.
۳ دا ټول ناپاکه خلک که هغه ښځې وي يا نارينه بيرون وباسئ،
ترڅو هغه کمپ چې زه په کې د خپل قوم په منځ کې اوسېږم ناپاکه
نه کړي.> ۴ اسراييليانو همداسې وکړل. هغوی يې ټول له کمپ
څخه وشړل. لکه څنګه چې څښتن حضرت موسیٰ ته لارښودنه
کړې وه، هغوی هماغسې وکړل.

## د جرم کولو دپاره تاوان

۵ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل ۶ چې د اسراييلو قوم
ته داسې ووايي: <که چېرې يو سړی يا يوه ښځه د يو چا په مقابل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې جرم وکړي دا به زما په مقابل کې ګناه وي. ۷ هغه باید د
خپلې ګناه اقرار وکړي او هغه نفر ته چې د هغه په مقابل کې يې جرم
کړی دی پوره تاوان ورکړي او شل فيصده دې زيات هم ورکړي.
۸ مګر که چېرې هغه نفر مړ شوی وي او نژدې خپلوان چې
تاوان ورته ورکول کېدای شي ونلري، هغه به د کاهن په خاطر څښتن
ته ورکړل شي. د دې بيې له ورکولو څخه علاوه بايد يو پسه هم
ورکړل شي چې د هغه نفر د کفارې په ادا کولو کې ورڅخه کار
واخيستل شي. ۹ ټولې مقدسې اعانې چې اسراييليان يې کاهن ته
راوړي د هغه دي. ۱۰ هر کاهن دې هغه نذرانې وساتي چې ورته
ورکول کيږي.>

## يو شکمن مېړه

۱۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل ۱۲-۱۴ چې اسراييليانو
ته دا لاندينی لارښودنې وکړي: کېدای شي داسې وشي چې يو سړی
شکمن شي چې ښځې يې ورسره بې وفايي کړې ده او د بل سړي
سره يې زنا کړې ده او په دې کار يې خپل ځان ناپاکه کړی دی. مګر
ښايي چې د مېړه سره يې کوم ثبوت نه وي، ځکه کېدای شي چې د
هغه ښځې دا خبره پټه ساتلې وي، هلته هيڅ شاهد نه ؤ او هغه په
دې عمل باندې نه وي نيول شوې. يا کېدای شي چې يو مېړه په
خپلې ښځې باندې شکمن شي، که څه هم هغې به بې وفايي نه وي
کړې. ۱۵ په دواړو حالاتو کې به سړی خپله ښځه کاهن ته ورولي.
هغه سړی دې د هغې په خاطر يو کيلوګرام د اوربشو د اوړو نذرانه
هم يوسي، مګر په هغې باندې دې د زيتونو تېل يا خوشبويي نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اچوي، ځکه چې دا نذرانه د يو شکمن مېړه له خوا د دې دپاره
تيارېږي چې حقيقت معلوم شي.

۱۶ کاهن به هغه ښځه راولي او د څښتن د قربانګاه مخې ته به يې
ودروي. ۱۷ هغه به لږې مقدسې اوبه د خټو په يوې کاسې کې
واچوي او د مقدسې خېمې د غولي څخه به لږه خاوره واخلي او په
اوبو کې به يې واچوي چې اوبه ترخې شي. ۱۸ بيا به هغه د ښځې
ويښتان خپاره کړي او د اوړو نذرانه به د هغې په لاسونو کې کېږدي.
کاهن به په خپلو لاسونو کې هغه کاسه ونيسي چې هغه ترخې اوبه په
کې دي چې په ګناهکارانو باندې د څښتن لعنت راولي. ۱۹ بيا به
کاهن په هغې ښځې باندې هغه قسم ومني چې هغه يې ورکوي او
داسې به ووايي: <که چېرې تا زنا نه وي کړې، هغه لعنت به درته
زيان ونه رسوي چې دغه اوبه يې راولي. ۲۰ مګر که زنا دې کړې
وي، ۲۱ څښتن دې تا شنډه کړي او ستا ګېډه دې وپړسوي او په
دې ډول دې ستا نوم په خپل قوم کې لعنتي کړي. ۲۲ دغه اوبه دې
ستا په ګېډه کې ننوزي او هغه دې وپړسوي او تا دې شنډه کړي.>

ښځه بايد په ځواب کې داسې ووايي: <منم، څښتن دې همداسې
وکړي.>

۲۳ بيا به کاهن دغه لعنت په يو کاغذ باندې وليکي او هغه دې په
ترخو اوبو کې ومينځي. ۲۴ مخکې له دې چې په ښځې باندې هغه
اوبه وڅښي چې په هغې باندې سخت درد راوستلی شي، ۲۵ کاهن
به د اوړو نذرانه د ښځې د لاسونو څخه واخلي او هغه دې څښتن ته
د وقف کولو په خاطر پورته ونيسي او د قربانۍ ځای ته دې راوړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ بیا به له هغې څخه یو موټی د نذرانې د یوې برخې په توګه
واخلي او په قربانګاه باندې به یې وسوزوي. په آخر کې به په ښځې
باندې هغه اوبه وڅښي. ۲۷ که چېرې هغې زنا کړې وي نو اوبه به
سخت درد ورباندې راولي. د هغې ګېډه به وپړسېږي او هغه به شنډه
شي او نوم به یې په خپل قوم کې لعنتي شي. ۲۸ مګر که چېرې
هغه ښځه بې ګناه وي، نو زیان به ورته ونه رسېږي او اولادونه به
وزېږولی شي.

۲۹-۳۰ دا قانون د هغو حالاتو دپاره دی چې یو سړی غیرتي
وي او په خپلې ښځې باندې داسې شکمن شي چې هغې زنا کړې ده.
ښځه به د څښتن د قربانګاه مخې ته ودرول شي او کاهن به دغه
مراسم سرته ورسوي. ۳۱ که چېرې مېړه په حقه نه وي نو سزا به
ورته نه ورکول کېږي، مګر که چېرې ښځه قصورواره وي نو سزا به
ورته ورکړل شي.

## د نذر ورکوونکو دپاره مقررات

۶ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل ۲ چې د اسراییلو
قوم ته داسې ووایې: «که چېرې ستاسو څخه څوک که هغه نر وي
یا ښځه غواړي چې د خاص نذر په ورکولو سره خپل ځان ما څښتن
ته وقف کړي، ۳ نور باید شراب یا بیر ونه څښي او نه دې کوم
ډول سرکه استعمال کړي. د انګورو شربت دې نه څښي، انګور یا
ممیز دې نه خوري. ۴ ترڅو پورې چې هغه وقف شوی وي باید
کوم شی چې د انګورو څخه جوړېږي ونه خوري، حتیٰ تخمونه او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوستکي يې هم ونه خوري.

۵ ترخو پورې چې هغه وقف شوی وي، بايد خپل ويښتان کم نه
کړي او خپله ږيره ونه خرايي. په هغه ټوله موده کې چې هغه څښتن
ته وقف شوی وي، بايد نذر ورکړي او خپل ويښتان پرېږدي چې
لوی شي. ۶-۷ د هغه ويښتان خدای ته د هغه د وقف کېدلو
نښه ده، نو هغه بايد خپل ځان مړي ته په ورنږدې کېدلو سره ناپاک
نه کړي، که څه هم هغه د هغه د پلار، د هغه د مور، د هغه د ورور يا
د خور مړی وي. ۸ ترخو پورې چې هغه نذر ورکوي، هغه به
څښتن ته وقف وي.

۹ که چېرې د هغه وقف شوي ويښتان يو چاته په ورنږدې کېدلو
سره چې يوناځاپه مړ شي ناپاک شي، هغه بايد اووه ورځې صبر
وکړي او بيا خپل سر وخرايي نو هغه به په مذهبي لحاظ پاک شي.
۱۰ په اتمه ورځ به هغه نفر دوه کوترې يا دوه قمري ګانې د
مقدسې خېمې دروازې ته کاهن ته راوړي. ۱۱ کاهن به يو مارغه د
ګناه د نذرانې په توګه او بل به د سوزېدونکې نذرانې په توګه وړاندې
کړي چې د هغه دپاره کفاره ادا کړي ځکه چې هغه مړي ته په
ورنږدې کېدلو سره ګناه کړې ده. هغه دې په هماغه ورځ د خپلو
ويښتانو د پاکولو مراسم ترسره کړي. ۱۲ نو څښتن ته دې هغه نفر
خپل وخت بيا وقف کړي. تېرې شوې ورځې نه حسابيږي، ځکه چې
د هغه مقدس ويښتان ناپاکه شول. هغه بايد د تاوان د نذرانې په توګه
يو يو کلن وری راوړي.

۱۳ کله چې هغه نفر خپله هغه موده پوره کړي چې هغه په کې دا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وعده کړې وي ده چې نذر به ورکوي، باید دا مراسم سرته ورسوي. د
مقدسې خېمې دروازې ته به ورشي ۱۴ او څښتن ته دې درې
داسې حیوانات وړاندې کړي چې کوم عیب په کې نه وي، یعنې یو یو
کلن وری د سوزېدونکې نذرانې دپاره، یوه یو کلنه مېږه د ګناه د
نذرانې دپاره او یو پسه د سلامتۍ د نذرانې دپاره. ۱۵ هغه دې یوه
ټوکرۍ فطیره ډوډۍ هم وړاندې کړي یعنې پنډې ډوډۍ چې د داسې
ښو اوړو څخه تیارې شوې وي چې د زیتونو تېل ورسره ګډ وي او
داسې نرۍ ډوډۍ چې تېل ورباندې موښل شوي وي او د غلې دانې
او د څښلو نذرانې هم باید ورسره وي.

۱۶ کاهن به دا ټول څښتن ته حاضر کړي او د ګناه نذرانه او
سوزېدونکې نذرانه دې وړاندې کړي. ۱۷ هغه به پسه د سلامتۍ د
نذرانې په توګه څښتن ته قرباني کړي او هغه به د ډوډۍ د ټوکرۍ
سره وړاندې کړي، همدارنګه هغه به د غلې دانې او څښلو نذرانې هم
وړاندې کړي. ۱۸ له هغې وروسته به هغه نفر د مقدسې خېمې د
دروازې په خوله کې ودرېږي، خپل سر به وخرایي او وېښتان به په
هغه اور کې واچوي په کوم باندې چې د سلامتۍ نذرانه سوزول
کېږي.

۱۹ کله چې د پسه د اوږې غوښه وایشول شوه، کاهن به هغه
واخلي او د ټوکرۍ د یوې پنډې ډوډۍ او یوې نرۍ ډوډۍ سره به یې
د هغه نفر په لاسونو کې کېږدي. ۲۰ هغه به یې بېرته کاهن ته
ورکړي او کاهن به یې ما څښتن ته د وقف کولو دپاره پورته ونیسي.
بیا کاهن کولی شي چې د پسه د اوږې غوښه، سینه او د هغه شاتنۍ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پښنه وخوري ځکه چې دا د نذرانې څخه د هغه برخه ده. له دې
وروسته به هغه نفر نور نذر نه ورکوي او ازادانه شراب څښلی شي.

21 دا قانون د هغو خلکو دپاره دی چې نذر ورکوي. که چېرې
کوم نفر وعده کړې وي چې څښتن ته برسېره په هغو شیانو چې هغه
یې په عادي حالت کې ورکوي کوم بل شی د نذر په توګه ورکړي، نو
هغه دې د خپلې وعدې سره سم خپل خاص نذر ورکړي.>

## د کاهنانو له خوا د خلکو دپاره برکت

22 څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: 23 <کله چې هارون او
د هغه زامن د اسراییلو قوم ته برکت ورکوي، هغوی باید داسې
ووایي:

24 څښتن دې برکت درکړي

او تاسو دې وساتي

25 هغه دې په تاسو باندې رحم

او مهرباني وکړي

26 څښتن دې درسره ښه وکړي

او تاسو ته دې سلامتیا درکړي>

27 بیا څښتن وفرمایل: <که چېرې هغوی زما په نوم د اسراییلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په قوم باندې برکت وايي، زه به هغوی ته برکت ورکړم.>

## د اسراييلو مشران مقدسې خېمې ته سوغاتونه راوړي

۷ ۱ کله چې حضرت موسیٰ د مقدسې خېمې د ودرولو څخه
وزګار شو، نو خېمه او د هغې ټول سامان او د قربانۍ ځای او د هغه
ټول سامان يې مسح کړ او هغه يې څښتن ته وقف کړ. ۲ بيا د
اسراييلو دولس قبيلوي مشران يعنې هماغه نفر چې د خلکو د
سرشمېرنې مشري يې په غاړه وه مقدسې خېمې ته ۳ د هغو
سوغاتونو سره راغلل چې د څښتن دپاره وو. هغوی شپږ ګاډۍ ګانې
او دولس غوايان راوړل، هر مشر يو يو غويی او دوو مشرانو يوه يوه
ګاډۍ راوستله.

۴ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۵ <دا سوغاتونه د
هغوی څخه قبول کړه چې د مقدسې خېمې په کار کې ورڅخه ګټه
واخيستل شي او هغه لاويانو ته د هغه کار دپاره ورکړه چې هر يو
يې په مقدسه خېمه کې اجرا کوي.> ۶ نو حضرت موسیٰ
ګاډۍ ګانې او غوايان واخيستل او هغه يې لاويانو ته ۷-۸ چې
د حضرت هارون د زوی ايتامار تر مشرۍ لاندې وو ورکړل. حضرت
موسیٰ جرشونيانو ته د هغوی د کار دپاره دوه ګاډۍ ګانې او څلور
غوايان ورکړل او څلور ګاډۍ ګانې او اته غوايان يې مراريانو ته د
هغوی د کار دپاره ورکړل. ۹ مګر قهاتيانو ته يې هيڅ ورنه کړل،
ځکه چې هغوی د هغو مقدسو شيانو مسوولان وو چې بايد په خپلو
اوږو باندې يې يوسي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٠ کله چې د قرباني ځای مسح کړای شو، مشرانو خپلې نذرانې د
هغه د وقف کولو دپاره راوړلې او هغه يې د قرباني د ځای په مخ کې
وړاندې کړې. ١١ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <مشرانو ته
ووايه چې تر دولسو ورځو پورې دې يو يو مشر هره ورځ خپله
نذرانه د قربانۍ د ځای د وقف کولو دپاره راوړي.>

١٢-٨٣ نو هر مشر دا لاندېنې سوغاتونه راوړل:

د سپينو زرو يو پيشقاب چې وزن يې يونيم کيلوګرام ؤ او د وينې د شيندلو دپاره د سپينو زرو يوه کاسه چې وزن يې اته سوه ګرامه ؤ. دواړه د ښو اوړو او زيتونو د تېلو څخه ډک وو، دا د غلې دانې د نذرانې په توګه وو او وزن يې د مقدس ځای د اندازې په مطابق ؤ:

– د خوشبويۍ څخه ډک د سرو زرو يو پيشقاب چې وزن يې يوسلو لس ګرامه ؤ
– يو ځوان غويی، يو پسه او يو يو کلن وری د سوزېدونکې نذرانې په توګه
– يو وز د ګناه د نذرانې په توګه
– او د سلامتۍ د نذرانې په توګه دوه غوايان، پنځه پسونه، پنځه وزان او پنځه وري چې هر يو يو کلن ؤ.

قبيلوي مشرانو خپل سوغاتونه او نذرانې په لاندېنې ترتيب سره راوړلې:

په اوله ورځ د يهودا د قبيلې څخه نحشون د عميناداب زوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دوهمه ورځ د یساکار د قبیلې څخه نتنائیل د صوغر زوی
په دریمه ورځ د زبولون د قبیلې څخه الیاب د حیلون زوی
په څلورمه ورځ د روبین د قبیلې څخه الیصور د شدیئور زوی
په پنځمه ورځ د شمعون د قبیلې څخه شلومیئیل د صوریشدای زوی
په شپږمه ورځ د جاد د قبیلې څخه الیاساف د دعوئیل زوی
په اوومه ورځ د افرایم د قبیلې څخه الیشمع د عمیهود زوی
په اتمه ورځ د منسي د قبیلې څخه جملیئیل د فدهصور زوی
په نهمه ورځ د بنیامین د قبیلې څخه ابیدان د جدعوني زوی
په لسمه ورځ د دان د قبیلې څخه اخیعزر د عمیشدای زوی
په یوولسمه ورځ د اشیر د قبیلې څخه فجعیئیل د عکران زوی
په دولسمه ورځ د نفتالي د قبیلې څخه اخیرع د عینان زوی.

۸۴-۸۸ په دې ډول کله چې د قربانۍ ځای مسح او ښبنتن ته وقف کړای شو، دغو دولسو مشرانو دا لاندیني سوغاتونه راوړل:

– دولس د سپینو زرو قابونه او دولس د سپینو زرو کاسې چې د وینې د شیندلو دپاره وې او د ټولو وزن د مقدس ځای د اندازې په مطابق اته ویشت کیلوګرامه ؤ.
– دولس د سرو زرو پشقابونه چې وزن یې یونیم کیلوګرامه ؤ او د خوشبویۍ څخه ډک وو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

– دولس غوایان، دولس پسونه او دولس یو کلن وري د غلو دانو د نذرانو سره د سوزېدونکو نذرانو په توګه.

– دولس وزان د ګناه د نذرانو په توګه.

– څلورویشت غوایان، شپېته پسونه، شپېته وزان او شپېته یو کلن وري د سلامتۍ د نذرانو په توګه.

۸۹کله به چې حضرت موسیٰ غوښتل چې د څښتن سره خبرې وکړي نو مقدسې خېمې ته به ورننوت. هلته به هغه د دوو کروبیانو له منځ څخه د کفارې د پوښ دپاسه چې د لوظ په صندوق باندې پروت ؤ، د څښتن غږ اورېده چې د هغه سره یې خبرې کولې.

## د څراغونو اېښودل

۸ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ <هارون ته ووایه چې په څراغدان باندې اووه څراغونه داسې کېږدي ترڅو د څراغدان مخې ته رڼا ورکړي.> ۳ حضرت هارون دا خبره ومنله او لکه څنګه چې ورته ویل شوي وو، څراغونه یې هماغسې کېښودل. ۴ څراغدان د سر څخه نیولې تر پایې پورې د ټکول شویو سرو زرو څخه جوړ شوی ؤ او کټ مټ د هغې نقشې په مطابق ؤ لکه څنګه چې څښتن حضرت موسیٰ ته ښودلې وه.

## د لاویانو پاکول او وقف کول

۵ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۶ <لاویان د اسراییلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له پاتې قوم څخه جدا کړه او پاک يې کړه. ۷ د دې دپاره چې
هغوی پاک کړې نو داسې وکړه: په هغوی باندې پاکوونکې اوبه
وشينده او ورته ووايه چې د خپل بدن ټول ويښتان وخرايي او خپل
کالي ومينځي. نو هغوی به پاک شي. ۸ هغوی دې يو ځوان غويی
او د غلې دانې هغه نذرانه راوړي چې د ښو اوړو څخه جوړه شوې
وي او د زيتونو تېل ورسره ګډ وي. بل غويی دې د ګناه د نذرانې په
توګه راولي. ۹ بيا به د اسراييلو ټول قوم راوغواړې او لاويانو ته
به ووايې چې د مقدسې خېمې مخې ته لاړ شي. ۱۰ هلته به زما په
حضور کې قوم خپل لاسونه د لاويانو په سرونو باندې کېږدي. ۱۱
هارون به لاويان د قوم له خوا د يو خاص سوغات په توګه ماته
وړاندې کړي، ترڅو هغوی زما خدمت وکړي.

۱۲ له هغې وروسته دې لاويان خپل لاسونه د غوايانو په سرونو
باندې کېږدي. بيا به يو غويی د ګناه د نذرانې په توګه قرباني شي او
بل د سوزېدونکې نذرانې په توګه، ترڅو د لاويانو دپاره کفاره ادا
شي. ۱۳ لاويان د يو خاص سوغات په توګه ماته وقف کړه او
هارون او د هغه زامن د هغوی مشران کړه. ۱۴ په دې ډول به
لاويان د نورو اسراييليانو څخه جدا کړې او هغوی به زما شي. ۱۵
وروسته له هغې چې تا لاويان پاک او وقف کړل، بيا به هغوی ته
اجازه ورکړل شي چې په مقدسه خېمه کې کار وکړي. ۱۶ لاويان
يوازې زما دي او هغوی مې د اسراييلو د ټولو مشرانو زامنو په ځای
قبول کړي دي. ۱۷ کله چې ما د مصريانو مشران زامن او اولنې
زېږېدلي حيوانات ووژل، دا پرېکړه مې وکړه چې په هرې اسراييلي
کورنۍ کې مشران زامن او د هغوی د رمو او پادو څخه هر اولنی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زېږېدلی نر حيوان به زما وي. ۱۸ مګر اوس ما د اسراييلو د ټولو
مشرانو زامنو په ځای لاويان انتخاب کړي دي. ۱۹ د ټولو
اسراييليانو څخه مې لاويان هارون او د هغه زامنو ته د سوغاتونو په
توګه ورکړي دي چې په مقدسه خېمه کې د قوم په خاطر کار وکړي
او د هغوی دپاره کفاره ادا کړي، ترڅو کله چې اسراييليان مقدس
ځای ته ورنږدې کيږي، په هغوی باندې کوم آفت رانه شي.>

۲۰ لکه څنګه چې څښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ، نو
حضرت موسیٰ، حضرت هارون او د اسراييلو ټول قوم لاويان وقف
کړل. ۲۱ لاويانو خپل ځانونه پاک کړل او خپل کالي يې ومينځل
او حضرت هارون هغوی د يو خاص سوغات په توګه څښتن ته وقف
کړل او د هغوی د پاکوالي دپاره يې کفاره ادا کړه. ۲۲ له دې
وروسته لکه څنګه چې څښتن امر کړی ؤ، لاويانو د حضرت هارون
او د هغه د زامنو د مرستيالانو په توګه په مقدسه خېمه کې کار کاوه.

۲۳ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲۴-۲۵ <هغه لاويان
چې عمر يې د پنځه ويشتو او پنځوسو کالو ترمنځ وي کولی شي چې
په مقدسه خېمه کې کار وکړي. مګر څنګه چې د پنځوسو کالو څخه
يې عمر زيات شي نور بايد کار ونه کړي. ۲۶ هغوی کولی شي چې
د مقدسې خېمې په وظيفو کې د نورو لاويانو سره مرسته وکړي مګر
په خپله بايد د کوم کار مسئوليت په غاړه ونلري. په دې ډول لاويانو
ته وظيفې وسپاره.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د فسحې دوهم اختر

٩ ١ د دوهم کال په اوله میاشت وروسته له دې چې د اسرایيلو
قوم د مصر څخه راووت، ښبنتن د سینا په دښته کې د حضرت
موسیٰ سره خبرې وکړې. هغه وفرمایل: ٢-٣ <د اسرایيلو قوم
باید د فسحې اختر په ټاکل شوي وخت یعنې د دې میاشتې په
څوارلسمه ورځ د لمرپرېواته په وخت د دې اختر د ټولو قوانینو او
مقرراتو په مطابق ولمانځي.> ٤ نو حضرت موسیٰ قوم ته
وفرمایل چې د فسحې اختر ولمانځي ٥ او هغوی دا کار د اولې
میاشتې د څوارلسمې ورځې په ماښام د سینا په دښته کې وکړ. قوم
هرڅه هماغه شان وکړل لکه څنګه چې ښبنتن په حضرت موسیٰ
باندې امر کړی ؤ.

٦ مګر ځینې خلک په مذهبي لحاظ ناپاک وو ځکه چې د هغوی
لاسونه په مړي باندې لګېدلي وو او هغوی ونه شو کولی چې په هغه
ورځ د فسحې اختر ولمانځي. نو حضرت موسیٰ او حضرت هارون
ته ورغلل ٧ او ویې ویل: <مونږ ناپاک یو ځکه چې زمونږ
لاسونه په مړي باندې لګېدلي دي، مګر ولې نه شو کولی چې د
فسحې اختر ولمانځو او د نورو اسرایيلیانو سره په یو وخت ښبنتن
ته نذرانې وړاندې کړو؟>

٨ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمایل: <صبر وکړئ چې زه
په دې باندې ځان پوه کړم چې ښبنتن ستاسو په باره کې څه حکم
کوي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ بیا ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل چې ١٠ د اسراییلو
خلکو ته ووایي: <که چېرې تاسو یا ستاسو له اولادې څخه څوک
په مړي باندې په لګېدلو سره ناپاک شوی وي او یا په لېرې سفر کې
وي، خو وغواړي چې د فسحې اختر ولمانځي، ١١ نو هغه دې د
دوهمې میاشتې د څوارلسمې ورځې په ماښام یعنې یوه میاشت
وروسته ولمانځي. هغه دې د فسحې وری د فطیرې ډوډۍ او ترخو
بوټو سره وخوري. ١٢ له هغه څخه دې هیڅ شی تر سهاره پورې
نه پرېږدي او د حیوان هیڅ یو هډوکی دې نه ماتوي. کله چې هغه د
فسحې اختر لمانځي، باید د دغو ټولو مقرراتو څخه پیروي وکړي.
١٣ مګر که چېرې ستاسو څخه څوک په مذهبي لحاظ پاک وي او
په سفر کې نه وي او د فسحې اختر نه لمانځي، هغه باید زما د قوم
څخه وشړل شي. هغه ته به سزا ورکړل شي ځکه چې ماته یې په
ټاکلي وخت نذرانې نه دي وړاندې کړې.

١٤ که چېرې هغه بېګانه خلک چې ستاسو په منځ کې اوسېږي
وغواړي چې د فسحې اختر ولمانځي، باید د ټولو قوانینو او مقرراتو
په مطابق یې ولمانځي. همدغه قانون په هرچا باندې که هغه اصلي
اوسېدونکی وي یا بېګانه وي عملي کېږي.>

## د مقدسې خېمې دپاسه وریځ

(هجرت ۴۰: ۳۴ – ۳۸)

١٥-١٦ په هغه ورځ چې مقدسه خېمه ودرول شوه، یوه وریځ
راغله او خېمه یې پټه کړه. وریځ به هره ورځ هلته وه او د شپې له
خوا به د اور په شان ښکاره کېدله. ١٧ هرکله چې به وریځ د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خېمې څخه پورته شوه نو اسراييليان به روان شول. کله به چې ورېځ
راکوزه شوه، هغوی به خېمې ودرولې. ١٨ قوم د څښتن په امر
حرکت کاوه او د هغه په امر به يې خېمې ودرولې. تر هغه وخته
پورې چې په خېمه باندې به ورېځ وه، هغوی به په هماغه کمپ کې
پاتې کېدل. ١٩ کله چې به ورېځ په خېمې باندې تر ډېره وخته
پورې پاتې کېدله، هغوی د څښتن اطاعت کاوه او کډه يې نه کوله.
٢٠ کله کله به ورېځ په خېمې باندې يوازې د يو څو ورځو دپاره
پاتې کېدله، په هر حال کې به هغوی د څښتن د امر په مطابق په
کمپ کې پاتې کېدل يا به يې کډه کوله. ٢١ کله کله ورېځ يوازې د
ماښام څخه تر سهاره پورې پاتې کېدله، څنګه به چې ورېځ پورته
شوه هغوی به کډه کوله. هرکله چې ورېځ پورته کېدله، هغوی کډه
کوله. ٢٢ که دا به دوه ورځې، يوه مياشت يا به ډېره موده وه ترڅو
چې په خېمې باندې به ورېځ وه هغوی کډه نه کوله. مګر کله چې
ورېځ پورته کېدله، هغوی به کډه کوله. ٢٣ هغوی به د څښتن په
امر خېمې ودرولې او د هغه په امر به يې حرکت کاوه. هغوی د
څښتن د حکمونو څخه چې د حضرت موسیٰ په وسيله يې کول،
اطاعت کاوه.

## د سپينو زرو سرنې

١٠ ١ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ٢ >د ټکول
شويو سپينو زرو څخه دوه سرنې جوړې کړه. له هغو څخه به د خلکو
د راغونډولو او د کمپ د لېږې کولو دپاره کار اخيستل کيږي. ٣
کله چې دواړه سرنې په اوږد اواز سره ووهل شي، ټول قوم دې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقدسې خېمې د دروازې په خوله کې تاته راغونډ شي. ۴ که
چېرې يو سرنی ووهل شي، يوازې د قبيلو مشران دې درته راغونډ
شي. ۵ کله چې هغه په لنډ اواز سره ووهل شي، کومې قبيلې چې
په ختيځ کې کمپ لري، هغه به حرکت کوي. ۶ کله چې هغه د
دوهم ځل دپاره په لنډ اواز سره ووهل شي، کومې قبيلې چې په
جنوب کې دي، هغه به حرکت کوي. نو هغه دې په لنډ اواز سره
ووهل شي د دې دپاره چې کمپ ته حرکت ورکړای شي. ۷ مګر
د دې دپاره چې ټول خلک راغونډ شي، هغه دې په اوږده اواز سره
ووهل شي. ۸ د هارون زامن چې کاهنان دي، سرني دې ووهي.
دا قانون بايد د همېش دپاره ستاسو او ستاسو د راتلونکو نسلونو له
خوا مراعت شي. ۹ کله چې تاسو په خپله خاوره کې جنګېږئ او
د هغو دښمنانو په مقابل کې چې په تاسو باندې يې حمله کړې ده د
خپلو ځانونو څخه دفاع کوئ، نو په دې سرنيو باندې د جګړې دپاره
اشاره ورکړئ. زه يعنې ستاسو څښتن خدای به ستاسو سره مرسته
وکړم او د خپلو دښمنانو څخه به مو وژغورم. ۱۰ همدارنګه د
خپلې خوشالۍ په وختونو کې، ستاسو د نوې مياشتې په اخترونو او
په نورو اخترونو کې کله چې تاسو سوزېدونکې او د سلامتۍ نذرانې
وړاندې کوئ بايد سرني ووهئ. بيا به زه درسره مرسته وکړم. زه
ستاسو څښتن خدای يم.>

## اسراييليان د سينا څخه ځي

۱۱ د دوهم کال د دوهمې مياشتې په شلمه ورځ يعنې وروسته له
دې چې اسراييليان د مصر څخه راووتل، هغه ورېځ چې په مقدسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خېمې باندې ولاړه وه پورته شوه. ١٢ نو اسراييليان د سينا له
دښتې څخه روان شول او د يو ځای څخه يې بل ځای ته سفر کاوه
ترڅو چې وريځ د فاران په دښته کې ودرېدله. ١٣ دا اول ځل ؤ
چې ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل چې د اسراييلو په قوم باندې
امر وکړي چې حرکت وکړي.

١٤ هغه کمپ چې د يهودا قبيلې يې مشري کوله، د خپل بيرغ
لاندې د عميناداب د زوی نحشون په مشرۍ اول حرکت وکړ. ١٥
نتنائيل د صوغر زوی د يساکار د قبيلې مشر ؤ ١٦ او الياب د
حيلون زوی د زبولون د قبيلې مشر ؤ.

١٧ بيا مقدسه خېمه راټوله کړای شوه او جرشونيانو او مراريانو
چې هغه يې وړله، حرکت وکړ.

١٨ وروسته هغه کمپ چې د روبين قبيلې يې مشري کوله، د خپل
بيرغ لاندې د شديئور د زوی اليصور په مشرۍ حرکت وکړ. ١٩
شلوميئيل د صوريشدای زوی د شمعون د قبيلې مشر ؤ ٢٠ او
الياساف د دعوئيل زوی د جاد د قبيلې مشر ؤ.

٢١ د هغوی پسې قهاتيانو چې د لاويانو د طايفو څخه وو حرکت
وکړ او مقدس شيان يې وړل. کله چې هغوی بل کمپ ته ورسېدل،
خېمه ودرول شوې وه.

٢٢ وروسته هغه کمپ چې د افرايم قبيلې يې مشري کوله، د خپل
بيرغ لاندې د عميهود د زوی اليشمع په مشرۍ حرکت وکړ. ٢٣

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جملئيل د فدهصور زوی د منسي د قبيلې مشر ؤ ۲۴ او ابيدان د
جدعوني زوی د بنيامين د قبيلې مشر ؤ.

۲۵ په آخره کې هغه کمپ چې د دان قبيلې يې مشري کوله او د
شا له خوا حملې په مقابل کې به يې د اسراييليانو ساتنه کوله د خپل
بيرغ لاندې د عميشدای د زوی اخيعزر په مشرۍ حرکت وکړ. ۲۶
فجعيئيل د عکران زوی د اشير د قبيلې مشر ؤ ۲۷ او اخيرع د
عينان زوی د نفتالي د قبيلې مشر ؤ. ۲۸ په دې توګه هرڅل چې
هغوی خپل کمپ د يو ځای څخه بل ځای ته وړه نو د اسراييلو
خلکو به حرکت کاوه.

۲۹ حضرت موسیٰ خپل د ښځې ورور حوباب ته چې د مدياني
يترون زوی ؤ، وفرمايل: <مونږ هغه ځای ته روان يو چې څښتن
فرمايلي دي چې هغه مونږ ته راکوي. هغه زمونږ سره دا وعده کړې
ده چې اسراييليان به خوشبخته کړي. نو زمونږ سره راشه او مونږ به
دا خوشبختي ستاسو سره شريکه کړو.>

۳۰ حوباب په ځواب کې وويل: <نه، زه نه ځم، زه بېرته خپل
وطن او خپلو خلکو ته ځم.>

۳۱ حضرت موسیٰ ورته وفرمايل: <مهرباني وکړه زمونږ سره لاړ
شه! ته به زمونږ لارښودونکی اوسې، ځکه چې په دښته کې د خېمو
د ودرولو ځايونه پېژنې. ۳۲ که چېرې ته زمونږ سره لاړ شې، مونږ
به درته د هغو ښو شيانو برخه درکړو چې څښتن يې مونږ ته
راکوي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## خلک سفر شروع کوي

۳۳ نو د اسراییلو قوم د سینا یعنې د مقدس غره څخه روان شو او
هغوی درې ورځې سفر وکړ. د څښتن د لوظ صندوق همېشه د
هغوی په مخ کې روان ؤ ترڅو د هغوی دپاره ځای پیدا کړي چې
خېمې په کې ودروي. ۳۴ څنګه به چې هغوی د هر کمپ څخه
حرکت کاوه، د څښتن وربځ به د ورځې له خوا د هغوی په سر باندې
ولاړه وه.

۳۵ هرکله به چې د لوظ صندوق روان شو، حضرت موسیٰ به
ویل: <ای څښتنه، خپل دښمنان دې خپاره واره کړه او هغوی چې
ستا څخه کرکه کوي په تېښته مجبور کړه!> ۳۶ او چې کله به د
لوظ صندوق ودرېد، حضرت موسیٰ به داسې دعا کوله: <ای څښتنه،
د اسراییلو د زرګونو، زرګونو خلکو سره نژدې اوسه.>

## اسراییلیان شکایت کوي

۱۱ ۱ د اسراییلو قوم د خپلو تکلیفونو په هکله شکایت کول
پیل کړل. کله چې څښتن د هغوی شکایت واورېد، هغه په قهر شو او
په قوم باندې یې اور نازل کړ. د هغوی په منځ کې اور بلېده او د
کمپ یوه څنډه یې له منځه یوړله. ۲ کله چې قوم حضرت موسیٰ
ته د مرستې دپاره زاري وکړه، هغه څښتن ته دعا وکړه او اور مړ شو.
۳ نو هغه ځای د تبعیره په نوم یاد شو، ځکه چې هلته د هغوی
په منځ کې د څښتن له خوا اور بل شوی ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## حضرت موسیٰ اویا تنه مشران ټاکي

۴ ځيني بېګانه خلک وو چې د اسراييليانو سره راغلي وو. د
هغوی غوښې ته ډېر سخت زړه کېده او حتیٰ په خپله اسراييليانو هم
په شکايت کولو پيل وکړ او ويې ويل: <کاشکي مونږ ته د خوراک
دپاره لږه غوښه وای! ۵ خومره ماهيان چې مونږ غوښتل په مصر
کې مو وړيا خوړلی شول او هلته بادرنګ، هندوانې، ګندنه، پياز او
هوږه هم وه. ۶ مګر دلته زمونږ اشتها له منځه لاړه، بغير له دې
من څخه مونږ بل هيڅ شی ونه ليد.>

۷ من د دنيا د تخم په شان ؤ، خو رنګ يې سپين بخن ؤ. ۸-
۹ هغه د شپې له خوا د پرخې سره يوځای په کمپ باندې اورېده.
په سهار کې به خلک ګرځېدل او هغه به يې راټولاوه، په مېچن کې به
يې ميده کاوه او يا به يې په اونګ کې ټکاوه او بيا به يې په لوښو کې
ايشاوه او ډوډی به يې ورڅخه تيارولې. خوند يې د هغې ډوډۍ په
شان ؤ چې د زيتونو په تېلو کې پخيږي.

۱۰ حضرت موسیٰ د هرې کورنۍ د خلکو ژړا چې هر يو د خپلې
خېمې د دروازې په خوله کې ولاړ ؤ او ژړل يې، واورېدله. څښتن
ډېر زيات په قهر شو او په دې باندې حضرت موسیٰ خفه شو. ۱۱
هغه څښتن ته وفرمايل: <خپل خدمتګار دې ولې د داسې تکليف
سره مخامخ کړی دی؟ ما څه کړي دي چې له ما څخه ناراضه شوی
يې او د ټول قوم پېټی دې زما په اوږو باندې ايښی دی؟ ۱۲ هغوی
ما نه دي پيدا کړي او نه مې هغوی زېږولي دي! ولې زما څخه
غواړې چې د يوې دايې په شان کار وکړم او هغوی لکه د ماشومانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په شان په ټوله لار کې په غېږ کې واخلم او هغه وطن ته يې بوځم
چې د هغوی د نيکونو سره دې وعده کړې وه؟ ۱۳ هغوی ماته
ژاړي چې مونږ ته غوښه راکړه چې ويې خورو. د دې ټول قوم دپاره
غوښه له کوم ځای شخه راپيدا کړم؟ ۱۴ دا کار زما دپاره ډېر
سخت دی. زه يوازې څنګه کولی شم چې د دغو ټولو خلکو
مسئوليت په غاړه واخلم؟ ۱۵ که چېرې ته زما سره دا ډول رويه
کوې، نو په ما باندې رحم وکړه او همدا اوس مې مړ کړه او دا بدبخته
ژوند مې پای ته ورسوه!>

۱۶ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <اويا تنه عزتمن خلک
چې د قوم د مشرانو په توګه پېژندل شوي وي راغونډ کړه. هغوی
ماته مقدسې خېمې ته راوله او ورته ووايه چې ستا په څنګ کې
ودرېږي. ۱۷ زه به درکوز شم او هلته به ستا سره خبرې وکړم او د
هغه روح څخه به چې تاته مې درکړی دی لږ واخلم او هغوی ته به
يې ورکړم. بيا هغوی کولی شي چې ستا سره د دغو خلکو دپاره د
مسئوليت په درلودلو کې مرسته وکړي او ته به مجبور نه يې چې
يوازې ته دا مسئوليت په غاړه واخلې. ۱۸ اوس قوم ته ووايه: د
سبا دپاره خپل ځانونه پاک کړئ، تاسو به غوښه وخورئ. څښتن
اورېدلي دي چې تاسو فرياد کوئ او وايئ چې کاشکې زمونږ سره
لږه غوښه وای او مونږ په مصر کې ډېر ښه وو. اوس به څښتن تاسو
ته غوښه درکړي او تاسو به يې وخورئ. ۱۹ تاسو به هغه يوازې
يوه، دوه، پنځه، لس يا حتیٰ شل ورځې نه، ۲۰ بلکه پوره يوه
مياشت به يې وخورئ ترڅو ستاسو د سپږمو څخه راووزي او زړه
مو ورڅخه تور شي. داسې به وشي، ځکه چې تاسو د څښتن څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ستاسو په منځ کې حاضر دی منکر شوي يئ او دا شکايت مو
کړی دی چې بايد هيڅکله له مصر څخه وتلي نه وای.>

٢١ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمايل: <دلته زما سره لږ تر
لږه شپږ لکه نفره دي. نو څنګه فرمايلی شي چې د هغوی دپاره به دا
غوښه پوره يوه مياشت کفايت وکړي؟ ٢٢ حتیٰ که چېرې ټولې
رمې او پادې هم حلالې شي يا د درياب ټول ماهيان هم ونيول شي،
د هغوی دپاره به کفايت ونه کړي.>

٢٣ څښتن په ځواب کې وفرمايل: <زه هرڅه کولی شم! ته به ژر
ووينې چې زما خبرې به رښتيا شي.>

٢٤ نو حضرت موسیٰ له مقدسې خېمې څخه راووت او څه چې
څښتن فرمايلي وو هغه يې قوم ته بيان کړل. هغه اويا تنه مشران
راغونډ کړل او د خېمې شاوخوا يې ودرول. ٢٥ بيا څښتن په وريځ
کې راکوز شو او د حضرت موسیٰ سره يې خبرې وکړې. څښتن د
هغه روح څخه چې حضرت موسیٰ ته يې ورکړی ؤ، لږ واخيست او
اويا مشرانو ته يې ورکړ. کله چې د څښتن روح په هغوی باندې نازل
شو نو هغوی د نبيانو په شان په نبوت پيل وکړ، مګر دا کار يې يوازې
د يو ځل دپاره وکړ.

٢٦ الداد او ميداد دوه مشران وو چې په کمپ کې پاتې وو او
خېمې ته تللي نه وو. مګر کله چې په هغوی باندې هم روح نازل
شو، نو په کمپ کې يې نبوت پيل کړ. ٢٧ يو ځوان حضرت موسیٰ
ته ورمنډه کړه او د الداد او ميداد په هکله يې ورته خبر ورکړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ د نون زوی یوشع چې د خپلې ځوانۍ له وخت څخه د
حضرت موسیٰ مرستیال ؤ، وویل: <ای موسیٰ زما باداره، هغوی منع
کړه!>

۲۹ مګر حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمایل: <آیا ستا سره دا
اندېښنه ده چې هغوی به په ما باندې څه وکړي؟ کاشکې څښتن خپل
روح په خپل ټول قوم باندې نازل کړي نو هرڅوک به نبي شي.>
۳۰ بیا حضرت موسیٰ او د اسراییلو اویا مشران بېرته کمپ ته
لاړل.

## څښتن مړزان رانازلوي

۳۱ له هغې وروسته څښتن یو قوي باد رانازل کړ چې مړزان یې د
دریاب څخه راوړل. هغه د ځمکې څخه د یو متر څخه په کمه فاصله
کې پورته الوتل ترڅو د اسراییلیانو په کمپ او د هغه په شاوخوا
باندې د څو څو کیلومترو په فاصله له هرې خوا څخه راښکته شول.
۳۲ نو خلکو ټوله ورځ او ټوله شپه او ټوله راتلونکې ورځ مړزان
ونیول. هیچا د زرو کیلوګرامو څخه کم نه وو راټول کړي. هغه یې د
وچېدلو دپاره د کمپ شاوخوا ته وغوړول. ۳۳ مګر د غوښې د
خوراک د شروع سره سم څښتن په قوم باندې په قهر شو او په کمپ
باندې یې سخته وبا نازله کړه. ۳۴ هغه ځای د قبروت هتاوه (د
حریصانو د قبرونو) په نوم یاد شو، ځکه چې په هغه ځای کې هغه
خلک ښخ شول چې غوښې ته به یې سخت زړه کېده.

۳۵ له هغه ځای څخه قوم حضیروت ته سفر وکړ او هلته یې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خېمې ودرولې.

## مریم او حضرت هارون د حضرت موسیٰ سره مخالفت کوي

١٢ ١ حضرت موسیٰ د یوې ایتوپیایی ښځې سره واده کړی ؤ
او مریم او حضرت هارون په هغه باندې د دې کار په خاطر انتقاد
وکړ. ٢ هغوی ووېل: <آیا څښتن یوازې د موسیٰ په وسیله
خبرې کړې دي؟ آیا هغه زمونږ په وسیله خبرې نه دي کړې؟> څه
چې هغوی ووېل څښتن هغه واورېدل. ٣ (حضرت موسیٰ د
ځمکې پر مخ ترټولو عاجز سړی ؤ.)

۴ څښتن سمدستي حضرت موسیٰ، حضرت هارون او مریم ته
وفرمایل: <زه غواړم چې تاسو درې واړه مقدسې خېمې ته راشئ.>
نو هغوی ورغلل. ۵ څښتن په ورېځ کې راکوز شو، د خېمې د
دروازې په خوله کې ودرېد او غږ یې وکړ: <ای هارونه! ای
مریمې!> هغوی دواړه رامخکې شول ۶ او څښتن وفرمایل:
<اوس زما خبرې ته غوږ ونیسئ! زه خپل ځان نبیانو ته په رویاګانو
کې ښکاره کوم او د هغوی سره په خوبونو کې خبرې کوم. ٧ خو
کله چې د خپل خدمتګار موسیٰ سره خبرې کوم هغه د نورو سره
فرق لري. هغه مې د خپل ټول قوم مشر ټاکلی دی. ٨ نو زه د
هغه سره مخامخ او صفا خبرې کوم، نه په رموز سره، حتیٰ هغه زما
څېره هم ویني! تاسو څنګه جرأت کوئ چې زما د خدمتګار موسیٰ
په ضد خبرې وکړئ؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ خښتن په حضرت هارون او مريم باندې په قهر شو. د خښتن د
تګ ١٠ او د مقدسې خېمې د سر څخه د ورېځې د لېرې کېدو
څخه وروسته مريم په جذام باندې اخته شوه او پوستکی يې لکه د
واورې په شان سپين واوښت. کله چې حضرت هارون هغې ته وکتل
نو ويې ليدل چې هغه په جذام باندې اخته شوه، ١١ نو حضرت
موسیٰ ته يې وفرمايل: <زما باداره، مونږ ته د داسې ګناه په خاطر
چې په بې عقلۍ سره مو کړې ده سزا مه راکوه. ١٢ مه پرېږده چې
د مريم غوښه د يو مړه زېږېدلي ماشوم په شان خوسا شي!>

١٣ نو حضرت موسیٰ خښتن ته فرياد وکړ: <ای خدايه، هغه
روغه کړه!>

١٤ مګر خښتن په ځواب کې وفرمايل: <که چېرې پلار يې د هغې
په مخ باندې لياړې توکړې وای هغه به اووه ورځې خجالت نه وای؟
نو پرېږده چې يوه هفته د کمپ څخه دباندې ايساره وي او له هغې
وروسته کېدای شي چې کمپ ته راوستل شي.> ١٥ مريم اووه
ورځې د کمپ څخه دباندې ايساره پاتې شوه او قوم تر هغه وخته
پورې حرکت ونه کړ ترڅو هغه بېرته کمپ ته راوستل شوه. ١٦ بيا
هغوی د حضيروت څخه لاړل او د فاران په دښته کې يې خېمې
ودرولې.

## دولس نفره کنعان ته لېږل کيږي

(تثنيه ١: ١٩ – ٣٣)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ١٣

١ ښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ٢ <د هرې
قبیلې څخه یو یو مشر انتخاب کړه او کنعان ته یې د جاسوسانو په
توګه ولېږه چې هغه وطن وګوري چې زه یې اسراییلیانو ته ورکوم.>

٣ نو حضرت موسیٰ د ښتن د حکم سره سم د فاران له دښتې
څخه دولس قبیلوي مشران ولېږل ٤-١٦ او حکم یې ورکړ چې
د کنعان ځمکه وګوري. د هغوی نومونه دا دي:

د روبین له قبیلې څخه د زکور زوی شموع
د شمعون له قبیلې څخه د حوري زوی شافاط
د یهودا له قبیلې څخه د یفنه زوی کالیب
د یساکار له قبیلې څخه د یوسف زوی یجال
د افرایم له قبیلې څخه د نون زوی هوشع (حضرت موسیٰ
په هغه باندې یوشع نوم کېښود.)
د بنیامین له قبیلې څخه د رافو زوی فلتي
د زبولون له قبیلې څخه د سودي زوی جدیئیل
د منسي له قبیلې څخه د سوسي زوی جدي
د دان له قبیلې څخه د جملي زوی عمیئیل
د اشیر له قبیلې څخه د میکائیل زوی ستور
د نفتالي له قبیلې څخه د وفسي زوی نحبي
او د جاد له قبیلې څخه د ماکي زوی جاوئیل.

١٧ مخکې له دې چې حضرت موسیٰ هغوی کنعان ته ولېږي،
داسې یې ورته وفرمایل: <کله چې د کنعان د جنوبي دښتې څخه تېر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوئ، غرنی سیمې ته چې په شمال کې ده لاړ شئ. ۱۸ دا معلومه
کړئ چې هغه هېواد څه ډول دی، په هغه ځای کې څومره خلک
اوسیږي او هغوی څومره قوي دي. ۱۹ هغه ځمکه ښه ده یا خرابه
او آیا خلک په بې دېواله ښارونو کې اوسیږي یا په دېوال لرونکو
ښارونو کې؟ ۲۰ خاوره یې حاصلخېزه ده او یا ځمکه یې ځنګلي
ده؟ د هغو مېوو څخه چې هلته پیدا کیږي لږه خامخا د ځان سره
راوړئ.> (دا د اولنیو پخو شویو انګورو موسم ؤ.)

۲۱ نو نفر د شمال خواته لاړل او هغه ځمکه یې د صین د دښتې
څخه چې په جنوب کې وه تر رحوب پورې چې په شمال کې د
حمات غاښې ته نژدې وه، وکتله. ۲۲ هغوی اول د هغه وطن
جنوبي برخې ته لاړل او حبرون ته ورغلل. هلته د اخیمان، شیشای
او تلمای طایفې اوسېدلې، دا د عناقیانو د قوم اولاده وه، چې ډېر لوړ
قدونه یې درلودل. (حبرون اووه کاله مخکې د صوعن څخه چې په
مصر کې ؤ جوړ شوی ؤ.) ۲۳ هغوی د اشکول درې ته ورغلل او
هلته یې یوه څانګه پرې کړه چې د انګورو یو وږی په کې ؤ او
دومره درنده وه چې دوه تنو هغه د یوې میلې په وسیله انتقال کړه.
هغوی لږ انار او اینځر هم راوړل. ۲۴ (د انګورو د وږي له کبله
چې اسراییلیانو هلته پرې کړ، هغه ځای د اشکول د درې په نوم یاد
شو.)

۲۵ د کنعان د خاورې د کتلو څخه وروسته چې څلوېښت ورځې
یې دوام وموند، ۲۶ هغه دولس نفره قادش ته چې د فاران په دښته
کې ؤ راستانه شول او څه یې چې لیدلي وو، حضرت موسیٰ، حضرت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هارون او د اسراییلو ټول قوم ته وویل او هغه مېوه چې هغوی راوړې
وه هغوی ته یې وروښودله. ٢٧ هغوی حضرت موسیٰ ته وویل:
<مونږ هغه ځمکه وکتله او معلومه شوه چې هغه غني او حاصلخېزه
ده او دا د هغې ځمکې لړه مېوه ده. ٢٨ مګر د هغه ځای خلک
قوي او ښارونه یې ډېر لوی او دېوال لرونکي دي. برسېره پردې،
مونږ هلته د عناقیانو اولاده هم ولیدله. ٢٩ عمالیقیان په جنوبي
دښته کې اوسېږي، حیتیان، یبوسیان او اموریان په غرنۍ سیمه کې
دي او کنعانیان د مدیترانې د بحیرې او د اردن د سیند په غاړه
اوسېږي.>

٣٠ کالیب هغه خلک غلي کړل چې د حضرت موسیٰ په ضد یې
شکایتونه کول او ویې ویل: <راځئ چې اوس لاړ شو او دا ځمکه
ونیسو. زه پوهېږم چې مونږ دا کار کولی شو!>

٣١ مګر هغو نفرو چې د کالیب سره تللي وو وویل: <نه، مونږ
دومره قوي نه یو چې په هغوی باندې حمله وکړو، د هغه ځای خلک
زمونږ څخه ډېر قوي دي.> ٣٢ نو هغوی د هغې ځمکې په باره
کې چې هغوی کتلې وه د اسراییلیانو په منځ کې غلط خبر خپور کړ.
هغوی وویل: <هغه ځمکه دومره حاصل هم نه ورکوي چې د هغه
ځای د خلکو د مړولو دپاره کفایت وکړي. هرڅوک چې مونږ لیده
ډېر لوړ قد یې درلود، ٣٣ حتیٰ مونږ په هغه ځای کې د عناقیانو
اولاده ولیدله. هغوی دومره قوي وو او لوړ قدونه یې درلودل چې
مونږ ته خپل ځانونه داسې کوچني ښکاره شول لکه د ملخانو په شان
او هغوی ته هم همداسې ښکاره کېدو.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ ۱ کله چې اسراییلیانو د هغو دولسو نفرو راپور چې د
کنعان خاوره یې کتلې وه واورېد، نو خلکو ټوله شپه وژړل ۲ او
حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته یې داسې ګیله وکړه: <کاشکې
مونږ په مصر کې یا دلته په دښته کې مړه شوي وای! ۳ څښتن
ولې مونږ کنعان ته وروولي؟ مونږ به په جنګ کې مړه شو او زمونږ
ښځې او ماشومان به اسیران شي. آیا دا به ښه نه وي چې بېرته مصر
ته لاړ شو؟> ۴ بیا هغوی یو بل ته وویل: <راځئ چې خپل
مشر انتخاب کړو او بېرته مصر ته لاړ شو.>

۵ حضرت موسیٰ او حضرت هارون د ټول قوم په مخکې پړمخې
پرېوتل. ۶ د نون زوی یوشع او د یفنه زوی کالیب چې د هغو
نفرو څخه وو چې هغه خاوره یې کتلې وه، له خفګانه خپل کالي
وشلول ۷ او خلکو ته یې وویل: <هغه ځمکه چې مونږ وکتله
هغه ډېره ښه ځمکه ده. ۸ که چېرې خدای پاک زمونږ څخه
راضي وي، هغه به مو هلته یوسي او هغه غني او حاصلخېزه ځمکه به
راته راکړي. ۹ نو د څښتن په مقابل کې سرکشي مه کوئ او د
هغه ځای د خلکو څخه مه وېرېږئ. مونږ به په اسانۍ سره په هغوی
باندې بریالي شو. څښتن زمونږ سره مل دی او هغو خدایانو ته یې
ماتې ورکړې ده کومو چې د هغوی ساتنه کوله. نو مه وېرېږئ.>

۱۰ ټول قوم ګواښ وکړ چې حضرت موسیٰ او حضرت هارون
سنګسار کړي چې مړه شي. مګر ناڅاپه د څښتن جلال په مقدسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خېمې باندې ټولو اسراییلیانو ته رابښکاره شو.

## حضرت موسیٰ د قوم دپاره دعا کوي

۱۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <ترڅو پورې به دا خلک
ما نه منې؟ که څه هم ما هغوی ته ډېرې معجزې ښودلې دي خو
بیاهم هغوی په ما باندې باور نه لري. ۱۲ زه به په هغوی باندې وبا
نازله کړم او له منځه به یې یوسم، مګر ستا څخه به د یو داسې قوم
نیکه جوړ کړم چې د هغوی د قوم څخه لوی او قوي وي.>

۱۳ مګر حضرت موسیٰ څښتن ته وفرمایل: <تا په خپل قدرت
سره دا قوم د مصر څخه راوویست. کله چې مصریان واوري چې تا د
خپل قوم سره داسې وکړل، ۱۴ نو هغوی به دا د کنعان خلکو ته
ووایي. دغه خلک له مخکې څخه خبر دي چې ته، ای څښتنه زمونږ
سره مل یې او کله چې ستا وریځ زمونږ دپاسه ودرېږي نو مونږ ته
مخامخ ښکارې. د ورځې له خوا په وریځ کې زمونږ په مخکې ځې
او د شپې له خوا په اور کې. ۱۵ اوس که چېرې ته خپل ټول قوم
ووژنې نو هغه قومونه چې ستا د شهرت په هکله یې اورېدلي دي
داسې به وایي ۱۶ چې خپل خلک دې ځکه په دښته کې ووژل
چې تا نه شو کولی هغوی هغې ځمکې ته ورولې چې د هغې وعده
دې ورسره کړې ده.

۱۷ ای څښتنه، مونږ ته دې خپل لوی قدرت وښایه او هغه وعده
دې پوره کړه چې کړې دې وه. تا فرمایلي وو: ۱۸ زه څښتن په
اسانۍ سره نه په قهرېږم او ډېره مینه او وفاداري کوم او ګناه او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سرغړونه بخښم. خو بیاهم اولادونو او لمسیو ته تر دریم او څلورم
نسله پورې د هغوی د پلرونو د ګناه په خاطر سزا ورکوم. ۱۹ ته
رحیم یې او ته د خلکو سره ډېره ښه رویه کوې که څه هم د ښې
رویې وړ نه دي. نو مهرباني وکړه دا قوم داسې وبخښه لکه څنګه چې
دې له هغه وخته راهیسې بخښلی دی چې هغوی له مصر څخه
راووتل.>

۲۰ څښتن په ځواب کې وفرمایل: <لکه څنګه چې تا سوال وکړ
زه هغوی بخښم. ۲۱ مګر زه په خپل ژوند او خپل جلال باندې
چې ټوله ځمکه ډکوي قسم خورم، ۲۲ د دې خلکو څخه به
هیڅوک ژوندی پاتې نه شي چې هغې خاورې ته ورداخل شي.
هغوی زما جلال او معجزې چې په مصر او دښته کې مې ښودلې وې
لیدلې دي، مګر هغوی زه څو څو ځلې ازمایلی یم او زما د امر څخه
یې سرغړونه کړې ده. ۲۳ هغوی به هیڅکله هغې خاورې ته
ورداخل نه شي چې د هغوی د نیکونو سره مې وعده کړې ده. هغه
چا چې زه یې نه یم منلی هغه به هیڅکله هم ورداخل نه شي. ۲۴
مګر په دې خاطر چې زما خدمتګار کالیب د نورو په شان نه دی او
هغه ماته وفادار پاتې دی، زه به هغه هغې ځمکې ته ورولم چې هغه
کتلې وه او هغه ځمکه به د هغه د اولادې ملکیت شي. ۲۵ څرنګه
چې عمالیقیان او کنعانیان په درو کې اوسیږي، نو سهار بېرته
راوګرځئ او د سرې بحیرې له لارې د دښتې خواته لاړ شئ.>

## خدای پاک اسراییلیانو ته د شکایت په خاطر سزا ورکوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٦ خښبتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمايل: ٢٧
<ترخو پورې به دا بدکاره قوم زما په ضد شکايت کوي؟ ما دا
شکايتونه ډېر واورېدل! ٢٨ اوس هغوی ته دغه ځواب ورکړئ: زه
په خپل ژوند قسم خورم، څه چې تاسو غوښتي دي هماغسې به
درباندې وکړم. ما خښبتن دا خبرې وکړې. ٢٩ تاسو به مړه شئ او
ستاسو مړي به په دې دښته کې خپاره شي. ستاسو څخه به هيڅوک
چې عمر يې له شلو کالو څخه زيات وي هغې خاورې ته داخل نه
شي ځکه چې تاسو زما په ضد شکايت کړی دی. ٣٠ ما قسم
خوړلی ؤ چې تاسو به هلته واوسېږئ، مګر پرته له کاليب او يوشع
څخه به نور هيڅوک هلته ژوند ونه کړي. ٣١ تاسو ويل چې
اولادونه به مو اسيران شي، خو زه به هغوی هغې ځمکې ته راولم
کومه چې تاسو رد کړې وه او هغه به يې وطن وي. ٣٢ خو تاسو
به په دې دښته کې مړه شئ! ٣٣ ستاسو اولادونه به په دښته کې
څلوېښت کاله سرګردانه ګرځي او ستاسو د بې وفايۍ له کبله به
ځورېږي ترڅو پورې چې تاسو ټول مړه شئ. ٣٤ تاسو به
څلوېښت کاله يعنې هغه څلوېښت ورځې چې تاسو هغه ځمکه کتلې
وه د هرې ورځې په ځای به يو کال د خپلې ګناه په خاطر ځورېږئ.
تاسو به زما د مخالفت په معنیٰ باندې پوه شئ. ٣٥ زه قسم خورم
چې تاسو بدکاره خلکو سره به چې زما په مقابل کې راغونډ شوي
يئ دا کار وکړم. تاسو هر يو به په دښته کې مړه شئ. دا زما يعنې
خښبتن خبره ده.>

٣٦ هغو نفرو چې د ځمکې د کتلو دپاره لېږل شوي وو، غلط خبر
راوړی ؤ او قوم يې دې ته اړ کړی ؤ چې د خښبتن په ضد شکايت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړي. ۳۷ نو هغه ورباندې يوه وژونکې ناروغي نازله کړه او
هغوی يې ووژل، ۳۸ مګر يوشع او کاليب يې ژوندي پرېښودل.

## اسراييليان کنعان ته ورداخلېدای نه شي

(تثنيه ۱: ۴۱ – ۴۵)

۳۹ کله چې حضرت موسیٰ د اسراييلو قوم ته د څښتن پيغام
ورساوه، هغوی ډېر غمجن شول. ۴۰ نو هغوی سهار وختي پاڅېدل
او ځانونه يې تيار کړل چې د کنعان د غرنۍ سيمې په لور روان شي.
هغوی وويل: <دا زمونږ ګناه وه چې د څښتن په هکله مو شکايت
وکړ. راځئ چې هغې ځمکې ته لاړ شو چې هغه يې راسره وعده
کړې ده.>

۴۱ مګر حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمايل: <بيا ولې د څښتن
د امر څخه سرغړونه کوئ؟ تاسو به بريالي نه شئ! ۴۲ مه ځئ.
څښتن ستاسو سره مل نه دی او ستاسو دښمنان به تاسو ته ماتې
درکړي. ۴۳ کله چې تاسو د عماليقيانو او کنعانيانو سره مخامخ
شئ، تاسو به په جګړه کې مړه شئ. څښتن به ستاسو سره مل نه وي،
ځکه چې تاسو د هغه د پيروۍ څخه انکار کړی دی.>

۴۴ مګر بياهم هغوی جرأت وکړ چې غرنۍ سيمې ته لاړ شي، که
څه هم نه حضرت موسیٰ او نه د څښتن د لوظ صندوق ورسره لاړ.
۴۵ عماليقيان او کنعانيان د غرنۍ سيمې څخه راښکته شول،
اسراييليانو ته يې ماتې ورکړه او د حرمه تر ښاره پورې ورپسې
شول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د قربانیو په هکله قوانین

۱۵ ۱ خښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ «د اسراییلو
قوم ته دا مقررات ورکړه چې هغوی یې په هغې خاوره کې چې زه
یې ورته ورکوم مراعت کړي: ۳ تاسو کولی شئ چې د رمې یا
پادې څخه یو حیوان د سوزېدونکې نذرانې یا د نذر د قربانۍ یا د
رضاکارانه نذرانې یا ستاسو د مذهبي اخترونو د نذرانو په توګه
خښتن ته وړاندې کړئ. د دغو نذرانو بوی په خښتن باندې ښه
لګیږي. ۴-۵ هرڅوک چې یو وری یا سېرلی د سوزېدونکې
نذرانې په توګه خښتن ته وړاندې کوي، هغه دې د هر حیوان سره یو
کیلوګرام داسې ښه اوړه چې یو لیتر د زیتونو تېل ورسره ګډ وي د
غلې دانې د نذرانې په توګه او یو لیتر د انګورو شربت دې هم د
څښلو د نذرانې په توګه راوړي. ۶ کله چې یو پسه وړاندې
کیږي، دوه کیلوګرامه داسې اوړه چې یونیم لیتر د زیتونو تېل ورسره
ګډ وي د غلې دانې د نذرانې په توګه دې وړاندې شي. ۷ یونیم
لیتر د انګورو شربت دې هم د څښلو د نذرانې په توګه ورسره وي. د
دغو قربانیو بوی په خښتن باندې ښه لګیږي. ۸ کله چې یو غویی
خښتن ته د سوزېدونکې نذرانې یا د نذر د قربانۍ یا د سلامتۍ د
نذرانې په توګه وړاندې کیږي، ۹ د غلې دانې نذرانه دې د درې
کیلوګرامو داسې اوړو سره وړاندې شي چې دوه لیتره د زیتونو تېل
ورسره ګډ وي. ۱۰ دوه لیتره د انګورو شربت دې هم د څښلو د
نذرانې په توګه ورسره وي. د دې نذرانې بوی په خښتن باندې ښه
لګیږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱-۱۳ که چېرې څوک اصلي اسراييلی وي نو هر وخت چې
غويی، پسه، مېږه يا وزه په اور باندې د تيارې شوې نذرانې په توګه
چې بوی يې په څښتن باندې ښه لګېږي وړاندې کوي نو په دې
اصولو باندې بايد عمل وکړي. ۱۴ همدارنګه هغه بېګانه خلک چې
ستاسو په منځ کې اوسېږي، که هغوی د موقت وخت دپاره وي يا
دايمي وي هم بايد د دغو مقرراتو څخه پيروي وکړي. ۱۵-۱۶
همدغه اصول د تل دپاره په تاسو او هغو بېګانه خلکو باندې چې
ستاسو په منځ کې اوسېږي عملي کېږي. د څښتن په نظر کې تاسو او
هغوی يوشان يئ.

۱۷-۱۹ کله چې تاسو په هغه ځمکه کې چې زه يې درکوم خواړه
خورئ، دا خبره په ياد ساتئ چې د هغو څه لږ څښتن ته د خاصې
نذرانې په توګه بېل کړئ. ۲۰ کله چې تاسو ډوډۍ پخوئ نو اولنۍ
ډوډۍ چې د نوې غلې دانې څخه پخېږي هغه دې څښتن ته د
خاصې نذرانې په توګه وړاندې شي. دا دې په هماغه ډول وړاندې
شي لکه څنګه چې د غوبل شويو غلو دانو څخه تياره شوې خاصه
نذرانه وړاندې کېږي. ۲۱ دا خاص سوغات دې د تل دپاره د هغې
ډوډۍ څخه څښتن ته ورکول کېږي چې تاسو يې پخوئ.

۲۲ مګر فرض کوو که چېرې يو څوک په غير ارادي توګه د دغو
مقرراتو څخه د ځينو په عملي کولو کې چې څښتن موسیٰ ته
ورکړي دي غفلت وکړي. ۲۳ او فرض کوو چې په راتلونکي کې د
هغو ټولو شيانو په سرته رسولو کې چې څښتن د موسیٰ په وسيله د
هغو حکم کړی دی قوم غفلت وکړي. ۲۴ که چېرې دا کار په غير

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ارادي توګه په ناخبرۍ سره د قوم له خوا وشي، نو بايد ټول قوم يو
غويى د سوزېدونکې نذرانې دپاره چې بوى يې په څښتن باندې ښه
لګېږي وړاندې کړي. دا نذرانه دې د پورته يادې شوې غلې دانې د
نذرانې او څښېلو د نذرانې سره يوځاى او د يو وز سره چې د ګناه د
نذرانې په توګه وړاندې کيږي وړاندې شي. ۲۵ کاهن به د اسراييلو
د ټول قوم دپاره کفاره ادا کړي او هغوى به وبخښل شي، ځکه چې دا
کار په قصدي توګه نه ؤ شوى او هغوى څښتن ته د خپلې غلطۍ
دپاره يوه داسې نذرانه چې په اور باندې تيارېږي او د ګناه يوه نذرانه
راوړله. ۲۶ د اسراييلو ټول قوم او هغه بېګانه خلک به چې د
هغوى په منځ کې اوسيږي وبخښل شي، ځکه چې ټول په دې غلطۍ
کې شامل وو.

۲۷ مګر که چېرې ستاسو څخه يو تن په غير ارادي توګه ګناه
وکړي، بايد يوه يو کلنه وزه د ګناه د نذرانې په توګه قرباني کړي.
۲۸ کاهن دې د څښتن په حضور کې د هغه چا دپاره چې په غير
ارادي توګه يې ګناه کړې ده کفاره ادا کړي، نو هغه به وبخښل شي.
۲۹ همدا قانون به په هغو ټولو خلکو باندې عملي کيږي چې په
غير ارادي توګه يې ګناه کړې وي، که هغوى اصلي اسراييليان وي يا
بېګانه اوسېدونکي وي.

۳۰ مګر که چېرې ستاسو څخه څوک په قصدي توګه ګناه وکړي،
که هغه اصلي اوسېدونکى وي يا بېګانه وي، هغه څښتن ته په
سپکاوي کولو سره ګناهکار دى او بايد ووژل شي. ۳۱ ځکه څه
چې څښتن فرمايلي دي هغه نه دي منلي او په قصدي توګه يې د
هغه يو حکم مات کړى دى. نو خون به يې په خپله غاړه وي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سبت د قانون د ماتولو دپاره سزا

۳۲ يو ځل کله چې اسراييليانو په دښته کې سفر کاوه، د سبت په
ورځ يو سړی د لرګيو په راټولولو ونيول شو. ۳۳ هغه حضرت
موسیٰ، حضرت هارون او ټول قوم ته وروستل شو ۳۴ او هغه يې
تر څارنې لاندې وساته، ځکه دا معلومه نه وه چې د هغه سره به څه
کيږي. ۳۵ بيا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <هغه سړی بايد
ووژل شي، ټول قوم دې هغه د کمپ څخه بيرون سنګسار کړي چې
مړ شي!> ۳۶ نو لکه څنګه چې څښتن امر کړی ؤ، ټول قوم هغه د
کمپ څخه بيرون وويست او سنګسار يې کړ.

## د زونډيو په باره کې مقررات

۳۷ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۳۸ <د اسراييلو قوم ته
ووايه: د خپلو کاليو په څنډو پورې زونډې وځنډوئ او په هر زونډې
پورې يو يو آبي تار وتړئ. دا کار بايد د تل دپاره وکړئ. ۳۹-۴۰
دا زونډې به تاسو ته دا خبره در په ياده کړي چې تاسو بايد زما د
قوانينو او زده کړو څخه پيروي وکړئ. کله چې تاسو داسې وکړئ، نو
ماته به وقف کړای شئ او د خپلو له ګناه څخه ډکو خواهشاتو پسې
به نه ګرځئ. ۴۱ زه ستاسو څښتن خدای يم چې تاسو مې له مصر
څخه راوويستلئ چې ستاسو خدای اوسم.>

## د قورح، داتان او ابيرام ياغي کېدل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱-۲ د يصهار زوی قورح چې د لاوي د زوی قهات اولاده وه
د حضرت موسیٰ د مشرۍ په ضد سرکشي وکړه. هغه د روبين د
قبيلې د دريو غړو يعنې د الياب د زامنو داتان او ابيرام او اون د فالت
زوی او د نورو دوه سوه پنځوسو مشهورو اسراييلي مشرانو سره چې
د قوم له خوا ټاکل شوي وو يوځای شو. ۳ هغوی حضرت
موسیٰ او حضرت هارون ته ورغلل او ويې ويل: <تاسو ولې داسې
فکر کوئ چې د نورو څخه بهتر يئ؟ د قوم ټول غړي د څښتن
مقدس خلک دي او څښتن زمونږ ټولو سره مل دی. نو موسیٰ، بيا
ولې خپل ځان د څښتن د قوم څخه لوړ ګڼې؟>

۴ کله چې حضرت موسیٰ دا خبرې واورېدلې، په ځمکه باندې
پړمخې پرېوت. ۵ بيا هغه قورح او د هغه پيروانو ته داسې
وفرمايل: <سبا سهار به څښتن مونږ ته هغه نفر راوښايي چې د خپل
کاهن په توګه يې انتخاب کړی دی او هغه نفر به پرېږدي چې نژدې
ورشي. ۶-۷ قورح، اوس بايد ته او ستا پيروان داسې کار
وکړئ: يو څو د اور لوښي راپيدا کړئ، د سکرو او خوشبويۍ څخه
يې ډک کړئ او مقدسې خېمې ته يې نژدې راوړئ. بيا به وګورو چې
څښتن زمونږ څخه څوک انتخاب کړی دی. قورح، دا ځل تاسو
لاويانو له خپل حد څخه تېری کړی دی!>

۸ حضرت موسیٰ د قورح سره خپلو خبرو ته دوام ورکړ: <ای
لاويانو، واورئ! ۹ تاسو فکر کوئ چې دا وړه خبره ده چې د
اسراييلو خدای تاسو د خپل قوم څخه انتخاب کړي يئ د دې دپاره
چې هغه ته ورنژدې شئ، په مقدسه خېمه کې خپل کار وکړئ او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قوم خدمت وکړئ؟ (۱۰) څښتن تاسو ته يو ځانګړی مسئوليت در
په غاړه کړی دی او اوس فکر کوئ چې تاسو به هم کاهنان شئ.
(۱۱) تا او ستا پيروانو د څښتن په مقابل کې سرکشي کړې ده، د
حضرت هارون په مقابل کې مو نه ده کړې.>

(۱۲) بيا حضرت موسیٰ داتان او ابيرام راوغوښتل، مګر هغوی بېرته
دا پيغام ورولېږه: <مونږ نه راځو! (۱۳) آيا دا کافي نه ده چې مونږ
دې د مصر د حاصلخېزې ځمکې څخه راوستلو چې دلته په دښته
کې مو ووژنې؟ اوس ته غواړې چې په مونږ باندې خپل ځان بادار
کړې؟ (۱۴) بله دا چې تا مونږ حاصلخېزې ځمکې ته رانه وستلو او
نه دې مونږ ته هغه ځمکه د خپل ملکيت په توګه راکړه چې پټې او د
انګورو باغونه په کې دي او اوس هڅه کوې چې مونږ وغولوې. مونږ
به رانه شو.>

(۱۵) حضرت موسیٰ ډېر په قهر شو او څښتن ته يې وفرمايل: <د
هغوی نذرانې مه قبلوه! ما د هغوی سره هيڅ غلطي نه ده کړې. حتیٰ
د هغوی څخه مې يو خر هم نه دی اخيستی.>

(۱۶) بيا حضرت موسیٰ قورح ته وفرمايل: <سبا ته او ستا دوه سوه
پنځوس تنه پيروان بايد د حضرت هارون سره د څښتن حضور ته
مقدسې خېمې ته لاړ شئ. (۱۷) تاسو هر يو د ځان سره خپل د اور
لوښی چې خوشبويي په کې وي يوسئ او څښتن ته خوشبويي
وړاندې کړئ.>

(۱۸) نو بله ورځ هغوی هر يو خپل د اور لوښی واخيست او بل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوي سکاره او خوشبويي يې په کې واچول او د حضرت موسیٰ او
حضرت هارون سره د مقدسې خېمې د دروازې په خوله کې ودرېدل.
١٩ بيا قورح ټول قوم راغونډ کړ او هغوی حضرت موسیٰ او
حضرت هارون ته مخامخ د مقدسې خېمې د دروازې په خوله کې
ودرېدل. يوناڅاپه د څښتن جلال ټول قوم ته ښکاره شو ٢٠ او
څښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمايل: ٢١ <د دې
خلکو څخه لېرې شئ، زه به همدا اوس هغوی ووژنم!>

٢٢ مګر حضرت موسیٰ او حضرت هارون په ځمکه باندې پړمخې
پرېوتل او داسې دعا يې وکړه: <زمونږ خدايه، تا دغو خلکو ته ژوند
ورکړ. ولې د يو سړي د ګناه په خاطر ټول قوم ته سزا ورکوې؟>

٢٣ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ٢٤ <خلکو ته ووايه
چې د قورح، داتان او ابيرام د خېمو څخه لېرې شي.>

٢٥ حضرت موسیٰ داتان او ابيرام ته ورغی او د اسراييلو نور
مشران ورپسې شول. ٢٦ بيا حضرت موسیٰ قوم ته داسې
خبرداری ورکړ: <د دغو بدکارو خلکو د خېمو څخه لېرې شئ! د
هغوی شيانو ته لاس مه وروړئ. که نه، نو د هغوی د ګناهونو له کبله
به تاسو هم له منځه لاړ شئ.> ٢٧ نو هغوی د قورح، داتان او
ابيرام له خېمو څخه لېرې شول. داتان او ابيرام راوتلي وو او د خپلو
ښځو او ماشومانو سره د خپلو خېمو په دروازو کې ولاړ وو.

٢٨ حضرت موسیٰ قوم ته وفرمايل: <تاسو به په دې پوه شئ چې
څښتن زه رالېږلی يم چې دا ټول کارونه وکړم، دا کارونه مې په خپله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوښه نه دي کړي. ۲۹ که چېرې دا خلک د خدای پاک له سزا
څخه پرته په خپل مرګ مړه شي، د دې معنیٰ به دا وي چې څښتن
زه نه يم رالېږلی. ۳۰ مګر فرض کړئ څښتن داسې کار وکړي چې
پخوا هيڅکله نه وي شوی. که چېرې ځمکه پرانيستل شي او هغوی
د خپلو ټولو شيانو سره ژوندي تېر کړي ترڅو هغوی ژوندي په
ځمکه کې ښخ شي، بيا به تاسو پوه شئ چې هغوی د څښتن څخه
مخ اړولی دی!>

۳۱ څنګه چې د حضرت موسیٰ خبرې خلاصې شوې، د داتان او
ابيرام د پښو لاندې ځمکه سره جدا شوه ۳۲ او هغوی او د هغوی
کورنۍ يې د قورح د ټولو پيروانو او د هغوی د مالونو سره ژوندي تېر
کړل. ۳۳ نو هغوی د خپلو مالونو سره ژوندي په ځمکه ننوتل.
ځمکه بېرته په هغوی باندې بنده شوه او هغوی له سترګو څخه پناه
شول. ۳۴ کله چې د اسراييلو ټولو خلکو چې په هغه ځای کې وو
د هغوی فريادونه واورېدل، نو وتښتېدل. هغوی چيغې ووهلې:
<تښتئ، کېدای شي چې ځمکه موږ هم ژوندي تېر کړي!>

۳۵ بيا څښتن اور نازل کړ او هغه دوه سوه پنځوس نفره يې چې
څښتن ته يې خوشبويي وړاندې کړې وه، وسوزول.

۳۶ بيا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۳۷ <د هارون زوی
العازار ته ووايه چې د سوزېدل شويو خلکو څخه د اور لوښي لېرې
کړي او سکاره دې په يو لېرې ځای کې وشيندي. دا لوښي مقدس
دي، ۳۸ ځکه چې ماته د خوشبويۍ د وړاندې کولو دپاره ورڅخه
کار اخيستل شوی ؤ. هغه په چا باندې په ټټک وټکوه چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قربانګاه دپاره نرۍ پوښ ورڅخه جوړ شي. هغه خلک د خپلې ګناه
له کبله مړه شول او اوس به د هغوی د اور لوښي د پاتې خلکو دپاره
يو خبرداری وي.>

۳۹-۴۰ لکه څنګه چې ښبنتن العازار کاهن ته د حضرت موسیٰ
په وسيله فرمايلي وو هغه لوښي راټول کړل او په يو چا باندې يې په
څټک وټکول او د قربانګاه دپاره يې ورڅخه نرۍ پوښ جوړ کړ. دا
لوښي د اسراييليانو دپاره يو خبرداری ؤ چې يوازې کاهنان يعنې د
هارون اولاده به اجازه لري چې ښبنتن ته خوشبويي وړاندې کړي.
که چېرې بل څوک دا هڅه وکړي، د قورح او د هغه د پيروانو په
شان به ورته سزا ورکړل شي.

## حضرت هارون قوم ژغوري

۴۱ په راتلونکې ورځ د اسراييلو قوم د حضرت موسیٰ او حضرت
هارون په ضد شکايت وکړ او ويې ويل: <تاسو د ښبنتن خلک
ووژل!> ۴۲ کله چې هغوی ټول راغونډ شول چې د حضرت
موسیٰ او حضرت هارون په ضد احتجاج وکړي، حضرت موسیٰ او
حضرت هارون د مقدسې خېمې په لور مخ واړاوه او ويې ليدل چې
خېمه ناڅاپه په وريځ کې پټه شوه او د ښبنتن جلال ښکاره شو.
۴۳ نو حضرت موسیٰ او حضرت هارون د خېمې مخې ته ورغلل
۴۴ او هلته ښبنتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۴۵ <شاته شئ!
زه دا اسراييليان دلته ځای په ځای له منځه وړم.>

هغوی دواړه په ځمکه باندې پړمخې پرېوتل. ۴۶ بيا حضرت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

موسیٰ هارون ته وفرمایل: <خپل د اور لوښی راواخله او په هغه کې
د قربانګاه څخه سره سکاره واچوه او په سکارو باندې لږه خوشبويي
واچوه. بیا د هغه سره سمدستي خلکو ته ورشه او د هغوی دپاره
کفاره ادا کړه. ژر شه! ځکه چې ښښتن ډېر په قهر دی او وبا لا د
مخکې څخه شروع شوې ده!> ۴۷ نو څنګه چې حضرت موسیٰ
فرمايلي وو حضرت هارون هماغسې وکړل او د خلکو منځ ته يې
ورمنډه کړه. وبا لا مخکې په خلکو کې شروع شوې وه، خو حضرت
هارون خوشبويي وړاندې کړه او د هغوی دپاره يې کفاره ادا کړه.
۴۸ هغه د مړو او ژوندیو ترمنځ ودرېد او وبا بنده شوه. ۴۹ مګر
۱۴۷۰۰ تنه اسرايیلیان مړه شوي وو، پرته له هغو خلکو څخه چې د
قورح او د هغه د پیروانو سره مړه شوي وو. ۵۰ کله چې وبا
ودرېدله، حضرت هارون بېرته د مقدسې خېمې دروازې ته حضرت
موسیٰ ته ورستون شو.

## د حضرت هارون امسا

۱۷ ۱ ښښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ <د اسراییلو
خلکو ته ووايه چې دولس امساګانې درکړي يعنې د هرې قبيلې د
مشر څخه يوه يوه دانه. د هر سړي نوم د هغه په امسا باندې وليکه
۳ او بیا د هارون نوم د لاويانو په امسا باندې وليکه. د هر قبیلوي
مشر دپاره دې يوه يوه امسا وي. ۴ دا امساګانې په مقدسه خېمه
کې د لوظ د صندوق په مخ کې کېږده چېرته چې زه تاسو سره ملاقات کوم
کېږده. ۵ بیا به د هغه نفر امسا غوټۍ ونيسي چې زه يې انتخابوم.
په دې ډول به ستاسو په ضد د دغو اسراییلیانو پرله پسې شکایتونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته د پای ټکی کېږدم.>

۶ حضرت موسیٰ د اسراییلیانو سره خبرې وکړې او د هغوی هر
یو مشر حضرت موسیٰ ته امسا ورکړه، یعنې د هرې قبیلې څخه یوه
یوه دانه چې ټولې دولس وې او د حضرت هارون امسا هم په کې
شامله وه. ۷ بیا حضرت موسیٰ ټولې امساګانې په خېمه کې د
څښتن د لوظ د صندوق مخې ته کېښودلې.

۸ په سبا ورځ کله چې حضرت موسیٰ خېمې ته ورننوت، هغه
ولیدل چې د حضرت هارون امسا چې د لاوي د قبیلې نماینده ګي
یې کوله تېغ وهلی. هغې غوټۍ کړې وې، ګلان یې نیولي وو او بادام
یې کړي وو! ۹ حضرت موسیٰ هغه دولس امساګانې له خېمې
څخه راوویستلې او خلکو ته یې ورښکاره کړې. هر مشر خپله امسا
راپیدا کړه او هغه یې واخیسته. ۱۰ مګر څښتن حضرت موسیٰ ته
وفرمایل: >د هارون امسا بېرته د لوظ صندوق ته مخامخ کېږده!
پرېږده چې هغه هلته پاتې وي او د هغه چا دپاره چې د سرکشۍ
کولو په باره کې فکر کوي د خبرداري په توګه وي. که چېرې دا
خلک زما په هکله شکایت بس نه کړي نو زه به یې له منځه
یوسم.> ۱۱ لکه څنګه چې څښتن امر کړی ؤ، حضرت موسیٰ
هماغسې وکړل.

۱۲ اسراییلیانو حضرت موسیٰ ته فریاد وکړ او ویې ویل: >مونږ
مړه کېږو! زمونږ دپاره کوم امید نشته، مونږ ټول له منځه ځو! ۱۳
حتیٰ هرڅوک چې مقدسې خېمې ته ورنژدې شي هغه به مړ شي. نو
مونږ ټول به مړه شو!>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د کاهنانو او لاویانو وظیفې

۱۸ ۱ ښښتن حضرت هارون ته داسې وفرمايل: <هرڅه چې
په مقدسه خېمه کې پېښېږي ته، ستا زامن او نور لاویان د هغو په
مقابل کې مسئولیت لرئ خو څه چې کاهنان کوي د هغه په مقابل کې
ته او ستا زامن مسئولیت لرئ. ۲ خپل خپلوان یعنې لاویان راوله
چې ستا سره کار وکړي او ستا او ستا د زامنو سره د خېمې په کار
کې مرسته وکړي. ۳ هغوی به تاته مسئول وي او د مقدسې خېمې
ټولې وظیفې به ترسره کوي، خو هغوی باید د قربانۍ ځای یا هغو
پاکو شیانو ته چې په مقدس ځای کې دي نږدې ورنه شي. که چېرې
دا کار وکړي هغوی او تاسو دواړه به ووژل شئ. ۴ هغوی باید
ستاسو سره کار وکړي او د خېمې د ټولو کارونو په اړه دې خپل
مسئولیت ترسره کړي، مګر بل هیڅوک نه شي کولی چې تاسو سره
کار وکړي. ۵ یوازې ته او ستا زامن باید د مقدس ځای او د
قربانۍ د ځای دپاره وظیفې اجرا کړئ، ترڅو زما قهر بیا د اسراییلو
په قوم باندې نازل نه شي. ۶ دا زه یم چې ستاسو خپلوان لاویان
مې تاسو ته د مرستیالانو په توګه د اسراییلیانو څخه انتخاب کړي
دي. هغوی ماته وقف شوي دي، ترڅو وکولی شي چې په مقدسه
خېمه کې خپلې وظیفې سرته ورسوي. ۷ مګر یوازې ته او ستا
زامن کولی شئ چې د قربانۍ په ځای او ډېر مقدس ځای کې د
کاهنانو په توګه خدمت وکړئ. د کاهنانو په توګه ستاسو کار زما له
خوا تاسو ته یو سوغات دی او که بل څوک هڅه وکړي چې دا کار
وکړي، هغه باید ووژل شي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د کاهنانو برخه

(تثنیه ۱۸: ۱ – ۸)

۸ څښتن حضرت هارون ته وفرمایل: <دا په یاد وساته چې زه
تاته هغه نذرانې درکوم، یعنې هغه ټولې خاصې نذرانې چې اسراییلیان
یې ماته راکوي او د قربانیو په توګه نه سوزول کیږي. زه هغه تا او
ستا اولادې ته د هغې برخې په توګه درکوم چې تل ترتله به درکول
کیږي. ۹ د ډېرو مقدسو نذرانو څخه چې په قربانګاه باندې نه
سوزول کیږي، دا لاندینۍ نذرانې ستاسو دي: د غلې دانې نذرانې، د
ګناه نذرانې او د تاوان نذرانې. هرڅه چې ماته د یوې مقدسې نذرانې
په توګه وړاندې کیږي ستا او ستا د زامنو دي. ۱۰ څرنګه چې دا
شیان مقدس دي نو باید په مقدس ځای کې وخوړل شي، مګر یوازې
نارینه اجازه لري چې هغه وخوري.

۱۱ برسېره پردې، نورې خاصې نذرانې چې اسراییلیان یې ماته
وړاندې کوي هغه به ستا وي. هغه به د تل دپاره تا، ستا زامنو او ستا
لورګانو ته درکوم. ستا د کورنۍ هر غړی چې په مذهبي لحاظ پاک
وي هغه خوړلی شي.

۱۲ د هغو ټولو اولنیو ښو محصولاتو څخه چې اسراییلیان یې هر
کال ماته راکوي زه یې تاسو ته درکوم، یعنې د زیتونو تېل، د انګورو
شربت او غلې دانې. ۱۳ د هغوی د پټیو او د انګورو د باغونو د
فصلونو اوله برخه هم ستاسو ده. قوم به هغه ماته وړاندې کړي، بیا
هرڅوک چې ستاسو په کورنۍ کې پاک وي له هغې څخه لږه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اخیستلی شي.

۱۴ هرڅه چې په اسراییلو کې بې له کوم قید او شرط څخه ماته
وقف شوي وي ستاسو به شي.

۱۵ په هرې اسراییلي کورنۍ کې مشر زوی او د هغوی د رمو او
پادو اولني زیږېدلي نران حیوانات زما دي. مګر مشر زوی او هر
اولنی زیږېدلی ناپاک نر حیوان باید بېرته په بیه واخیستل شي. ۱۶
د مشر زوی بیه به چې لږ تر لږه د یوې میاشتې وي پنځه مثقاله
سپین زر وي چې وزن یې د مقدس ځای د اندازې په مطابق وي.
۱۷ مګر د غواګانو، مېږو او وزو اولني زیږېدلي بچي بېرته په بیه نه
اخیستل کیږي. هغه بېخي زما دي او باید قرباني شي. وینه یې په
قربانګاه باندې وشیندئ او وازګه یې د داسې نذرانې په توګه
وسوزوئ چې په اور باندې تیاریږي، دا بوی په ښښتن باندې ښه
لګیږي. ۱۸ تاسو کولی شئ چې د دې حیواناتو غوښه وخورئ لکه
څنګه چې د خاصې نذرانې سینه او ښاتنۍ ښي پښه خوړلی شئ.

۱۹ هغه ټولې خاصې نذرانې چې اسراییلیان یې ماته وړاندې کوي
هغه به تل تا، ستا زامنو او لورګانو ته درکوم. دا یو نه ماتېدونکی لوظ
دی چې زه یې تا او ستا د اولادې سره کوم.

۲۰ تاسو ته به په اسراییلو کې ځمکه درنه کړل شي چې ستاسو
میراث شي او نه به د جایداد کومه برخه درکړل شي. زه ښښتن یم او
زه ستاسو دپاره هم برخه یم او هم ستاسو میراث.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د لاویانو برخه

۲۱ څښتن حضرت هارون ته وفرمایل: <د اسراییلیانو لس فیصده
فصلونه او د هرو لسو نویو زیږېدلو حیواناتو څخه یو حیوان زما دی.
مګر دا ټول لاویانو ته د هغوی د کار او خدمت په بدل کې چې په
مقدسه خېمه کې یې کوي ورکوم. ۲۲ نور اسراییلیان باید خېمې ته
ورنژدې نه شي او په دې ډول دې خپل ځانونه د مرګ سزا ته نه
جوړوي. ۲۳ له همدې وخت څخه به یوازې لاویان په خېمې
باندې پام کوي او د هغې پوره مسئولیت به په غاړه اخلي. دا دایمي
اصول دی چې ستاسو په اولادې باندې به هم عملي کیږي. لاویان
باید په اسراییلو کې خپله ځمکه ونلري. ۲۴ د هغې په ځای به
هغوی ته هغه حاصلات او هغه نوي زیږېدلي حیوانات ورکول کیږي
چې اسراییلیان یې ماته وړاندې کوي.>

## هغه عشر چې لاویان یې باید ورکړي

۲۵ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲۶ <لاویانو ته داسې
ووایه: کله چې تاسو د اسراییلیانو څخه د حاصلاتو او نوي زیږېدلو
حیواناتو عشر واخلئ، باید د هغو عشر ما څښتن ته وړاندې کړئ.
۲۷-۲۸ لکه څنګه چې اسراییلیان ماته د غلو دانو او د انګورو د
شربت برخه راکوي، نو تاسو هم باید د هغه ټول عشر څخه چې د
اسراییلیانو څخه یې اخلئ یوه برخه ماته د نذرانې په توګه جدا کړئ.
هغه باید هارون ته ورکړل شي. ۲۹ نو څه چې تاسو اخلئ، ډېره
ښه برخه به یې زما وي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ کله چې تاسو ډېره ښه برخه وړاندې کړه نو کولی شئ چې
پاتې برخه یې خپل ځان ته وساتئ، لکه څنګه چې دهقان د نذرانې
له ورکولو څخه وروسته څه چې پاتې شوي وي هغه ساتي. ۳۱
تاسو او ستاسو کورنۍ کولی شئ چې پاتې شوې برخه په هرځای کې
وخورئ، ځکه چې دا په مقدسه خېمه کې د کار کولو دپاره ستاسو
اجوره ده. ۳۲ د هغې په خوړلو به تاسو ته سزا نه درکول کیږي په
دې شرط چې تاسو مخکې ماته ډېرې ښې برخې وړاندې کړې وي.
هغه سوغاتونه او قربانۍ ګانې چې قوم یې راوړي باید مقدسې پاتې
شي او مخکې له دې چې ماته وړاندې شي تاسو د هغو څخه کومه
برخه وخورئ نو وبه وژل شئ.>

## د ګناه د پاکولو مراسم

۱۹ ۱ ښښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمایل:
۲ <د اسراییلو قوم باید موسیٰ ته یوه داسې سره غوا راولي چې
کوم عیب په کې نه وي او هیڅکله ورباندې قلبه نه وي شوې. ۳
هغوی به هغه العازار کاهن ته ورکړي، بیا به هغه د کمپ څخه بیرون
وویستل شي او د هغه په حضور کې به حلاله شي. ۴ بیا به
العازار د هغې څخه لږه وینه واخلي او په خپله ګوته باندې دې اووه
ځلې د مقدسې خېمې مخې ته وشیندي. ۵ بیا ټوله غوا باید د
پوستکي، غوښې، وینې او کولمو سره د هغه په مخ کې وسوزول شي.
۶ کاهن دې د صبر د ونې لږ لرګي، د وېلنې بوټی او سور تار په
اور کې واچوي. ۷ د مراسمو څخه وروسته دې کاهن خپل کالي
ومینځي او غسل دې وکړي. بیا هغه کولی شي چې بېرته کمپ ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ننوزي، مګر تر ماښامه پورې به ناپاک پاتې شي. ۸ هغه سړی
چې غوا يې سوزولې وي هم بايد خپل کالي ومينځي او غسل دې
وکړي، مګر هغه به هم تر ماښامه پورې ناپاک پاتې شي. ۹ يو
سړی چې ناپاک نه وي د سوزېدل شوې غوا ايرې دې واخلي او د
کمپ څخه دباندې دې په يو پاک ځای کې واچوي. د اسراييلو قوم
کولی شي چې دا ايرې د هغو اوبو سره ګډې کړي چې د ګناه د
پاکولو په مراسمو کې ورڅخه کار اخيستل کيږي. ۱۰ هغه سړی
چې ايرې راټولوي بايد خپل کالي ومينځي، مګر تر ماښامه پورې به
ناپاک پاتې شي. د اسراييلو قوم او هغه بېګانه خلک چې د دوی په
منځ کې اوسيږي بايد تل د دې قانون اطاعت وکړي.

## د مړي سره لګېدل

۱۱ که چېرې څوک يو مړي ته لاس ورووړي، اووه ورځې به ناپاک
وي. ۱۲ مګر که چېرې په دريمه ورځ او بيا په اوومه ورځ په هغو
اوبو باندې چې د غوا ايرې ورسره ګډې وي خپل ځان پاک کړي،
هغه به پاک شي. که په هغو ورځو کې خپل ځان پاک نه کړي، نو
ناپاک به پاتې شي. ۱۳ که چېرې څوک مړي ته لاس ورووړي او
خپل ځان پاک نه کړي هغه ناپاکه پاتې کيږي، ځکه چې د پاکوالي
اوبهورباندې نه دي اچول شوې. هغه نفر مقدسه خېمه ناپاکه کړې او
د اسراييلو د قوم څخه بايد وشړل شي.

۱۴ په هغه حالت کې چې يو نفر په خېمه کې مړ شي، نو هغه
څوک چې د هغه نفر د مرګ په وخت کې په خېمه کې وي يا څوک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې خېمې ته ورننوزي هغه به اووه ورځې ناپاک وي. ۱۵ هر
منګی او لوښی چې په خېمه کې وي او سرپوښ ونلري، هغه ناپاک
کيږي. ۱۶ که چېرې څوک د يو داسې نفر مړي ته لاس وروړي
چې په وسله باندې وژل شوی وي يا په خپل مرګ مړ شوی وي يا
که چېرې د انسان هډوکي يا قبر ته لاس وروړي، هغه به اووه ورځې
ناپاک وي.

۱۷-۱۸ مخکې له دې چې هغه نفر له نجاست څخه پاک شي، يو
څوک چې پاک وي بايد د سوزول شوې غوا لږې ايرې واخلي او د
چينې د اوبو په يو لوښي کې دې هغه ولړي. همدا نفر بايد د وېلنې د
بوټې يوه څانګه په اوبو او ايرو کې غوټه کړي، بيا دې هغه په خېمه
او هرڅه چې په هغې کې دي او د هر هغه چا په شمول چې په خېمه
کې ؤ وشيندي. که چېرې هغه د انسان هډوکي يا قبر يا مړي ته لاس
وروړی وي، هغه اوبه بايد په هغه نفر باندې وشيندل شي. ۱۹ هغه
نفر چې پاک وي په ناپاکه نفر باندې دې په دريمه او اوومه ورځ هغه
اوبه وشيندي. په اوومه ورځ هغه نفر چې پاکيږي بايد خپل کالي
ومينځي او غسل دې وکړي نو ماښام به هغه پاک شي.

۲۰ که چېرې يو نفر په مذهبي لحاظ ناپاک وي او خپل ځان پاک
نه کړي هغه ناپاک پاتې کيږي، ځکه چې په هغه باندې د پاکوالي اوبه
نه دي اچول شوې. هغه مقدسه خېمه ناپاکه کړې او د اسراييلو د قوم
څخه بايد وشړل شي. ۲۱ دا قوانين به هيڅکله بدل نه شي. کوم نفر
چې د پاکوالي په خاطر هغه اوبه شيندي بايد خپل کالي هم ومينځي.
که څوک دې اوبو ته لاس وروړي هغه به تر ماښامه پورې ناپاک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي. ۲۲ يو ناپاک نفر چې هر شي ته لاس وروړي هغه شی به
ناپاک شي او که بل نفر هغه شي ته لاس وروړي، هغه به هم تر
ماښامه پورې ناپاک وي.>

## د ګټ څخه اوبه جاري کيږي

۲۰ ۱ د اسراييلو ټول قوم د کال د اولې مياشتې په دوران کې
د صين دښتې ته راورسېد او په قادش کې يې خېمې ودرولې. دا هغه
ځای ؤ چې مريم په کې مړه شوه او ښخه کړای شوه.

۲ په کوم ځای کې چې هغوی خېمې ودرولې وې هلته اوبه نه
وې، نو خلک د حضرت موسیٰ او حضرت هارون په ضد راغونډ
شول. ۳ هغوی حضرت موسیٰ ته شکايت وکړ او ويې ويل: <دا
به ښه وای چې مونږ د نورو اسراييليانو سره د څښتن په حضور کې
مړه شوي وای. ۴ تا ولې دې دښتې ته راوستلو؟ يوازې د دې
دپاره چې د خپلو حيواناتو سره دلته مړه شو؟ ۵ ولې دې مونږ له
مصر څخه دې خوار ځای ته چې هيڅ شی په کې نه شنه کيږي
راوستلو؟ دلته نه غله شته، نه اينځران، نه انګور او نه انار. حتیٰ د
څښلو اوبه هم دلته نشته!>

۶ حضرت موسیٰ او حضرت هارون د خلکو څخه لېرې لاړل او
د مقدسې خېمې په دروازه کې ودرېدل. هغوی په ځمکه باندې
پړمخې پرېوتل او د څښتن جلال ورته ښکاره شو. ۷ څښتن
حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۸ <هغه امسا چې د لوظ د صندوق

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په مخ کې پرته ده راواخله او بیا ته او هارون ټول قوم راغونډ کړئ. د هغو ټولو په مخ کې هغه ګټ ته ووایئ چې اوبه ورڅخه جاري شي. په دې ډول به ته د ګټ څخه خلکو او د هغو حیواناتو ته د څښلو دپاره اوبه راوباسې.>

٩ نو حضرت موسیٰ لاړ او څنګه چې څښتن ورته حکم کړی ؤ،
امسا یې راواخیستله. ١٠ هغه او حضرت هارون ټول قوم د ګټ
مخې ته راغونډ کړ او حضرت موسیٰ ورته وفرمایل: <ای سرکشو خلکو، واورئ! آیا مونږ باید تاسو ته د دې ګټ څخه اوبه
راوباسو؟> ١١ بیا حضرت موسیٰ امسا پورته کړه او ګټ یې دوه
ځلې ورباندې وواهه او د هغه څخه د اوبو یوه لویه ویاله جاري شوه او ټولو خلکو او حیواناتو هغه وڅښلې.

١٢ مګر څښتن حضرت موسیٰ او حضرت هارون ورټل او ورته وېې فرمایل: <څرنګه چې تاسو په ما باندې اعتماد ونه کړ چې د اسراییلو د خلکو په مخکې زما د پاک قدرت احترام وکړئ نو تاسو به ونشئ کولی چې هغوی هغې خاورې ته بوځئ چې د هغې د ورکولو وعده مې د هغوی سره کړې ده.>

١٣ دا پېښه په مریبه کې وشوه، یعنې هغه ځای چې اسراییلیانو په کې د څښتن په ضد شکایت وکړ او څښتن هغوی ته خپل مقدس توب وروښود.

## اسراییلیانو ته اجازه نه ورکول کیږي چې د ادوم څخه تېر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي

١۴ حضرت موسیٰ د قادش څخه د ادوم پادشاه ته استازي ولیږل
چې دا پیغام ورته ورسوي: <مونږ اسراییلیان ستاسو خپل خپلوان یو
او تاسو خبر یئ چې په مونږ باندې څومره سختۍ تېرې شوې، ١۵
څنګه زمونږ نیکونه مصر ته لاړل او مونږ د ډېرو کلونو دپاره هلته
اوسېدلو. مصریانو زمونږ د نیکونو او زمونږ سره بده رویه وکړه ١۶
او مونږ څښتن ته د مرستې دپاره فریاد وکړ. هغه زمونږ فریاد واورېد
او فرښته یې راولیږله او مونږ یې د مصر څخه راوویستلو. اوس مونږ
په قادش کې یو چې دا یو ښار دی چې ستاسو د سیمې سره سرحد
لري. ١٧ مهرباني وکړئ مونږ ته اجازه راکړئ چې ستاسو له هېواد
څخه تېر شو. مونږ به خپله لاره نه خوشې کوو او ستاسو پټیو او د
انګورو باغونو ته به نه ورننوزو او ستاسو د کوهیانو څخه به هیڅ اوبه
ونه څښو. مونږ به په عمومي لاره باندې ځو ترڅو ستاسو د سیمې
څخه ووزو.>

١٨ مګر ادومیانو په ځواب کې وویل: <نه، مونږ به تاسو پرېنږدو
چې زمونږ د هېواد په لاره باندې لاړ شئ! او که چېرې تاسو د دې
کار هڅه وکړئ، مونږ به ووزو او حمله به درباندې وکړو.>

١٩ د اسراییلو خلکو وویل: <مونږ به په عمومي لاره باندې ځو او
که مونږ یا زمونږ حیواناتو ستاسو اوبه وڅښلې، مونږ به یې بیه
درکړو. مونږ یوازې غواړو چې تېر شو.>

٢٠ مګر ادومیانو بیا وویل: <مونږ یې نه منو!> او هغوی د یو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قوي لښکر سره ووتل چې د اسراييلو په خلکو باندې حمله وکړي.
٢١ څرنګه چې ادوميانو اسراييليانو ته اجازه ورنه کړه چې د
هغوی د سيمې له لارې تېر شي، نو اسراييليان بېرته ستانه شول او په
بله لاره باندې لاړل.

## د حضرت هارون وفات کېدل

٢٢ د اسراييلو ټول قوم له قادش څخه لاړ او د هور غره ته
ورسېدل، ٢٣ يعنې د ادوم سرحد ته. په هغه ځای کې څښتن
حضرت موسیٰ او حضرت هارون ته وفرمايل: ٢٤ <هارون به
هغې خاورې ته داخل نه شي چې د هغې د ورکولو وعده مې د
اسراييليانو سره کړې ده. هغه به مړ شي، ځکه چې تاسو دواړو په
مريبه کې زما د حکم څخه سرغړونه وکړه. ٢٥ هارون او د هغه
زوی العازار درسره واخله او د هور د غره سرته يې وخېژوه ٢٦ او
په هغه ځای کې د هارون څخه د کاهنۍ کالي وباسه او العازار ته يې
ورواغونده. هارون به هلته مړ شي.>

٢٧ څه چې څښتن حکم کړی ؤ حضرت موسیٰ هماغسې وکړل.
ټول قوم ورته کتل چې هغوی د هور د غره سرته وختل. ٢٨
حضرت موسیٰ د حضرت هارون څخه د کاهنۍ کالي لېرې کړل او د
هغه زوی العازار ته يې ورواغوستل. حضرت هارون هلته د هور د
غره په سر باندې وفات شو او حضرت موسیٰ او العازار بېرته راکوز
شول. ٢٩ کله چې د اسراييلو ټول قوم خبر شو چې حضرت
هارون وفات شوی دی نو هغوی دېرش ورځې د هغه په مرګ باندې
غم او ژړا وکړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اسراییلیان کنعانیانو ته په حرمه کې ماتې ورکوي

۲۱ ۱ د عراد کنعانی پادشاه د کنعان په جنوب کې اوسېده او
کله چې هغه واورېدل چې اسراییلیان د اتاریم کلي ته راروان دي،
هغه ورباندې حمله وکړه او د هغو څخه يې ځینې ونیول. ۲ نو
اسراییلیانو څښتن ته نذر ومانه: <که چېرې ته مونږ په دې خلکو
باندې بریالي کړې، مونږ به هغوی او د هغوی ښارونه بې له کوم
شرط څخه تاته وقف کړو او هغوی به له منځه یوسو.> ۳ څښتن
د دوی دعا قبوله کړه او د هغوی سره يې مرسته وکړه چې په
کنعانیانو باندې بریالي شي. نو اسراییلیانو هغوی او د هغوی ښارونه
بېخي له منځه يوړل او هغه ځای يې د حرمه په نوم یاد کړ.

## حضرت موسیٰ یو برنجي مار جوړوي

۴ اسراییلیان د هور د غره څخه لاړل او په هغې لارې باندې
روان شول چې سرې بحیرې ته تللې ده، د دې دپاره چې د ادوم د
سیمې په شاوخوا باندې راوګرځي. مګر خلکو په لاره کې خپله
حوصله له لاسه ورکړه ۵ او د خدای پاک او حضرت موسیٰ په
ضد يې خبرې وکړې. هغوی شکایت وکړ: <مونږه مو ولې د مصر
څخه راوویستلو چې په دې دښته کې مړه شو، چېرته چې نه ډوډۍ
شته او نه اوبه؟ مونږ نور د دې خراب خوراک څخه تنګ شوي
یو!> ۶ بیا څښتن په هغوی باندې زهر لرونکي ماران نازل کړل
او ډېر اسراییلیان يې وچیچل او مړه شول. ۷ خلک حضرت
موسیٰ ته ورغلل او ويې ویل: <مونږ ګناه کړې ده چې د څښتن او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا په ضد مو خبرې کړې دي. اوس څښتن ته دعا وکړه چې دا
ماران لېرې کړي.> نو حضرت موسیٰ د خلکو دپاره دعا وکړه. ۸
څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <یو فلزي مار جوړ کړه او د
یوې پایې په سر باندې یې ځوړند کړه. هرڅوک چې چیچل کیږي نو
کله چې هغه فلزي مار ته وګوري ژوندی به پاتې کیږي.> ۹ نو
حضرت موسیٰ یو برنجي مار جوړ کړ او هغه یې د یوې پایې په سر
باندې ځوړند کړ. هرڅوک به چې مار چیچه هغه به برنجي مار ته
کتل نو ژوندی به پاتې کېده.

## موآب ته د اسراییلیانو سفر

۱۰ اسراییلیان روان شول او د اوبوت سره یې خېمې ودرولې. ۱۱
کله چې هغوی له هغه ځای څخه لاړل، د عیی عباریم په دښته کې د
موآب د سیمې ختیځ خواته یې خېمې ودرولې، ۱۲ بیا یې د زارد د
خوړ په څنګ کې خېمې ودرولې. ۱۳ بیا له هغه ځای څخه روان
شول او د ارنون د سیند په شمال کې په هغې دښتې کې یې چې د
اموریانو د سیمې پورې غزېدلې ده خېمې ودرولې. (ارنون د موآبیانو
او اموریانو ترمنځ سرحد ؤ.) ۱۴ له همدې کبله د څښتن د جنګونو
په کتاب کې ویل شوي دي چې د واهیب ښار او د هغه ویالې د
سوفه په سیمه کې دي، د ارنون سیند او ۱۵ د هغه درې د موآبیانو
د سرحد تر څنګ پرتې دي او د عار تر ښاره پورې رسېدلې دي.

۱۶ له هغه ځای څخه دوی یو بل ځای ته چې د کوهي په نوم
یادېده لاړل، یعنې هغه ځای ته چېرته چې څښتن حضرت موسیٰ ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وفرمایل: <خلک سره راغونډ کړه چې د څښلو دپاره اوبه ورکړم.>
١٧ په هغه وخت کې د اسراییلو خلکو دا روحاني سندره وویله:

<ای کوهیه! راوباسه اوبه خپلې

هرکلی به ورته وایو په سندرې

١٨ هغه کوهی چې کیندل شوی شهزادګانو له خوا

او د قوم د مشرانو له خوا

دی کیندل شوی په شاهي امسا

او د هغوی په امساګانو باندې>

هغوی له دښتې څخه متانې ته لاړل ١٩ او له هغه ځایه نحلیئیل ته
لاړل او د نحلیئیل څخه باموت ته ٢٠ او له باموت څخه هغې درې
ته لاړل چې د موآبیانو په سیمه کې ده او د پیسګاه د غره لاندې ده
او له هغه ځای څخه ښکته دښته لیدل کیږي.

## اسراییلیان د اموریانو پادشاه سیحون ته ماتې ورکوي

(تثنیه ۲: ۲۶ – ۳۷)

٢١ د اسراییلو خلکو د اموریانو پادشاه سیحون ته استازي ورولېږل
چې هغه ته داسې ووایي: ٢٢ <مهرباني وکړئ مونږ پرېږدئ چې
ستاسو په سیمه باندې تېر شو. مونږ به خپله لاره نه خوشې کوو او
ستاسو پټیو او د انګورو باغونو ته به نه ورننوزو او ستاسو د کوهیانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښخه به هيڅ اوبه ونه ښښو. مونږ به په عمومي لاره باندې ځو، ترڅو
ستاسو د سيمې څخه ووزو.> ٢٣ مګر سيحون اسراييليان
پرېښښودل چې د هغه د وطن له لارې سفر وکړي. د دې په ځای،
هغه خپل ټول لښکر سره راغونډ کړ او دښتې ته ووت چې د ياهص
ښار ته نژدې په اسراييليانو باندې حمله وکړي. ٢٤ مګر اسراييليانو
خپل ډېر دښمنان په دې جګړه کې ووژل او د هغوی سيمه يې په
جنوب کې د ارنون د سيند څخه نيولې په شمال کې د يبوق تر سيند
پورې ونيوله. د يبوق بلې خواته د عمونيانو سيمه وه او د هغوی
سرحد ډېر قوي ؤ.

٢٥ نو اسراييليانو د اموريانو ټول ښارونه چې په هغو کې حشبون
او د هغه شاوخوا کلي هم شامل وو ونيول او هلته اوسېدل. ٢٦
حشبون د اموريانو د پادشاه سيحون پايتخت ؤ. سيحون د موآب د
پخواني پادشاه سره جګړه کړې وه او د ارنون د سيند پورې يې د
هغه ټوله خاوره نيولې وه. ٢٧ په دې سبب شاعران وايي:

<راشئ حشبون ته يعنې ښار ته د سيحون پادشاه!

غواړو هغه بېرته آباد ووينو!

٢٨ په يو وخت کې د حشبون له دغه ښاره

د سيحون لښکرې لاړې مخکې لکه اور

په موآب کې يې برباد کړ د عار ښار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړې بربادې يې غونډۍ ارنون دپاسه

۲۹ افسوس په تاسو موآبيانو باندې!

ای د کموش عبادت کوونکو برباد شوئ تاسې!

ستاسو خدای پرېښودل خلک چې مهاجر شي

ښځې شولې اسيرانې د اموريايي پادشاه په لاس

۳۰ مګر اوس ده برباد شوې اولاده د هغوی

په ټوله لاره د حشبون نه تر ديبونه پورې

تر نوفح چې ده ميدبا ته نژدې>

۳۱ نو اسراييليان د اموريانو په سيمه کې اوسېدل. ۳۲ نو حضرت
موسیٰ يو څو نفره ولېږل چې د يعزير په ښار باندې د حملې دپاره
يوه ښه لاره راپيدا کړي. اسراييليانو هغه ښار او د هغه شاوخوا کلي
ونيول او هغه اموريان چې هلته اوسېدل هغوی يې وشړل.

## اسراييليان د باشان پادشاه عوج ته ماتې ورکوي

(تثنيه ۳: ۱ – ۱۱)

۳۳ بيا اسراييليان راوګرځېدل او د باشان په لاره باندې روان شول.
د باشان پادشاه عوج د خپلو ټولو لښکرو سره روان شو چې په
ادرعي کې په هغوی باندې حمله وکړي. ۳۴ څښتن حضرت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

موسیٰ ته وفرمایل: <د عوج څخه مه وېرېږه. زه به تاته په هغه، د
هغه په ټولو خلکو او خاوره باندې برى درکړم. د هغه سره هغه کار
وکړه چې د اموریانو د پادشاه سره دې چې حشبون یې پایتخت ؤ
کړى ؤ.> ۳۵ نو اسراییلیانو عوج، د هغه زامن او د هغه ټول خلک
ووژل، یو هم ژوندى پاتې نه شو او بیا یې د هغه خاوره ونیوله.

## د موآب پادشاه بلعام راغواړي

۲۲ ۱ اسراییلیان د هغه ځاى څخه روان شول او د موآب په
ډاګونو کې د اردن د سیند ختیځ خواته اریحا ته مخامخ یې خېمې
ودرولې.

۲-۳ کله چې د موآب پادشاه بالاق د صفور زوى واورېدل
چې اسراییلیان څومره ډېر وو او د اموریانو سره یې څه کړي وو، نو
هغه او د هغه خلک ډېر سخت ووېرېدل. ۴-۵ موآبیانو د
مدیانیانو مشرانو ته وویل: <هرڅه چې زمونږ په شاوخوا کې دي دا
لوى لښکر به هغه داسې ژر له منځه یوسي لکه یو غویی چې په پټي
کې واښه خوري.> نو بالاق پادشاه استازي ولېږل چې د بعور زوى
بلعام چې د فرات سیند ته نژدې د فتور په ښار کې په خپل اصلي
وطن کې اوسېده راوغواړي. هغوى دغه پیغام د بالاق څخه هغه ته
راوړ: <زه ستا مرستې ته اړتیا لرم. د مصر څخه یو لوى قوم راغلى
دى او خلک یې په هرځاى کې خپاره شوي دي او زما سیمې ته
نژدې اوسېږي. ۶ هغوى ډېر قوي دي او مونږ ورته ماتې نه شو
ورکولى، نو آیا ته به راشې او زما دپاره به په هغوى باندې لعنت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووایې؟ کېدای شي بیا مونږ وکولی شو چې هغوی ته ماتې ورکړو او
له دې خاورې څخه یې وشړو. زه پوهېږم چې هر چاته چې ته برکت
ورکړې هغه به برکت ومومي، مګر په هرچا باندې چې لعنت ووایې
په هغه باندې به لعنت راشي.>

٧ د موآب او د مدیان مشران لاړل او پیسې یې د ځانه سره
واخیستلې چې بلعام ته یې د فال دپاره ورکړي. کله چې هغوی د
هغه کور ته ورسېدل، د بالاق پیغام یې ورکړ. ٨ بلعام په ځواب
کې وویل: <شپه دلته تېره کړئ او سبا به بېرته تاسو ته د ښتن هغه
ځواب راوړم چې ماته یې راکوي.> نو مشران د هغه په کور کې
پاتې شول.

٩ په هماغه شپه خدای پاک بلعام ته ورغی او پوښتنه یې ورڅخه
وکړه: <ستا په کور کې دا خلک څوک دي؟>

١٠ بلعام په ځواب کې وویل: <دا د موآب د پادشاه بالاق استازي
دي. هغه دوی رالېږلي دي ١١ چې ما د دې دپاره د ځانه سره
موآب ته بوځي چې په هغو خلکو باندې لعنت ووایم چې له مصر
څخه هلته راغلي دي. هغوی په ټول وطن کې خپاره شوي دي او
دی غواړي چې ویې شړي.>

١٢ مګر خدای پاک په ځواب کې وفرمایل: <د بالاق د استازو
سره مه ځه. ما هغو خلکو ته چې له مصر څخه راغلي دي برکت
ورکړی دی، نو په هغوی باندې لعنت مه وایه.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٣ سهار بلعام د بالاق استازو ته ووېل: <بېرته خپل وطن ته لاړ
شئ. څښتن ماته اجازه نه راکوي چې تاسو سره لاړ شم.> ١٤ نو
هغوی لاړل او بالاق ته يې ووېل چې بلعام د راتګ څخه انکار وکړ.

١٥ بيا بالاق زيات شمېر مشران ورولېږل چې د اولنی ډلې څخه
ډېر مهم خلک په کې وو. ١٦ هغوی بلعام ته ورغلل او ورته ويې
ويل چې بالاق وايي: <بلعامه، ته بايد خامخا راشې! ١٧ زه به
ډېرې پيسې درکړم او هرڅه چې ته غواړې هغه به وکړم. راشه او زما
دپاره په دغو خلکو باندې لعنت ووايه.>

١٨ خو بلعام په ځواب کې ووېل: <حتیٰ که چېرې بالاق ماته
خپله ماڼۍ هم راکړي چې د سرو زرو او سپينو زرو څخه ډکه وي،
حتیٰ زه به په يوې ډېرې کوچنۍ موضوع هم د خپل څښتن خدای د
حکم څخه سرغړونه ونه کړم. ١٩ تاسو کولی شئ چې دلته شپه
تېره کړئ لکه څنګه چې هغو نورو تېره کړه. زه به دا معلومه کړم چې
څښتن په دې هکله ماته نور څه وايي يا نه.>

٢٠ په هغه شپه خدای پاک بلعام ته وفرمايل: <که چېرې هغه نفر
تاته راغلل او درڅخه يې وغوښتل چې ورسره لاړ شې نو ځان تيار
کړه او ورسره لاړ شه، مګر يوازې هغه کار به کوې چې زه يې درته
وايم.> ٢١ نو بلعام سهار راپاڅېده او په خپله خره باندې يې کته
واچوله او د موآبيانو د مشرانو سره لاړ.

## بلعام او د هغه خره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٢ خدای پاک په قهر شو چې بلعام لاړ. بلعام په خپلې خرې
باندې سپور ؤ او خپل دوه نوکران يې ورسره وو. د ثښتن فرښته په
لاره کې ودرېدله چې مخه يې ونيسي. ٢٣ کله چې د بلعام خرې د
ثښتن فرښته وليدله چې په لاره کې ولاړه ده او توره يې په لاس
کې ده، نو لاره يې پرېښودله او په پټي کې روانه شوه. بلعام خره
ووهله چې بېرته يې لارې ته راولي. ٢٤ بيا فرښته د انګورو د دوو
باغونو په منځ کې په يوه تنګه لاره کې چې دواړو خواو ته يې دېوال
ؤ ودرېدله. ٢٥ کله چې خرې فرښته وليدله، هغه دېوال ته دومره
نژدې روانه شوه چې د بلعام پښه په دېوال باندې وسولېدله. بلعام بيا
خره ووهله. ٢٦ فرښته يو ځل بيا مخکې لاړه او په يو داسې تنګ
ځای کې ودرېدله چې د خرې دپاره ببخې ځای نه ؤ چې ښي يا
چپ خوا ته وګرځي. ٢٧ په دې وخت کې چې کله خرې فرښته
وليدله، نو هغه پرېوتله. بلعام په قهر شو او په خپله امسا باندې يې د
خرې په وهلو شروع وکړه. ٢٨ بيا ثښتن خرې ته دا توان ورکړ
چې خبرې وکړي او خرې بلعام ته وويل: <ما ستا سره څه کړي دي
چې درې ځلې دې ووهلم؟>

٢٩ بلعام په ځواب کې ووېل: <تا راڅخه احمق جوړ کړ! که
چېرې توره راسره وای نو ته به مې همدلته وژلې وای!>

٣٠ خرې په ځواب کې ووېل: <زه هماغه خره نه يم چې ټول
عمر راباندې سپور شوی يې؟ آيا مخکې مې کله درسره داسې کار
کړی ؤ؟>

بلعام په ځواب کې ووېل: <نه.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣١ بیا څښتن د بلعام سترګې پرانیستلې او هغه فرښته یې ولیدله
چې د تورې سره په لاره کې ولاړه وه. بلعام خپل ځان پړمخې په
ځمکه باندې وغورزاوه. ٣٢ فرښتې وفرمایل: <ولې دې خپله خره
درې ځلې ووهله؟ دا زه وم چې ستا لاره مې بنده کړې وه، ځکه چې
ته باید موآب ته لاړ نه شې. ٣٣ که چېرې ستا خرې زه درې ځلې
لیدلې نه وای او ودرېدلې نه وای، ما به ته وژلی وای او خره به مې
ژوندۍ پرېښې وای.>

٣٤ بلعام په ځواب کې وویل: <ما ګناه وکړه. زه نه پوهېدم چې ته
په لاره کې ولاړه وې چې زما مخه ونیسې. که چېرې ته فکر کوې
چې دا بده ده چې زه لاړ شم، زه به کور ته ستون شم.>

٣٥ مګر فرښتې وفرمایل: <د دې خلکو سره لاړ شه، مګر یوازې
هغه څه به وایې چې زه یې درته وایم.> نو بلعام د هغو مشرانو سره
روان شو.

## بالاق پادشاه بلعام ته هرکلی وایي

٣٦ کله چې بالاق واورېدل چې بلعام راروان دی، هغه لاړ چې په
عار کې یعنې هغه ښار کې چې د ارنون په سیند باندې د موآب د
سرحد سره پروت دی د هغه سره ملاقات وکړي. ٣٧ بالاق بلعام
ته وویل: <کله چې اول ځل ما راوغوښتلې ولې رانغلې؟ آیا تا دا
فکر کاوه چې ما نه شو کولی چې پوره انعام درکړم؟>

٣٨ بلعام په ځواب کې وویل: <زه اوس تاته راغلی یم، مګر زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څه قدرت لرم؟ زه اوس یوازې هغه څه ویلی شم چې خدای پاک یې
راته ووایي.> ۳۹ نو بلعام د بالاق سره د حصوت ښار ته لاړ.
۴۰ بالاق هلته غوایان او پسونه قرباني کړل او لږه غوښه یې بلعام
او هغو مشرانو ته چې د هغه سره وو، ورکړه.

۴۱ بالاق سهار بلعام د بموت بعل ښار ته پورته بوته. د هغه ځای
څخه بلعام ځینې اسراییلیان لیدلی شول.

## د بلعام اول پیغام

۲۳ ۱ بلعام بالاق ته وویل: <دلته زما دپاره اووه د قربانۍ
ځایونه جوړ کړه، بیا اووه غوایان او اووه پسونه راوله.> ۲ څنګه
چې بالاق ته ویل شوي وو، هغه هماغسې وکړل او هغه او بلعام په
هره قربانګاه باندې یو یو غویی او یو یو پسه قرباني کړ.

۳ بیا بلعام بالاق ته وویل: <دلته د خپلې سوزېدونکې نذرانې
سره ودرېږه، زه ځم چې وګورم څښتن زما سره د ملاقات دپاره
راځي او که نه. هرڅه چې هغه راته ووایي هغه به تاته ووایم.> نو
بلعام د غونډۍ سرته یوازې لاړ ۴ او خدای پاک د هغه سره
ملاقات وکړ. بلعام هغه ته وویل: <ما اووه د قربانۍ ځایونه جوړ
کړي دي او په هر یو باندې مې یو یو غویی او یو یو پسه قرباني
کړی دی.>

۵ څښتن بلعام ته یو پیغام ورکړ، بیا یې هغه بېرته ولېږه چې
بالاق ته یې ورسوي. ۶ نو هغه بېرته لاړ او ویې لیدل چې بالاق

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د موآبیانو د ټولو مشرانو سره د خپلې نذرانې په څنګ کې ولاړ دی.

٧ بلعام دا پیغام ورکړ:

<د موآب پادشاه بالاق زه راوستلم

له سوریې یعنې ختیځو غرونو

هغه ویل راشه خبرې وکړه ما دپاره

ته لعنت ووایه په قوم د اسراییلو باندې

٨ څنګه په هغه چا لعنت ووایم

په چا چې خدای لعنت ویلی نه وي؟

څنګه د هغوی په ضد خبرې وکړم

د چا په ضد چې څښتن نه دي کړې؟

٩ لوړو ګټانو څخه زه شمه هغوی لیدلی

شمه کتلی هغوی زه د غونډیو څخه

دا یو قوم دی چې اوسیږي ځانله

هغوی خپل ځانونه په نورو قومونو کې نه شماري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ د اسراييلو اولاده ده لکه خاورو په شان

دوی دومره ډېر دي چې حساب يې نه شي

پرېږده چې مړ شمه زه د خدای د قوم په شان

پرېږده په سوله کې چې مړ شم د نېکانو په شان>

۱۱ بيا بالاق بلعام ته وويل: <دا څه دې راسره وکړل؟ ما د دې
دپاره راوغوښتلې چې زما په دښمنانو باندې لعنت ووايې. مګر د
هغې په ځای تا هغوی ته برکت ورکړ!>

۱۲ بلعام په ځواب کې وويل: <زه يوازې هغه څه ويلی شم چې
څښتن راته وايي.>

## د بلعام دوهم پيغام

۱۳ بالاق بلعام ته وويل: <راځه چې يو بل ځای ته لاړ شو چېرته
چې ته کولی شې يوازې ځينې اسراييليان ووينې، له هماغه ځای
څخه زما په خاطر په هغوی باندې لعنت ووايه.> ۱۴ نو هغه بلعام
د صوفيم پټي ته چې د پيسګاه د غره په سر ؤ بوته. په هغه ځای کې
هم هغه اووه د قربانۍ ځايونه جوړ کړل او په هر يو باندې يې يو يو
غويی او يو يو پسه قرباني کړ.

۱۵ بلعام بالاق ته وويل: <دلته د خپلې سوزېدونکې نذرانې په
څنګ کې ودرېږه او زه به هلته د څښتن سره ملاقات وکړم.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ څښتن د بلعام سره ملاقات وکړ او يو بل پيغام يې ورکړ، بيا يې
ورته وفرمايل: <لاړ شه او بالاق ته يې ورسوه.> ۱۷ بلعام بېرته
لاړ او ويې ليدل چې بالاق د خپلې سوزېدونکې نذرانې په څنګ کې
د موآبيانو د مشرانو سره ولاړ دی. بالاق پوښتنه وکړه: <څښتن څه
وويل؟> ۱۸ بلعام بيا پيغام ورکړ:

<راشه ای بالاقه د صفور زويه

غوږ دې ونيسه چې څه درته زه وايم

۱۹ خدای د خلکو په شان نه دی چې دروغ ووايي

انسان نه دی چې بدله اراده کړي

رسوي سرته چې کړي کومې وعدې

څه چې وايي هغه کاندي

۲۰ ماته شوې لاربنوونه چې زه ورکړم برکت

خدای چې کوم وخت کې برکت ورکوي

هغه زه بېرته ګرځولی نه شم

۲۱ کړم پېشګويي چې مستقبل د اسراييلو

به رانه وړي بدبختي او تکليفونه دوی ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل څښتن خدای یې مل دی دوی سره

وايي په جار هغه پادشاه دی د دوی

٢٢ خدای دوی راوويستل له مصر څخه

په ډېر قوت سره جنګيږي دی هغوی دپاره

٢٣ هيڅ جادو او کوډې نشته

چې په ضد د اسراييلو وکړي کار

د اسراييلو په باره کې به اوس خلک وايي

وګورئ خدای هغوی ته څه وکړل

٢۴ دي هغوی د قهر شويو زمريانو په شان

چې دي تيار حملې ته

ترڅو چې ونه خوري خپل ښکار او وينه يې ونه څښي

تر هغې پورې به ونه کړي ارام>

٢۵ نو بالاق بلعام ته ووېل: <نه په هغوی باندې لعنت ووايه او نه ورته برکت ورکوه!>

٢۶ بلعام په ځواب کې ووېل: <ما مخکې تاته ووېل چې زه به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هرڅه د څښتن د وینا په مطابق کوم.>

## د بلعام دریم پیغام

۲۷ بالاق بلعام ته وویل: <ما سره راشه چې یو بل ځای ته دې
بوځم. کېدای شي چې خدای تا پرېږدي چې زما دپاره له هغه ځایه
په اسراییلیانو باندې لعنت ووایې.> ۲۸ نو هغه بلعام د فغور د غره
سر ته وخېژاوه چې له هغه ځایه ښکته دښتې ته وګوري. ۲۹ بلعام
هغه ته وویل: <دلته زما دپاره اووه د قربانۍ ځایونه جوړ کړه، بیا
ماته اووه غوایان او اووه پسونه راوله.> ۳۰ څنګه چې بالاق ته
ویل شوي وو هماغسې یې وکړل، هغه په هرې قربانګاه باندې یو یو
غویی او یو یو پسه قرباني کړ.

# ۲۴

۱ بلعام په دې یقین درلود چې څښتن به ورته وفرمایي
چې اسراییلیانو ته بیا برکت ورکړه. نو هغه د فال څخه هیڅ کار وانه
خیست چې معلومه کړي څښتن د هغه څخه څه غواړي چې ویې
کړي، لکه څنګه یې چې دوه ځلې مخکې کړي وو. د دې په ځای
یې د دښتې خواته وکتل ۲ او د اسراییلو خلک یې ولیدل چې
قبیله په قبیله یې خېمې ودرولې وې. بیا د خدای پاک روح په هغه
باندې نازل شو ۳ او بلعام دا پیغام ورکړ:

<د بعور د زوی بلعام پیغام دی

د هغه چا خبرې چې سترګې یې خلاصې شولې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ چې اورېدلی شي خبرې د خدای

څوک چې رویاویني د مطلق قادر خدای له خوا

څوک چې پړمخې پرېوزي او خلاصې يې دي سترګې

۵ د اسراييلو قومه

ستاسو کمپ دی ښکلی څومره

۶ د خرماګانو د اوږدو قطارونو په شان

د سيند په غاړه د باغونو په شان

چې دي کرلي څښتن د عود د ونو په شان

د سيند په غاړه د صبر د ونو په شان

۷ په دوی به وي باران پرېمانه

په آبي ځمکو کې کري به خپل تخمونه

له اجاج څخه به لوی د دوی پادشاه وي

وي به سرلوړې پادشاهي د هغه

۸ خدای دوی راوويستل له مصر څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په ډېر قوت سره جنګېږي دی هغوی دپاره

خپل دښمنان تباه کوي هغه

ماتوي د دوی هډوکي

او په غشو هغوی ولي

٩ دغه قوم د قوي زمري په شان دی

چې ويده وي هيڅوک نه شي کړای جرأت

چې يې راويښ کړي

په هغو به برکت وي څوک چې وايي برکت په اسراييلو

وي لعنت به په هغوی چې لعنت په اسراييلو باندې وايي>

١٠ کله چې بالاق دا واورېدل، نو د قهره يې خپل لاسونه سره
ومروړل او ويې ويل: <ما د دې دپاره راوغوښتلې چې زما په
دښمنانو باندې لعنت ووايې، مګر تا هغوی ته درې ځلې برکت ورکړ.
١١ اوس ځه ورک شه، خپل کور ته لاړ شه! ما ستا سره وعده
کړې وه چې ښه انعام به درکړم، خو څښتن ورځخه بې برخې
کړې.>

١٢ بلعام په ځواب کې وويل: <ما ستا استازو ته چې ماته دې
رالېږلي وو، ويلي وو ١٣ چې حتیٰ که چېرې ته ماته خپله ماڼۍ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د سرو زرو او سپینو زرو څخه ډکه ده هم راکړې، بیاهم زه نه
شم کولی چې د څښتن د امر په خلاف کوم کار وکړم. زه به یوازې
هغه څه وایم چې څښتن یې راته وایي. ۱۴ اوس زه بېرته خپلو
خلکو ته ورځم، خو مخکې له دې چې لاړ شم، زه تاته د هغه څه په
هکله یو خبرداری درکوم چې اسراییلیان به یې یوه ورځ ستا د قوم
سره وکړي.>

## د بلعام څلورم پیغام

۱۵ بیا بلعام دا پیغام ورکړ:

<د بعور د زوی بلعام پیغام دی

د هغه چا خبرې چې سترګې یې خلاصې شولې

۱۶ چې اورېدلی شي خبرې د خدای

او هغه پوهه مومي د خدای تعالیٰ له خوا نه

څوک چې رویا ویني د مطلق قادر خدای له خوا

څوک چې پړمخې پرېوزي او خلاصې یې دي سترګې

۱۷ خپلې رویا کې چې څه ما لیدلي

پېښې شوي نه دي لا تر اوسه پورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو یوه ورځ به راښکاره شي لکه ستوري په شان

د اسراییلو یو پادشاه

هغه به تاسو موآبیان ورک کړي

او د شیث ټول قوم به له منځه یوسي

١٨ هغه به وموميي برى په دښمنانو په ادوم کې

او د هغوى خاوره به کړي خپل ملکیت

خو قوي به اسراییل شي

١٩ پادشاهي به وکړي د اسراییلو پادشاه

د هر ښار پاتې شوي ژوندي خلک

به له منځه یوسي<

٢٠ بیا بلعام په خپله رویا کې عمالیقیان ولیدل او دا پیغام یې ورکړ:

>عمالیق د ټولو قومونو څخه ډېر قوي دی

مګر په آخر کې به هغه د تل دپاره له منځه لاړ شي<

٢١ هغه په خپله رویا کې قینیان ولیدل او دا پیغام یې ورکړ:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

<ستاسو ځای د اوسېدلو دی په امن

داسې امن لکه ځاله چې وي جوړه په ګټ باندې

٢٢ مګر تاسو قینیان به شئ تباه

آشوریان چې کله تاسو اسیران کړي>

٢٣ بلعام دغه پیغام ورکړ:

<هیڅوک ژوندی پاتې کېدلی نه شي

که خدای پلان د تباهی ولري

٢٤ رابه شي له سواحله د قبرسه کشتۍ ګانې

رابه وړي خلک چې کړي فتح آشور او عابر

خو په آخر کې به قبرس په خپله هم برباد شي>

٢٥ بیا بلعام راپاڅېده او بېرته خپل کور ته روان شو او بالاق هم
لاړ.

## موآبیان اسراییلیان بې لارې کوي

٢٥ ١ کله چې اسراییلیان په شطیم کې اوسېدل، ځینو سړیو د
موآبي ښځو سره زنا کول پیل کړل. ٢ دغو ښځو بیا هغه سړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغو مراسمو ته راوبلل چې د هغوی خدايانو ته په کې نذرانې وړاندې
کېدلې. هغو سړيو د قربانيو غوښه وخوړله او د موآبي خدايانو عبادت
يې وکړ. ۳ څښتن په اسراييليانو باندې په قهر شو ځکه چې
هغوی د بعل فغور د خدای عبادت کړی ؤ. ۴ نو هغه حضرت
موسیٰ ته وفرمايل: <د اسراييلو ټول مشران بوځه او په رڼا ورځ يې
زما په حضور کې اعدام کړه، بيا به زما سخت قهر په اسراييليانو
باندې سوړ شي.> ۵ حضرت موسیٰ هغو اسراييليانو ته چې د
قاضيانو په توګه يې کار کاوه وفرمايل: <تاسو هر يو بايد د خپلې
قبيلې هغه نفر ووژنئ چې د بعل فغور عبادت يې کړی دی.>

۶ يو اسراييلي سړي د حضرت موسیٰ او ټول قوم په مخ کې چې
هغوی د مقدسې خېمې په دروازه کې ژړل، يوه مديانۍ ښځه خپل
کور ته راوستله. ۷ د العازار زوی او د حضرت هارون کاهن
لمسي فينحاس هغه وليدل او د خلکو د ګڼې ګوڼې څخه لاړ. هغه يوه
نيزه راواخيستله ۸ او د هغه سړي پسې خېمې ته ورننوت او د
هغه په بدن او د ښځې په ګېډه کې يې ومنډله. په دې ډول څښتن هغه
وبا بنده کړه چې اسراييليان يې له منځه وړل، ۹ مګر وبا لا له
مخکې څخه ۲۴۰۰۰ نفره وژلي وو.

۱۰ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۱۱ <فينحاس د العازار
زوی او د حضرت هارون کاهن لمسي زما قهر چې په اسراييلو باندې
راغلی ؤ سوړ کړ. هغه په ما باندې غيرت وکړ نو په دې خاطر مې
هغوی تباه نه کړل. ۱۲ نو ورته ووايه چې زه د هغه سره داسې لوظ
کوم چې د همېش دپاره به اعتبار ولري. ۱۳ هغه او د هغه اولاده به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د تل دپاره زما کاهنان وي، ځکه چې هغه د خپل خدای د عزت
دپاره غیرت وکړ او د اسراییلیانو دپاره یې کفاره ادا کړه.>

۱۴ د هغه اسراییلي نوم چې د مدیانۍ ښځې سره ووژل شو، د سالو
زوی زمري ؤ او هغه د شمعون د قبیلې یو مشر ؤ. ۱۵ د ښځې نوم
کزبي ؤ. د هغې پلار صور د مدیانیانو د طایفو یو مشر ؤ.

۱۶ څښتن حضرت موسیٰ ته امر وکړ: ۱۷ >په مدیانیانو باندې
حمله وکړه او هغوی ووژنه. ۱۸ دا د هغه بد کار له کبله چې تاسو
سره یې وکړ چې په فغور کې یې وغولولئ چې بعل فغور ته عبادت
وکړئ او د کزبي له کبله چې د یو مدیاني مشر لور وه او په فغور کې
د وبا په وخت کې ووژل شوه.>

## د اسراییلیانو دوهمه سرشمېرنه

# ۲۶
۱ له وبا څخه وروسته څښتن حضرت موسیٰ او د
حضرت هارون کاهن زوی العازار ته وفرمایل: ۲ >د اسراییلو د
ټول قوم سرشمېرنه د کورنیو په اساس وکړئ، یعنې د هغو ټولو خلکو
چې عمر یې شل کاله یا زیات وي او جنګ کولی شي.> ۳ په
هغه وخت کې د اسراییلو ټول قوم د موآب په ډاګونو کې اریحا ته
مخامخ د اردن د سیند په غاړه خېمې ودرولې وې.

نو حضرت موسیٰ او العازار کاهن د اسراییلو مشرانو ته د دې
سرشمېرنې په باره کې داسې لارښوونه وکړه: ۴ >لکه څنګه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښبښتن حضرت موسیٰ ته حکم کړی دی هغه ټول اسراییلیان چې
عمر يې شل کاله یا زیات وي وشمارئ.>

دا هغه اسراییلیان دي چې د مصر څخه راوتلي وو:

۵ د روبین د قبیلې څخه (روبین د حضرت یعقوب مشر
زوی ؤ): د حنوک، فلو، ۶ حصرون او کرمي طايفې، ۷
د دې طایفو شمېر ۴۳۷۳۰ تنه نارینه وو. ۸ د فلو اولاده:
الیاب ۹ او د هغه زامن نموئیل، داتان او ابیرام. (دا هماغه
داتان او ابیرام دي چې د قوم له خوا انتخاب شوي وو، مګر
هغوی د حضرت موسیٰ او حضرت هارون سره مخالفت وکړ
او د قورح د پیروانو سره یوځای شول او د ښبښتن په مقابل
کې يې سرکشي وکړه. ۱۰ ځمکه پرانیستل شوه او هغوی
يې د قورح سره ژوندي تېر کړل. په هماغه وخت کې اور
۲۵۰ تنه له منځه یوړل. هغوی نورو اسراییلیانو ته د
خبرداري په توګه وو. ۱۱ مګر د قورح زامن ونه وژل
شول.)
۱۲-۱۴ د شمعون د قبیلې څخه ۲۲۲۰۰ تنه وو، هغوی د
نموئیل، یامین، یاکین، زارح او شائول د طایفو څخه وو.
۱۵-۱۸ د جاد د قبیلې څخه ۴۰۵۰۰ تنه وو، هغوی د
صفون، حجي، شوني، ازني، عیري، ارود او ارئیلي د طایفو
څخه وو.
۱۹-۲۲ د یهودا د قبیلې څخه ۷۶۵۰۰ تنه وو، هغوی د
شیله، فارص، زارح، حصرون او حامول د طایفو څخه وو. د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یهودا زامن عیر او اونان په کنعان کې مړه شوي وو.
٢٣-٢٥ د یساکار د قبیلې ښځه ٦٤٣٠٠ تنه وو، هغوی د
تولع، فوه، یاشوب او شمرون د طایفو ښځه وو.
٢٦-٢٧ د زبولون د قبیلې ښځه ٦٠٥٠٠ تنه وو، هغوی د
سارد، ایلون او یحلیئیل د طایفو ښځه وو.
٢٨ د حضرت یوسف قبیلې چې هغه د دوو زامنو یعنې
منسي او افرایم پلار ؤ.
٢٩-٣٤ د منسي د قبیلې ښځه ٥٢٧٠٠ تنه وو، هغوی د
دغو طایفو ښځه وو: د منسي د زوی ماخیر طایفه، د هغه د
زوی جلعاد طایفه او د ماخیر د شپږو لمسیو طایفې: ایعزر،
حالق، اسریئیل، شکیم، شمیداع او حافر. د حافر زوی
صلفحاد هیڅ زامن نه درلودل، مګر پنځه لورګانې یې
درلودلې چې نومونه یې دا وو: محله، نوعه، حجله، ملکه او
ترصه.
٣٥-٣٧ د افرایم د قبیلې ښځه ٣٢٥٠٠ تنه وو، هغوی د
شوتالح، باکر، تاحن او د شوتالح د زوی عیران د طایفو
ښځه وو.
٣٨-٤١ د بنیامین د قبیلې ښځه ٤٥٦٠٠ تنه وو، هغوی د
بالع، اشبیل، احیرام، شفوفام، حوفام او د بالع د دوو زامنو ارد
او نعمان د طایفو ښځه وو.
٤٢-٤٣ د دان د قبیلې ښځه ٦٤٤٠٠ تنه وو، هغوی ټول
د شوحام د طایفې ښځه وو.
٤٤-٤٧ د اشیر د قبیلې ښځه ٥٣٤٠٠ تنه وو، هغوی د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یمنه، یشوي، بریعه او حابر او ملکیئیل یعني د بریعه د زامنو
د دوو طایفو څخه وو. سارح د اشیر لور وه.
۴۸-۵۰ د نفتالي د قبیلې څخه ۴۵۴۰۰ تنه وو، هغوی د
یاحصئیل، جوني، یصر او شلیم د طایفو څخه وو.
۵۱ په لست کې د اسراییلو د ټولو نفرو شمېر ۶۰۱۷۳۰ تنه
ؤ.

۵۲ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۵۳ <د کنعان ځمکه په
دغو قبیلو باندې د هغو نفرو د شمېر په مطابق چې په هرې قبیلې کې
دي ووېشه. ۵۴-۵۶ ځمکه د پچو په اساس ووېشه. لویې قبیلې
ته زیاته برخه او کوچنۍ قبیلې ته کمه برخه ورکړه.>

۵۷ د لاوي په قبیلې کې دا طایفې شاملې وې: جرشون، قهات،
مراري، ۵۸ او همدارنګه د لبني، حبرون، محلي، موشي او قورح
طایفې. قهات د عمرام نیکه ؤ. ۵۹ د عمرام د ښځې نوم یوکابد ؤ
چې د لاوي د اولادې څخه وه او په مصر کې زېږېدلې وه. د عمرام
او یوکابد درې اولادونه وو، یعني حضرت هارون، حضرت موسیٰ او
مریم. ۶۰ حضرت هارون د ناداب، ابیهو، العازار او ایتامار پلار ؤ.
۶۱ مګر ناداب او ابیهو په هغه وخت کې مړه شول کله چې هغوی
څښتن ته ناپاکه اور وړاندې کاوه.

۶۲ د لاوي په قبیله کې ۲۳۰۰۰ تنه نارینه وو او په هغو کې داسې
هلکان هم وو چې عمر یې لږ تر لږه یوه میاشت ؤ. د نورو قبیلو سره
د هغوی نومونه په لست کې نه وو ځکه چې هغوی ته په کنعان کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځمکه نه ورکول کېدله.

٦٣ په هغه وخت کې چې اسراییلیانو د موآب په ډاګونو کې د اردن
د سیند په بله غاړه اریحا ته مخامخ خېمې ودرولې وې، حضرت
موسیٰ او العازار هغوی وشمېرل. ٦٤ د هغو خلکو څخه چې
حضرت موسیٰ او حضرت هارون د سینا په دښته کې شمېرلي وو، یو
هم ژوندی پاتې نه ؤ. ٦٥ څښتن فرمایلي وو چې پرته د یفنه د
زوی کالیب او د نون زوی یوشع څخه نور ټول به په دښته کې مړه
شي.

## د صلفحاد لورګانې

٢٧ ١ محله، نوعه، حجله، ملکه او ترصه د صلفحاد لورګانې
وې. صلفحاد د حافر زوی ؤ، حافر د جلعاد زوی ؤ، جلعاد د ماخیر
زوی ؤ، ماخیر د منسي زوی ؤ او منسي د حضرت یوسف زوی ؤ.
٢ یوه ورځ د هغه لورګانې د مقدسې خېمې دروازې ته لاړلې او
هلته یې د حضرت موسیٰ، العازار کاهن، د اسراییلو نورو مشرانو او د
اسراییلو د ټول قوم سره لیدنه کتنه وکړه. هغوی وویل: ٣ <زمونږ
پلار په دښته کې مړ شو او د هغه څخه هیڅ زامن پاتې نه شول. هغه
د قورح د پیروانو څخه چې د څښتن په مقابل کې یې سرکشي کړې
وه، نه ؤ بلکه هغه د خپلې ګناه له کبله مړ شو. ٤ یوازې په دې
خاطر چې هغه هیڅ زامن نه درلودل، ولې زمونږ د پلار نوم له خپلې
طایفې څخه ورک شي؟ مونږ ته د خپل پلار د خپلوانو په منځ کې
ځمکه راکړئ.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ حضرت موسیٰ د هغوی دعوه څښتن ته وړاندې کړه ۶ او
څښتن هغه ته وفرمايل: <د صلفحاد لورګانې چې څه غواړي ۷
هغه صحيح دي. هغوی ته د خپل پلار د خپلوانو په منځ کې ځمکه
ورکړه. پرېږده چې د هغه ميراث د دوی شي. ۸ اسراييليانو ته
ووايه: کله چې يو سړی بې زويه مړ شي، د هغه لور ته به د هغه
ځمکه په ميراث پاتې شي. ۹ که چېرې هغه هيڅ لور ونلري، د
هغه ورونو ته به ځمکه په ميراث پاتې شي. ۱۰ مګر که چېرې هغه
هيڅ ورونه ونلري، د هغه ترونو ته به ځمکه په ميراث پاتې شي.
۱۱ که چېرې هغه ترونه ونلري، په هغه طايفه کې بايد د هغه
ترټولو نژدې خپلوان ته د هغه ځمکه ورکړل شي. د اسراييلو قوم بايد
دا د يو قانوني شرط په توګه رعايت کړي، لکه څنګه چې ما څښتن
تاته حکم وکړ.>

## يوشع د حضرت موسیٰ په ځای ټاکل کيږي

(تثنيه ۳۱: ۱ – ۸)

۱۲ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <د عباريم غرونو ته
وخېژه او هغه ځمکه وګوره چې زه يې اسراييليانو ته ورکوم. ۱۳
کله چې ته هغه ووينې، نو د خپل ورور هارون په شان به مړ شې،
۱۴ ځکه چې تاسو دواړو د صين په دښته کې زما د امر څخه
سرکشي وکړه. هغه وخت چې ټول قوم په مريبه کې زما په ضد
شکايت وکړ، تاسو د هغوی په مخکې زما د پاک قدرت احترام ونه
کړ.> (مريبه په قادش کې د صين په دښته کې يوه چينه ده.)

۱۵ حضرت موسیٰ دعا وکړه: ۱۶ <ای څښتن خدايه، ای د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوندون سرچینې، زه دعا کوم چې داسې یو نفر وټاکه چې د قوم
مشري کولی شي. ۱۷ ستا قوم یو داسې نفر ته اړتیا لري چې په
جګړه کې ورته لارښودنه وکړي. که نه، نو هغوی به د داسې میږو په
شان شي چې بې شپونه یو خوا او بل خوا سرګردانه ګرځي.>

۱۸ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <د نون زوی یوشع لایق
سړی دی، خپل لاس د هغه په سر باندې کېږده. ۱۹ بیا یې د
العازار کاهن او اسراییلیانو په مخ کې ودروه او یوشع د هغوی د نوي
مشر په توګه وټاکه. ۲۰ د خپلو اختیاراتو څخه دې لږ څه هغه ته
ورکړه، ترڅو د اسراییلو ټول قوم د هغه اطاعت وکړي. ۲۱ کله چې
د څښتن څخه د لارښوونې د اخیستلو دپاره ضرورت پېښ شي نو
یوشع باید العازار ته ورشي. العازار به د اوریم او تمیم په استعمالولو
سره د هغه رضا معلومه کړي. په دې ډول به یوشع او د اسراییلو ټول
قوم ته معلومه شي چې څه باید وکړي.>

۲۲ څنګه چې څښتن حضرت موسیٰ ته حکم کړی ؤ، هغه
هماغسې وکړل. هغه یوشع د العازار کاهن او د ټول قوم په مخکې
ودراوه، ۲۳ بیا هغه د یوشع په سر باندې خپل لاس کېښود او هغه
یې د اسراییلو مشر وټاکه.

## ورځنۍ نذرانې

(هجرت ۲۹: ۳۸ – ۴۶)

۲۸ ۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ <دا حکم د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اسراییلو قوم ته ورسوه او هغوی ته ووایه: ګورئ ماته به په ټاکلي
وخت کې د نذرانو په خاطر هغه خواږه وړاندې کوئ چې په اور
باندې تیاریږي. د داسې نذرانې بوی په ما باندې ښه لګیږي. ٣ دا
هغه نذرانې دي چې په اور باندې تیاریږي او باید څښتن ته د
ورځنۍ سوزېدونکې نذرانې دپاره وړاندې شي: دوه یو کلن وري چې
هیڅ عیب په کې نه وي. ٤ یو وری به په سهار کې قرباني کیږي
او بل په ماښام کې. ٥ هر وری باید د یو کیلوګرام ښو اوړو سره
چې یو لیتر د زیتونو سوچه تېل ورسره ګډ وي د غلې دانې د نذرانې
په توګه وړاندې شي. ٦ دا هغه ورځنۍ سوزېدونکې نذرانه ده چې
د اول ځل دپاره د سینا د غره په ښکنګ کې څښتن ته د یوې
خوشالوونکې خوشبویۍ په توګه وړاندې شوې وه. ٧ په آخر کې
د دغو دوو نذرانو سره یو یو لیتر د انګورو شربت د څښلو د نذرانې
په توګه باید څښتن ته په قربانګاه باندې توی شي. ٨ دوهم وری
په ماښام کې د غلې دانې او څښلو د هماغه شان نذرانې سره تیار
کړئ کوم چې تاسو یې په سهار کې تیاروئ. دا یوه داسې نذرانه ده
چې په اور باندې تیاریږي او یو داسې بوی دی چې په څښتن باندې
ښه لګیږي.

## د سبت د ورځې نذرانې

٩-١٠ د هر سبت په ورځ باید تاسو د عادي ورځنیو نذرانو
څخه علاوه دوه یو کلن وري وړاندې کړئ. په دغو وریو کې باید
هیڅ عیب نه وي. هغه باید د څښلو د نذرانې او د دوو کیلوګرامه ښو
اوړو سره چې د زیتونو تېل ورسره ګډ وي یعنې د غلې دانې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نذرانې سره يوځای وړاندې شي.

## هغه نذرانې چې د مياشتې په اوله ورځ وړاندې کيږي

١١ د هرې مياشتې په اوله ورځ دوه ځوان غوايان، يو پسه او اووه
يو کلن ورې چې په ټولو کې هيڅ عيب نه وي، څښتن ته د
سوزېدونکې نذرانې دپاره وړاندې کړئ. ١٢ درې کيلوګرامه ښه
اوړه چې د زيتونو تېل ورسره ګډ وي بايد د هر غويي سره د غلې
دانې د نذرانې په توګه وړاندې شي. دوه کيلوګرامه اوړه چې تېل
ورسره ګډ وي بايد د پسه سره وړاندې شي ١٣ او يو کيلوګرام اوړه
چې تېل ورسره ګډ وي بايد د هر ورې سره وړاندې شي. دا د
سوزېدونکې نذرانې دپاره دي، دا يوه داسې نذرانه ده چې بوی يې په
څښتن باندې ښه لګيږي.

١٤-١٥ د هر غويي سره دوه ليتره، د پسه سره يونيم ليتر او د هر
ورې سره يو ليتر د انګورو شربت د څښلو د نذرانې په توګه وړاندې
کړئ. په آخر کې بايد يو وز د ګناه د نذرانې په توګه څښتن ته
وړاندې کړئ. دا هغه سوزېدونکې نذرانې دي چې د ورځنيو عادي
نذرانو څخه علاوه بايد د هرې مياشتې په اوله ورځ وړاندې شي.

## د فطيري ډوډۍ د اختر نذرانې

(لاويان ٢٣: ٥ – ١٤)

١٦ د هر کال د اولې مياشتې په څوارلسمه ورځ څښتن ته د احترام
کولو په خاطر د فسحې اختر لمانځئ. ١٧ په پنځلسمه ورځ به د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فطيرې ډوډۍ اختر وي چې يوه هفته به دوام ومومي. په دې دوران
کې بايد فطيره ډوډۍ وخوړل شي. ۱۸ د دې اختر په اوله ورځ بايد
تاسو د عبادت دپاره سره راغونډ شئ او په دې ورځ بايد هيڅ
ورځنی کار ونه کړئ. ۱۹ څښتن ته د سوزېدونکې نذرانې په توګه
دوه ځوان غوايان، يو پسه او اووه يو کلن ورې چې په ټولو کې هيڅ
عيب نه وي وړاندې کړئ. ۲۰ د هر غويي سره بايد درې کيلوګرامه
ښه اوړه چې د زيتونو تېل ورسره ګډ وي د غلې دانې د نذرانې په
توګه وړاندې شي. دوه کيلوګرامه اوړه چې تېل ورسره ګډ وي بايد د
پسه سره وړاندې شي ۲۱ او يو کيلوګرام اوړه چې تېل ورسره ګډ
وي بايد د هر ورې سره وړاندې شي. ۲۲ همدارنګه يو وز د ګناه د
نذرانې په توګه وړاندې کړئ او په دې ډول د قوم دپاره کفاره ادا
کړئ. ۲۳ دا دې د عادې سهارنۍ سوزېدونکې نذرانې څخه علاوه
وړاندې شي. ۲۴ په دې ډول د اوو ورځو دپاره هره ورځ د عادي
سوزېدونکې نذرانې او د هغې د څښلو د نذرانې څخه علاوه د هغې
نذرانې دپاره خواړه تيار کړئ چې په اور باندې تيارېږي. د هغې بوی
په څښتن باندې ښه لګيږي. ۲۵ په اوومه ورځ د عبادت دپاره سره
راغونډ شئ او هيڅ ورځنی کار مه کوئ.

## هغه نذرانې چې د لو کولو د اختر په دوران کې وړاندې کيږي

(لاويان ۲۳: ۱۵ – ۲۲)

۲۶ د لو کولو د اختر په اوله ورځ کله چې تاسو څښتن ته د نوې
غلې دانې نذرانه وړاندې کوئ، بايد د عبادت دپاره سره راغونډ شئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هیڅ ورځنی کار دې ونه کړای شي. ۲۷ د دوه ځوانو غوایانو، یو
پسه او اووه یو کلن وریو سوزېدونکې نذرانه چې ټول باید بې عیبه
وي وړاندې کړئ. د هغې خوشبویي په څښتن باندې ښه لګیږي.
۲۸ د هر غویي سره دې درې کیلوګرامه ښه اوړه چې د زیتونو تېل
ورسره ګډ وي او د هر پسه سره دوه کیلوګرامه اوړه چې تېل ورسره
ګډ وي د غلې دانې د نذرانې په توګه وړاندې شي ۲۹ او یو
کیلوګرام د هر وري سره. ۳۰ همدارنګه یو وز د ګناه د نذرانې په
توګه وړاندې کړئ او په دې ډول د قوم دپاره کفاره ادا کړئ. ۳۱
دغه نذرانې او د ښنبلو نذرانه دې د ورځنی سوزېدونکې نذرانې او د
غلې دانې د نذرانې څخه علاوه وړاندې شي. ګورئ چې په هغو ټولو
حیواناتو کې باید هیڅ عیب نه وي.

## د سرنیو د اختر نذرانې

(لاویان ۲۳: ۲۳ – ۲۵)

۲۹ ۱ هر کال د اوومې میاشتې په اوله ورځ تاسې د عبادت
دپاره سره راغونډ شئ او باید هیڅ ورځنی کار ونه کړئ. په هغې
ورځ باید سرنې ووهل شي. ۲ څښتن ته سوزېدونکې نذرانه یعنې
یوه خوشبویي چې په هغه باندې ښه لګیږي وړاندې کړئ: یو ځوان
غویی، یو پسه او اووه یو کلن وري، ټول باید بې عیبه وي. ۳ د
غویي سره باید درې کیلوګرامه ښه اوړه چې د زیتونو تېل ورسره ګډ
وي د غلې دانې د نذرانې په توګه وړاندې شي. دوه کیلوګرامه اوړه
چې تېل ورسره ګډ وي باید د پسه سره وړاندې شي ۴ او یو
کیلوګرام اوړه چې تېل ورسره ګډ وي باید د هر وري سره وړاندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي. ۵ همدارنګه يو وز د ګناه د نذرانې په توګه وړاندې کړئ او
په دې ډول د قوم دپاره کفاره ادا کړئ. ۶ دا نذرانې دې د مياشتې
د اولې ورځې د عادي سوزېدونکې نذرانې او د هغې د غلې دانې د
نذرانې او ورځنۍ سوزېدونکې نذرانې او د هغې د غلې دانې د نذرانې
او د څښلو د نذرانې څخه علاوه وړاندې شي. دا هغه نذرانې دي چې
په اور باندې څښتن ته تيارېږي او بوی يې په هغه باندې ښه لګېږي.

## هغه نذرانې چې د کفارې په ورځ وړاندې کېږي

(لاويان ۲۳: ۲۶ – ۳۲)

۷ د اوومې مياشتې په لسمه ورځ د عبادت دپاره راغونډ شئ. په
دې ورځ روژه ونيسئ او کار مه کوئ. ۸ څښتن ته يوه
سوزېدونکې نذرانه وړاندې کړئ، يعنې يوه خوشبويي چې په هغه
باندې ښه لګېږي: يو ځوان غويی، يو پسه او اووه يو کلن ورې، دا
ټول بايد هيڅ عيب ونلري. ۹ د غويي سره بايد درې کيلوګرامه
ښه اوړه چې د زيتونو تېل ورسره ګډ وي د غلې دانې د نذرانې په
توګه وړاندې شي. دوه کيلوګرامه اوړه چې تېل ورسره ګډ وي بايد د
پسه سره وړاندې شي ۱۰ او يو کيلوګرام اوړه چې تېل ورسره ګډ
وي بايد د هر ورې سره وړاندې شي. ۱۱ همدارنګه علاوه د هغه
وز څخه چې د خلکو د کفارې دپاره قرباني کېږي، د ورځنۍ
سوزېدونکې نذرانې او د هغې د غلې دانې د نذرانې او د څښلو له
نذرانې څخه يو وز د ګناه د نذرانې په توګه قرباني کړئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## هغه نذرانې چې د جونګړو په اختر کې وړاندې کیږي

(لاویان ۲۳: ۳۳ – ۴۴)

۱۲ د اوومې میاشتې په پنځلسمه ورځ د عبادت دپاره سره راغونډ
شئ. اووه ورځې دا اختر څښتن ته د احترام کولو دپاره ولمانځئ او
هیڅ ورځنی کار مه کوئ. ۱۳ په اوله ورځ څښتن ته دیارلس
ځوان غوایان، دوه پسونه او څوارلس یو کلن وري چې په ټولو کې
هیڅ عیب نه وي د سوزېدونکې نذرانې په توګه وړاندې کړئ. د
داسې نذرانې بوی په څښتن باندې ښه لګیږي. ۱۴ د هر غویي سره
باید درې کیلوګرامه ښه اوړه چې د زیتونو تېل ورسره ګډ وي د غلې
دانې د نذرانې په توګه وړاندې کړئ. دوه کیلوګرامه اوړه چې تېل
ورسره ګډ وي باید د هر پسه سره وړاندې کړئ ۱۵ او یو کیلوګرام
اوړه چې تېل ورسره ګډ وي باید د دې څوارلسو وریو څخه د هر
وري سره وړاندې کړئ. ۱۶ همدارنګه یو وز د ګناه د نذرانې په
توګه وړاندې کړئ. دا دې د ورځنی سوزېدونکې نذرانې او د هغې د
غلې دانې او څښلو د نذرانې څخه علاوه وړاندې شي.

۱۷ په دوهمه ورځ دولس ځوان غوایان، دوه پسونه او څوارلس یو
کلن وري وړاندې کړئ، دا ټول دې هیڅ عیب ونلري. ۱۸-۱۹ د
هغو سره نورې ټولې هغه نذرانې وړاندې کړئ چې د اولې ورځې
دپاره ورته ضرورت وُ.

۲۰ په دریمه ورځ یوولس غوایان، دوه پسونه او څوارلس یو کلن
وري وړاندې کړئ، دا ټول دې هیڅ عیب ونلري. ۲۱-۲۲ د هغو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره نورې تولې هغه نذرانې وړاندې کړئ چې د اولې ورځې دپاره ورته ضرورت وُ.

۲۳ په څلورمه ورځ لس غوايان، دوه پسونه او څوارلس يو کلن ورې وړاندې کړئ، دا ټول دې هيڅ عيب ونلرې. ۲۴-۲۵ د هغو سره نورې تولې هغه نذرانې وړاندې کړئ چې د اولې ورځې دپاره ورته ضرورت وُ.

۲۶ په پنځمه ورځ نهه غوايان، دوه پسونه او څوارلس يو کلن ورې وړاندې کړئ، دا ټول دې هيڅ عيب ونلرې. ۲۷-۲۸ د هغو سره نورې تولې هغه نذرانې وړاندې کړئ چې د اولې ورځې دپاره ورته ضرورت وُ.

۲۹ په شپږمه ورځ اته غوايان، دوه پسونه او څوارلس يو کلن ورې وړاندې کړئ، دا ټول دې هيڅ عيب ونلرې. ۳۰-۳۱ د هغو سره نورې تولې هغه نذرانې وړاندې کړئ چې د اولې ورځې دپاره ورته ضرورت وُ.

۳۲ په اوومه ورځ اووه غوايان، دوه پسونه او څوارلس يو کلن ورې وړاندې کړئ، دا ټول دې هيڅ عيب ونلرې. ۳۳-۳۴ د هغو سره نورې تولې هغه نذرانې وړاندې کړئ چې د اولې ورځې دپاره ورته ضرورت وُ.

۳۵ په اتمه ورځ د عبادت دپاره راغونډ شئ او هيڅ ورځنی کار مه کوئ. ۳۶ څښتن ته يو ځوان غويی، يو پسه او اووه يو کلن ورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په ټولو کې کوم عیب نه وي د یوې سوزېدونکې نذرانې په توګه
وړاندې کړئ. د داسې نذرانې بوی به هغه باندې ښه لګېږي. ۳۷-
۳۸ د هغو سره نورې ټولې هغه نذرانې وړاندې کړئ چې د اولې
ورځې دپاره ورته ضرورت ؤ.

۳۹ دا مقررات د سوزېدونکو نذرانو، د غلو دانو د نذرانو، د څښلو
د نذرانو او د سلامتی د نذرانو په باره کې دي چې تاسو يې بايد په
خپلو ټاکل شويو اخترونو کې څښتن ته ورکړئ. دا د هغو نذرانو
څخه علاوه دي کوم چې تاسو يې د نذر د ورکولو يا د رضاکارانه
نذرانو په توګه ورکوئ.>

۴۰ نو حضرت موسیٰ د اسرایيلو قوم ته هغه ټول شيان وويل چې
څښتن ورته حکم کړی ؤ.

## د نذر ورکولو قوانين

۳۰ ۱ حضرت موسیٰ د اسرایيلو د قبيلو مشرانو ته د څښتن
دغه حکمونه ورکړل: ۲ <کله چې يو سړی څښتن ته يو شی نذر
ورکوي، يا داسې قسم وخوري چې د ځينو شيانو څخه به ځان لیرې
ساتي، نو هغه بايد خپله وعده ماته نه کړي، بلکه څه چې يې ويلي
دي هغه دې سرته ورسوي.

۳ که چېرې يوه پېغله چې د خپل پلار په کور کې اوسېږي څښتن
ته کوم شی نذر ورکوي يا داسې وعده کوي چې د ځينو شيانو څخه
به ځان لیرې ساتي، ۴ که چېرې د هغې پلار له هغې څخه خبر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي او څه ونه وايي، نو هغه بايد خپل نذر ورکړي يا خپله وعده پوره کړي. ۵ مګر که چېرې د هغې پلار له هغې څخه خبر شي او هغه د نذر ورکولو څخه منع کړي، هغه د خپلې وعدې په پوره کولو باندې مجبوره نه ده. څښتن به هغه وبخښي ځکه چې پلار يې منع کړې ده.

۶-۷ فرض کړئ يوې پېغلې څښتن ته نذر منلى وي او يا يې کومه وعده کړې وي او بيا واده شي. که چېرې د هغې مېړه د نذر په هکله وروسته خبر شي او څه ونه وايي نو څه چې هغې ويلي دي هغه دې سرته ورسوي، که هغې يې نيت درلود يا نه. ۸ مګر که چېرې د هغې مېړه ورڅخه خبر شي او هغه د نذر د پوره کولو څخه منع کړي، نو هغه ښځه د خپلې وعدې په پوره کولو باندې مجبوره نه ده. څښتن به هغه وبخښي.

۹ کونډې او طلاق شوې ښځې بايد هر هغه نذر او يا خپله وعده سرته ورسوي چې څښتن سره يې کړې ده.

۱۰ فرض کړئ يوه واده شوې ښځه څښتن ته يو نذر ومني او يا کومه وعده وکړي. ۱۱ که چېرې د هغې مېړه ورڅخه خبر شي او څه ونه وايي، نو هغې ښځې چې کومه وعده کړې يا هر نذر چې هغې منلى وي بايد هغه سرته ورسوي. ۱۲ مګر که چېرې د هغې مېړه خبر شي او هغه د نذر د پوره کولو څخه منع کړي، نو هغه يې په سرته رسولو مجبوره نه ده. څښتن به هغه وبخښي، ځکه چې مېړه يې د نذر پوره کولو څخه منع کړې ده. ۱۳ د هغې مېړه دا حق لري چې کوم نذر هغې منلى دى او يا يې کومه وعده کړې ده، هغه تائيد

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او یا باطل کړي. ۱۴ که چېرې د هغې مېړه په هماغه ورځ د نذر
څخه خبر شي او څه ونه وايي، نو د هر شي نذر چې هغې منلی وي
او یا یې وعده کړې وي هغه باید سرته ورسوي. ۱۵ مګر که چېرې
د هغې مېړه دا نذر وروسته باطل کړي، نو د هغې ګناه به د هغه په
غاړه وي.>

۱۶ دا هغه قوانین دي چې څښتن حضرت موسیٰ ته د هغو نذرونو
په باره کې ورکړل چې د پېغلو له خوا چې د پلار په کور کې اوسېږي
ورکول کېږي او د هغو ښځو له خوا چې واده شوې وي.

## د مدیانیانو څخه بدل اخیستل

# ۳۱

۱ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲ <څه چې
مدیانیانو د اسراییلو د خلکو سره کړي وو، د هغه په خاطر هغوی ته
سزا ورکړه. چې کله دې دا کار وکړ، بیا به مړ شې.>

۳ بیا حضرت موسیٰ قوم ته وفرمایل: <د جګړې دپاره تیار
شئ، ترڅو وکولی شئ چې د څښتن په امر د مدیانیانو څخه بدل
واخلئ او هغوی ته سزا ورکړئ. ۴ د اسراییلو د هرې قبیلې څخه
زر تنه جنګ ته ولېږئ.>

۵ نو د هرې قبیلې څخه زر تنه انتخاب شول، ټول ۱۲۰۰۰ تنه د
جګړې دپاره تیار شول. ۶ حضرت موسیٰ هغوی جګړې ته
ولېږل او د العازار کاهن زوی فینحاس د هغوی سره ؤ. هغه د مقدسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خېمې څخه لږ سامان او سرنې واخيستل چې د جګړې د اعلانولو د
اشارې دپاره ووهل شي.

٧ څنګه چې څښتن په حضرت موسیٰ باندې امر کړی ؤ،
اسراييليانو د مديانيانو سره جګړه وکړه او د هغوی ټول نارينه يې
ووژل. ٨ په هغو کې د مديان پنځه پادشاهان يعنې اوي، راقم،
صور، حور او رابع هم شامل وو. همدارنګه هغوی د بعور زوی بلعام
هم وواژه. ٩ د اسراييلو خلکو د مديانيانو ښځې او ماشومان
ونيول، د هغوی ټولې پادې او رمې يې بوتللې او ټوله شتمني يې
ورته لوټ کړه ١٠ او د هغوی ټول ښارونه او کمپونه يې وسوزول.
١١ هغه ټول غنيمت چې هغوی نيولی ؤ او په هغه کې اسيران او
حيوانات هم شامل وو واخيستل ١٢ او هغه يې حضرت موسیٰ،
العازار او د اسراييلو قوم ته هغه کمپ ته چې د موآب په ډاګونو کې د
اردن د سيند په بله غاړه اريحا ته مخامخ ؤ راوړل.

١٣ حضرت موسیٰ، العازار او د قوم ټول مشران د کمپ څخه د
هغوی مخې ته ورووتل. ١٤ حضرت موسیٰ د لښکرو په
قوماندانانو باندې چې د جګړې څخه راستانه شوي وو، په قهر شو.
١٥ له هغوی څخه يې پوښتنه وکړه: >تاسو ولې ټولې ښځې
ژوندی پرېښې دي؟ ١٦ هغوی هغه څوک دي چې د بلعام په
مشوره يې عمل کړی ؤ او زمونږ خلکو ته يې بلنه ورکړې وه چې د
بعل فغور د خدای عبادت وکړي. ځکه څښتن مونږ ته سزا راکړه او
په خپل قوم باندې يې وبا راوستله. ١٧ نو اوس ټول هلکان ووژنئ
او هره ښځه چې د کوم سړي سره يوځای شوې وي ووژنئ، ١٨
مګر ټولې پېغلې انجونې ژوندی پرېږدئ او هغوی د خپلو ځانونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره وساتئ.>

۱۹ بیا حضرت موسیٰ جنګیالیانو ته وفرمایل: <که چېرې ستاسو
شخه چا څوک وژلي وي یا مو یو مړي ته لاس وروړی وي، باید
اووه ورځې د کمپ څخه دباندې پاتې شي. په درېیمه او اوومه ورځ
باید تاسو خپل ځانونه او هغه ښځې چې تاسو اسیرانې نیولې دي،
پاکې کړئ. ۲۰ همدارنګه هغه ټول کالي او ټول شیان چې د
څرمنې، د وزو د وړیو او لرګیو څخه جوړ شوي وي هم پاک
کړئ.>

۲۱ العازار کاهن هغو نفرو ته چې د جګړې څخه راستانه شوي وو
وویل: <دا هغه مقررات دي چې څښتن حضرت موسیٰ ته ورکړي
دي: ۲۲ سره زر، سپین زر، برنج، اوسپنه، قلعي او سرپ ۲۳ او
نور ټول هغه شیان چې نه سوزي، باید په سره اور کې واچول شي او
هغه به پاک شي. خو هغه هم باید د هغو اوبو په وسیله پاک شي
کومې چې د پاکوالي دپاره استعمالیږي او هغه شیان چې په اور کې
سوزي باید د اوبو په وسیله پاک شي. ۲۴ په اوومه ورځ باید خپل
کالي ومینځئ، بیا به په مذهبي لحاظ پاک شئ او کمپ ته د ننوتلو
اجازه به ولرئ.>

## د غنیمت وېشل

۲۵ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۲۶ <باید ته او العازار د
قوم د نورو مشرانو سره د اسیرانو او حیواناتو په شمول هغه ټول
شیان وشمارئ چې د مدیانیانو څخه نیول شوي دي. ۲۷ هغه نیول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوي شیان په دوه مساوي برخو ووېشئ، یوه برخه یې هغو جنګیالیو
ته چې جګړې ته تللي وو او بله برخه یې پاتې قوم ته ورکړئ. ۲۸
د هغو جنګیالیانو د برخې څخه چې په جګړه کې جنګېدلي دي، د
هرو پنځو سوو اسیرانو، غوایانو، خرو، پسونو او یا وزو څخه یو یو
څښتن ته د هغه د برخې په توګه بېل کړئ. ۲۹ هغه څښتن ته د
خاصې اعانې په توګه العازار ته ورکړئ. ۳۰ د پاتې قوم له برخې
څخه د هرو پنځوسو اسیرانو څخه یو او هماغه شان د پنځوسو
غوایانو، خرو، پسونو او وزو څخه یو یو واخلئ او هغو لاویانو ته یې
ورکړئ چې د مقدسې خېمې مسوولان دي.> ۳۱ څښتن چې کوم
حکم کړی ؤ، حضرت موسیٰ او العازار هماغسې وکړل.

۳۲-۳۵ دا د هغو شیانو لست دی چې د جنګیالیانو له خوا نیول
شوي وو، یعنې دا برسېره پر هغو شیانو دي کوم چې هغوی د خپلو
ځانونو دپاره ساتلي وو: ۶۷۵۰۰۰ پسونه او وزې، ۷۲۰۰۰ غوایان،
۶۱۰۰۰ خره او ۳۲۰۰۰ پېغلې.

۳۶-۴۰ د جنګیالیانو په نیمایي برخه کې ۳۳۷۵۰۰ پسونه او وزې
وې، چې له هغو څخه ۶۷۵ یې د څښتن برخه وه. ۳۶۰۰۰ په کې
غوایان وو، چې له هغو څخه ۷۲ یې د څښتن برخه وه. ۳۰۵۰۰ په
کې خره وو، چې له هغو څخه ۶۱ یې د څښتن برخه وه او ۱۶۰۰۰
په کې پېغلې شاملې وې، چې له هغو څخه ۳۲ تنه یې د څښتن برخه
وه. ۴۱ نو څنګه چې څښتن حکم کړی ؤ، حضرت موسیٰ د
څښتن ټوله برخه العازار کاهن ته ورکړه.

۴۲-۴۶ د قوم برخه کټ مټ هماغه شان وه لکه څنګه چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جنګياليانو وه: ۳۳۷۵۰۰ پسونه او وزې، ۳۶۰۰۰ غوايان، ۳۰۵۰۰
خره او ۱۶۰۰۰ پيغلې. ۴۷ له دې برخې څخه حضرت موسیٰ له
هرو پنځوسو اسيرانو او حيواناتو څخه يو يو واخيست او هغه يې د
څښتن د حکم له مخې لاويانو ته چې د مقدسې خېمې مسوولان وو،
ورکړل.

۴۸ د لښکرو قوماندانان حضرت موسیٰ ته ورغلل ۴۹ او ورته
ويې ويل: <باداره، مونږ خپلې لښکرې وشمېرلې، يو نفر هم کم نه
دی. ۵۰ نو مونږ به د سرو زرو ګاڼې، بازوبندونه، بنګړې، ګوتې،
غوږوالۍ او غاړکۍ چې مونږ هر يو نيولې دي راوړي دي. مونږ هغه
څښتن ته د خپل ژوند د بيې د ادا کولو دپاره وړاندې کوو، ترڅو هغه
زمونږ ساتنه وکړي.> ۵۱ حضرت موسیٰ او العازار هغه سره زر
واخيستل چې ټول د ګاڼو په شکل کې وو. ۵۲ د قوماندانانو د ټولې
اعانې وزن نژدې دوه سوه کيلوګرامه ؤ. ۵۳ په دې کې هغه شيان
شامل نه وو کوم چې جنګياليانو د خپلو ځانونو دپاره ساتلي وو.
۵۴ نو حضرت موسیٰ او العازار سره زر مقدسې خېمې ته راوړل
ترڅو اسراييليان هغه د يادګار په توګه وساتي چې څښتن د هغوی
سره مرسته کړې وه.

## هغه قبيلې چې د اردن د سيند په ختيځ کې وې

(تثنيه ۳: ۱۲ – ۲۲)

**۳۲** ۱ د روبين او جاد قبيلو ډېرې پادې او رمې درلودلې او
هغوی وليدل چې د يعزير او جلعاد سيمې ډېر ښه څرځايونه لري.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ نو هغوی حضرت موسیٰ، العازار او د اسراییلو نورو مشرانو ته
ورغلل او ورته ویې ویل: ٣-٤ <دغه سیمې چې د هغو په
نیولو کې څښتن د اسراییلیانو سره مرسته وکړه یعنې د عطاروت،
دیبون، یعزیر، نمره، حشبون، العاله، شبام، نبو او د بعون ښاروونه د
حیواناتو دپاره ښه ځمکه ده او مونږ ډېر حیوانات لرو. ٥ مهرباني
وکړئ دغه ځمکه مونږ ته د خپل جایداد په توګه راکړئ او مونږ دې
ته مه مجبوروئ چې د اردن د سیند څخه تېر شو او هلته واوسېږو.>

٦ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمایل: <نور اسراییلیان به
جنګ ته ځي او تاسو غواړئ چې دلته پاتې شئ؟ ٧ تاسو ولې د
اسراییلیانو زړونه هغه وطن ته د ورتللو څخه توروئ چې څښتن
هغوی ته ورکړی دی؟ ٨ ستاسو پلرونو همداسې کار وکړ، کله
چې ما هغوی د قادش برنیع څخه ولېږل چې هغه وطن وګوري. ٩
هغوی د اشکول تر درې پورې لاړل او هغه وطن یې وکاته، خو کله
چې بېرته راستانه شول نو د خلکو زړونه یې هغه وطن ته د ورتګ
څخه تور کړل چې څښتن هغوی ته ورکړی ؤ. ١٠ څښتن په هغه
ورځ په قهر شو او داسې وعده یې وکړه: ١١ په دې سبب چې
هغوی د زړه له کومې زما څخه پیروي ونه کړه، نو زه قسم خورم
چې د هغو نفرو څخه چې د مصر څخه راوتلي دي او عمر یې شل
کاله یا زیات دی، هیڅوک هم نه شي کولی هغې خاورې ته ورداخل
شي چې ما د ابراهیم، اسحاق او یعقوب سره د هغې وعده کړې ده.
١٢ په دوی کې پرته د یفنه قنزي د زوی کالیب او د نون د زوی
یوشع څخه چې د زړه له کومې یې د څښتن پیروي وکړه، نور ټول
شامل وو. ١٣ څښتن په قوم باندې په قهر شو او هغوی یې مجبور

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړل چې څلوېښت کاله په دښته کې سرګردانه وګرځي تر هغې چې
هغه ټول نسل چې د هغه په مقابل کې يې ګناه کړې وه، مړ شي. ١٤
نو اوس تاسو د خپلو پلرونو ځای نيولی دی، يعنې د ګناهکارو خلکو
يو نوی نسل چې دې ته تيار يئ چې يو ځل بيا د اسراييلو په قوم
باندې د څښتن غضب راولئ. ١٥ اوس که چېرې تاسو د څښتن د
پيروۍ څخه انکار وکړئ، هغه به يو ځل بيا دا ټول خلک په دښته
کې پرېږدي او د هغوی د بربادۍ مسئوليت به ستاسو په غاړه وي.>

١٦ د روبين او جاد خلکو په ځواب کې وويل: <مونږ پرېږدئ
چې د خپلو پسونو او وزو دپاره ځايونه او د خپلو ښځو او اولادونو
دپاره ښارونه جوړ کړو، ١٧ بيا به مونږ دې ته تيار شو چې خپل
ځانونه په وسلو باندې سمبال کړو او د نورو اسراييليانو په مخکې به
ځو، ترڅو هغوی خپل ځای ته ورولو. زمونږ ښځې او ماشومان به د
هغې خاورې د اوسېدونکو څخه په دېوال لرونکو ښارونو کې خوندي
اوسېږي. ١٨ مونږ به تر هغه وخته پورې خپلو کورونو ته ستانه نه
شو ترڅو ټولو نورو اسراييليانو د خپلې ټاکل شوې ځمکې ملکيت
ترلاسه کړی نه وي. ١٩ مونږ به د اردن د سيند په بله غاړه باندې
د هغوی په منځ کې کومه ځمکه وانخلو، ځکه چې زمونږ برخه دلته د
اردن په ختيځ کې ده.>

٢٠ حضرت موسیٰ په ځواب کې وفرمايل: <که چېرې تاسو په
رښتيا سره دا کار کوئ، نو همدلته د څښتن په حضور کې دې ته تيار
شئ چې جنګ ته لاړ شئ. ٢١ ستاسو ټول جنګي نفر دې د اردن
د سيند څخه تېر شي او د څښتن په امر دې تر هغې پورې زمونږ په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دښمنانو باندې خپلې حملې ته دوام ورکړي ترڅو ښتن هغوی ته
ماتې ورکړي ۲۲ او د اسراییلیانو سره مرسته وکړي چې د هغې
خاورې ملکیت ترلاسه کړي. له هغې څخه وروسته تاسو کولی شئ
چې خپل وطن ته ستانه شئ، ځکه چې تاسو به خپل تعهد د ښتن
او نورو اسراییلیانو په وړاندې سرته رسولی وي. بیا به ښتن دا
ومني چې د اردن د ختیځې خوا دا ځمکه به ستاسو وي. ۲۳ مګر
که چېرې تاسو په خپلې وعدې باندې ونه درېږئ، نو زه تاسو ته دا
خبرداری درکوم چې تاسو به د ښتن په مقابل کې ګناهکار اوسئ او
د خپلې ګناه سزا به درکړل شي. ۲۴ نو د خپلو ښځو او اولادونو
دپاره ښارونه او د خپلو رمو دپاره ځایونه جوړ کړئ. مګر کومه
وعده چې تاسو کړې ده هغه سرته ورسوئ.>

۲۵ د روبین او جاد خلکو وویل: <باداره، څه چې تاسو حکم
کوئ، مونږ به هماغسې وکړو. ۲۶ زمونږ ښځې او اولادونه، رمې او
پادې به دلته د جلعاد په ښارونو کې پاتې شي. ۲۷ مګر زمونږ هغه
نفر چې جګړې ته تیار دي هغوی به د اردن د سیند څخه تېر شي او
د ښتن په امر به وجنګیږي.>

۲۸ نو حضرت موسیٰ العازار، یوشع او د اسراییلو نورو مشرانو ته
دا حکمونه ورکړل: ۲۹ <که چېرې د روبین او جاد خلک د اردن
څخه تېر شي او د ښتن په امر جګړې ته تیار شي او د هغوی په
مرسته وکولی شئ چې هغه خاوره ونیسئ، نو بیا د جلعاد سیمه
هغوی ته د هغوی د ملکیت په توګه ورکړئ. ۳۰ مګر که چېرې
هغوی د اردن له سیند څخه تېر نه شي او تاسو سره جګړې ته لاړ نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي، دوی به په کنعان کې ستاسو سره خپل ملکيت واخلي.<

۳۱ د جاد او د روبين خلکو په ځواب کې وويل: >څنګه چې
څښتن حکم کړی دی هماغسې به وکړو. ۳۲ مونږ به د هغه تر
قوماندې لاندې د کنعان خاورې ته داخل شو او جګړې ته به لاړ
شو، ترڅو همدلته د اردن په ختيځ کې خپل ملکيت وساتو.<

۳۳ نو حضرت موسیٰ د جاد او روبين قبيلو او د حضرت يوسف د
زوی منسي نيمې قبيلې ته د اموريانو د پادشاه سيحون او د باشان د
پادشاه عوج ټوله سيمه ورکړه، چې په هغو کې ښارونه او د هغو
شاوخوا سيمه هم شامل وو. ۳۴ د جاد قبيلې د ديبون، عطاروت،
عروعير، ۳۵ عطروت شوفان، يعزير، يجبهه، ۳۶ بيت نمره او د
بيت هاران ښارونه بيا ودان کړل. د هغو چارچاپېره يې دېوالونه جوړ
کړل او د خپلو رمو د ساتلو دپاره يې ځايونه هم جوړ کړل. ۳۷ د
روبين قبيلې د حشبون، اليعاله، قريتايم، ۳۸ سبمه او هغه ښارونه
چې د نبو او بعل معون په نوم پېژندل کېدل بيا ودان کړل. دوی په
هغو ټولو ښارونو باندې نوي نومونه کېښودل.

۳۹ د منسي د زوی ماخير طايفې د جلعاد په خاوره باندې حمله
وکړه او هغه يې ونيوله او اموريان يې له هغه ځايه وشړل. ۴۰ نو
حضرت موسیٰ د جلعاد سيمه د ماخير طايفې ته ورکړه او هغوی په
کې اوسېدل. ۴۱ يائير چې د منسي د قبيلې څخه ؤ حمله وکړه او
څو کلي يې ونيول او په هغو باندې يې دا نوم کېښود د يائير کلي.
۴۲ نوبح د قنات ښار د هغه د کليو سره ونيوه او هغه يې د خپل
ځان يعنې نوبح په نوم ياد کړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مصر څخه موآب ته د اسراییلیانو سفر

**۳۳** ۱ وروسته له دې چې اسراییلیان د حضرت موسیٰ او
حضرت هارون تر مشرۍ لاندې د مصر څخه لاړل، نو د هغوی د
سفر مختلفې مرحلې په لاندې ډول وې: ۲ د څښتن په امر
حضرت موسیٰ د هغه ځای نوم لیکه چې هرځل به هغوی خپلې
خېمې په کې ودرولې.

۳-۴ اسراییلیان د اولې میاشتې په پنځلسمه ورځ د اولنۍ
فسحې په سبا د مصر د رعمسیس د ښار څخه لاړل. یوه ورځ
مخکې څښتن د مصر خدایانو ته سزا ورکړې وه او په هرې مصري
کورنۍ کې یې هر مشر زوی وژلی ؤ. نو په داسې حال کې چې
مصریانو مړي ښخول، هغوی اسراییلیان لیدل چې په ویاړ سره د
هغوی د هېواد څخه تلل.

۵ د اسراییلو قوم د رعمسیس څخه لاړ او په سوکوت کې یې
خېمې ودرولې ۶ او د هغه ځای څخه لاړل او په ایتام کې یې
چې د دښتې په یوه څنډه کې پروت ؤ خېمې ودرولې. ۷ له هغه
ځای څخه فم الحیروت ته چې د بعل صفون په ختیځ کې ؤ، بېرته
راستانه شول او مجدل ته نژدې یې خېمې ودرولې. ۸ هغوی د
فم الحیروت څخه لاړل، د سرې بحیرې څخه تېر شول، درې ورځې
یې د ایتام په دښته کې سفر وکړ او په ماره کې یې خېمې ودرولې.
۹ بیا هغوی په ایلیم کې خېمې ودرولې چېرته چې د اوبو دولس
چینې او اویا د خرما ونې وې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ هغوی د ایلیم څخه لاړل او د سرې بحیرې په غاړه یې خېمې
ودرولې. ۱۱ د سرې بحیرې څخه روان شول او د سین په دښته
کې یې خېمې ودرولې. ۱۲ بیا د سین له دښتې څخه لاړل او په
دفقه کې یې خېمې ودرولې. ۱۳ د دفقه څخه لاړل او په الوش کې
یې خېمې ودرولې. ۱۴ د الوش څخه لاړل او په رفیدیم کې یې
خېمې ودرولې، چېرته چې د خلکو دپاره د څښلو اوبه نه وې. ۱۵
هغوی د رفیدیم څخه لاړل او په آخر کې د سینا دښتې ته ورسېدل.

۱۶-۳۶ څنګه چې اسراییلیانو د سینا له دښتې څخه قادش ته
چې د صین په دښته کې ؤ سفر کاوه، هغوی په دغو ځایونو کې
خېمې ودرولې: قبروت هتاوه، حصیروت، رتمه، رمون فارص، لبنه،
رسه، قهیلاته، د شافر غر، حراده، مقهیلوت، تاحت، تارح، متقه،
حشمونه، مسیروت، بني یعقان، حورالجدجاد، یطبات، عبرونه،
عصیون جابر او په آخر کې قادش. ۳۷ کله چې هغوی د قادش
څخه لاړل، د هور د غره په څنګ کې یې د ادوم په سرحد کې
خېمې ودرولې.

۳۸ دا هغه ځای دی چېرته چې څښتن په حضرت هارون کاهن
باندې امر وکړ چې د غره سرته وخېژي. حضرت هارون هلته د
پنځمې میاشتې په اوله ورځ خلوېښت کاله وروسته له دې چې
اسراییلیان د مصر څخه تللي وو، مړ شو. ۳۹ په هغه وخت کې
حضرت هارون د یوسلو درویشتو کالو په عمر ؤ.

۴۰ د عراد کنعاني پادشاه چې د کنعان په جنوب کې اوسېده
واورېدل چې اسراییلیان راروان دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۱-۴۷ اسراییلیان د هور د غره څخه د موآب په لور روان شول.
په لاره کې هغوی په دغو ځایونو کې خېمې ودرولې: صلمونه،
فونون، اوبوت، عیی عباریم چې د موآب په سیمه کې ؤ، دیبون جاد،
علمون دبلاتایم، د نبو غره ته نژدې یو ځای چې د عباریم په غرونو
کې ؤ ۴۸ او په آخر کې د موآب په ډاګونو کې د اردن د سیند په
بله غاړه اریحا ته مخامخ. ۴۹ د هغوی کمپ د بیت یشیموت څخه
تر آبل شطیم پورې غزېدلی ؤ.

## د کنعان د فتح کولو دپاره د ښبتن امر

۵۰ کله چې د اسراییلو قوم د موآب په ډاګونو کې د اردن د سیند
په غاړه اریحا ته مخامخ خېمې ودرولې وې، ښبتن حضرت موسی[۱]
ته وفرمایل چې ۵۱ هغوی ته دا پیغام ورسوي: <کله چې تاسو د
اردن د سیند څخه تېر شئ او کنعان ته ورننوزئ، ۵۲ باید د هغه
ځای ټول اوسېدونکي وشړئ. د هغوی ټول د تیږو او فلزي بتان او
ټولې عبادتخانې له منځه یوسئ. ۵۳ هغه خاوره ونیسئ او په هغې
کې واوسېږئ، ځکه چې هغه مې تاسو ته درکړې ده. ۵۴ هغه
ځمکه د مختلفو قبیلو او طایفو ترمنځ د پچې په اساس ووېشئ، لویې
طایفې ته زیاته ځمکه او کوچنۍ طایفې ته لږه ځمکه ورکړئ. ۵۵
که چېرې د هغه ځای ټول اوسېدونکي ونه شړئ، هغوی به ستاسو په
سترګو کې د اغزیو او ستاسو په بدنونو کې به د کرکڼو په شان شي.
هغوی به تل تاسو ته تکلیف درکوي. ۵۶ که چېرې تاسو هغوی
ونه شړئ، زه به تاسو تباه کړم لکه څنګه چې مې د هغوی د تباه
کولو پلان جوړ کړی دی.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د اسراییلو سرحدونه

۳۴ ۱ خښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل ۲ چې د
اسراییلو قوم ته داسې حکم وکړي: ‹کله چې تاسو د کنعان خاورې
ته ورننوزئ، یعني هغې خاورې ته چې تاسو ته یې درکوم، نو ستاسو
سیمه به دغه سرحدونه ولري: ۳ جنوبي سرحد به د صین دښته او
د ادوم شمال لوېدیځ سرحد وي. دا سرحد به د ارام د درياب په
جنوبي آخري سر کې شروع شي. ۴ له هغه ځای څخه به هغه د
لوېدیځ خواته ورسیږي، مګر د جنوب خواته به وروګرځي چې د
عقربیم غاښی، د صین کلی او د قادش برنیع ښار په کې شامل شي. له
هغه ځای څخه به دا سرحد حصرادار او عصمون ته ورسیږي، ۵
چېرته چې به هغه د هغه خوړ په لوري وروګرځي کوم چې د مصر په
سرحد کې دی او د مدیترانې په بحیره کې به ختم شي.

۶ د مدیترانې بحیره به لوېدیځ سرحد وي. ۷ شمالي سرحد به
د مدیترانې په بحیره کې شروع شي بیا به د ختیځ په لور د هور غره
ته ورسیږي. ۸ له هغې وروسته به هغه د حمات د غاښي په لار
صدد ته ورسیږي. ۹ د صدد څخه به سرحد په ختیځ کې زفرون
ته ورسیږي او په حصرعینان کې به ختم شي. ۱۰ ختیځ سرحد به
په شمال کې په حصرعینان کې شروع شي بیا به جنوب خواته شفام
۱۱ او ربله ته ورسیږي چې د عین په ختیځې خوا کې دی. له هغه
ځای څخه به هغه د جنوب په لور د جلیل د جهیل ختیځو غونډیو ته
ورسیږي، ۱۲ بیا به د اردن د سیند په لار د ارام د درياب د شمالي
برخې آخري سرته ورسیږي. کومه ځمکه چې د هغو څلورو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سرحدونو په منځ کې وي هغه به ستاسو شي.<

۱۳ نو حضرت موسیٰ اسرایيليانو ته داسې حکم وکړ: <دا هغه ځمکه ده چې تاسو به يې د پچې اچولو له مخې ترلاسه کړئ، يعنې هغه ځمکه چې څښتن د نهه نيمو قبيلو دپاره ټاکلې ده. ۱۴ د روبين، جاد او د منسي نيمې قبيلې خپله ځمکه ترلاسه کړې ده چې د هغوی د کورنيو له مخې وېشل شوې ده. ۱۵ دا اريحا ته مخامخ د اردن د سيند په ختيځ کې ده.<

## هغه مشران چې ځمکه به ووېشي

۱۶ څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۱۷ <العازار کاهن او د نون زوی يوشع به خلکو ته ځمکه ووېشي. ۱۸ د هرې قبيلې څخه يو يو مشر وټاکه چې د هغوی سره د ځمکې په وېشلو کې مرسته وکړي. ۱۹-۲۸ دا د هغوی د نومونو لست دی:

د يهودا د قبيلې څخه – د يفنه زوی کاليب

د شمعون د قبيلې څخه – د عميهود زوی شموئيل

د بنيامين د قبيلې څخه – د کسلون زوی اليداد

د دان د قبيلې څخه – د يجلي زوی بقي

د منسي د قبيلې څخه – د ايفود زوی حنيئيل

د افرايم د قبيلې څخه – د شفطان زوی قموئيل

د زبولون د قبيلې څخه – د فرناک زوی اليصافان

د يساکار د قبيلې څخه – د عزان زوی فلتيئيل

د اشير د قبيلې څخه – د شلومي زوی اخيهود

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د نفتالي د قبيلې څخه – د عميهود زوی فدهئيل.>

۲۹ دا هغه نفر دي چې څښتن ورباندې امر وکړ چې د اسراييليانو
دپاره د ځمکې په وېشلو کې د العازار او يوشع سره مرسته وکړي.

## د لاويانو دپاره ښارونه

۳۵ ۱ په داسې حال کې چې اسراييليانو د موآب په ډاګونو کې
د اردن د سيند په بله غاړه اريحا ته مخامخ خېمې ودرولې، څښتن
حضرت موسیٰ ته وفرمايل: ۲ <اسراييليانو ته ووايه د هغه
جايداد څخه چې هغوی يې ترلاسه کوي بايد لاويانو ته د اوسېدلو
دپاره څو ښارونه او د هغو شاوخوا څړځايونه ورکړي. ۳ دا
ښارونه به د لاويانو وي او هغوی به هلته اوسېږي. د څړځای به د
هغوی د غوايانو او د هغوی د نورو ټولو حيواناتو دپاره وي. ۴
څړځای بايد د ښار د بيروني دېوالونو څخه هرې خواته څلورنيم
سوه متره وغزول شي، ۵ ترڅو يوه مربع شکله سيمه جوړه شي
چې هره خوا يې نهه سوه متره وي او ښار به يې په منځ کې وي.

۶ شپږ ښارونه چې تاسو يې هغوی ته ورکوئ هغه به د پناه
اخيستلو ښارونه وي او يو نفر چې يو څوک يې په سهوې سره وژلی
وي کولی شي چې هلته وتښتي. مګر تاسو بايد لاويانو ته دوه
څلوېښت نور ښارونه ورکړئ، ۷ نو هغوی به د شاوخوا
څړځايونو سره ټول اته څلوېښت ښارونه ولري. ۸ د لاويانو د
ښارونو شمېر بايد په هره قبيله کې د هغې د سيمې د اندازې په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مطابق معلوم کړای شي. لويې قبيلې به زيات ښارونه او کوچنۍ قبيلې
به کم ښارونه ورکړي.>

## د پناه اخيستلو ښارونه

(تثنيه ١٩: ١ – ١٣ او يوشع ٢٠: ١ – ٩)

٩ بيا ښبتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل چې ١٠ د اسراييلو
قوم ته داسې ووايي: >کله چې تاسو د اردن له سيند څخه تېر شئ او
د کنعان خاورې ته ورننوزئ، ١١ د پناه اخيستلو ښارونه انتخاب
کړئ چې داسې نفر د ساتنې دپاره ورتښتېدلی شي چې يو څوک يې
په سهوې سره وژلی وي. ١٢ هغه به په هغه ځای کې د وژل شوي
نفر د خپلوانو د يو نفر څخه چې د بدل اخيستلو په لټه کې وي په
امن کې اوسي. هيڅوک چې هغه په قتل باندې تورن شوی وي د
علني محاکمې څخه پرته نه شي وژل کېدای. ١٣ شپږ ښارونه
انتخاب کړئ، ١٤ درې د اردن ختيځې خواته او درې د کنعان په
خاوره کې. ١٥ دا به د اسراييليانو او هغو بېګانه خلکو دپاره چې
په موقت يا دايمي توګه اوسيږي د پناه اخيستلو ځايونه وي. هرڅوک
چې په سهوې سره يو نفر مړ کړي هغه کولی شي چې د دې ښارونو
څخه يو ښار ته وتښتي.

١٦-١٨ خو بياهم، که چېرې څوک د اوسپنې، تيږې يا لرګي د
وسلې څخه کار واخلي او يو نفر ووژني، نو هغه د هغه نفر د قتل په
خاطر مجرم دی او بايد ووژل شي. ١٩ د وژل شوي نفر يو ډېر
نژدې خپلوان دا مسئوليت لري چې قاتل ووژني. کله چې هغه پيدا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي، باید ویې وژني.

٢٠ که چېرې څوک د کوم نفر سره کینه لري او هغه په ټېل وهلو یا
په یو شي باندې په ویشتلو سره مړ کړي ٢١ یا هغه په سوک
ووهي، هغه د هغه نفر د قتل په اړه مجرم دی او باید ووژل شي. د
وژل شوي نفر یو ډېر نژدې خپلوان دا مسئولیت لري چې قاتل
ووژني. کله چې هغه راپیدا کړي نو باید ویې وژني.

٢٢ خو فرض کړئ څوک په سهوې سره یو داسې نفر مړ کړي چې
د هغه سره کینه نه لري، که هغه په ټېل وهلو وي یا په کوم شي باندې
په ویشتلو سره. ٢٣ یا د هغه فکر نه وي او یو داسې سړی په تیږه
باندې په ویشتلو مړ کړي چې د هغه نیت نه وي چې هغه ژوبل کړي
او د هغه دښمن نه وي. ٢٤ نو په داسې حالاتو کې دې د هغه ځای
خلک د هغه چا په حق کې فیصله وکړي چې نفر یې مړ کړی دی، نه
د مړي د خپلوانو څخه د هغه نفر په حق کې چې د بدل اخیستلو په
لټه کې دی. ٢٥ ټولنه باید هغه سړی چې په قتل باندې تورن دی د
وژل شوي نفر د خپلوان څخه خلاص کړي او هغه باید د پناه
اخیستنې هغه ښار ته چې هغه ورتښتېدلی ؤ بېرته ولېږي. هغه باید د
مشر کاهن تر مړینې پورې په هغه ښار کې واوسیږي. ٢٦ مګر که
چېرې په قتل باندې تورن نفر د پناه اخیستلو ښار چې ورته تښتېدلی
ؤ پرېږدي ٢٧ او د وژل شوي نفر ډېر نژدې خپلوان هغه پیدا کړي
او ویې وژني، نو دغه بدل اخیستنه قتل نه دی. ٢٨ په قتل باندې
تورن نفر باید د مشر کاهن تر مړینې پورې د پناه اخیستلو په ښار
کې پاتې شي، خو وروسته بیا کولی شي چې خپل کور ته ستون شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٩ دا قوانين به په تاسو او ستاسو په اولادې باندې چې په
هرځای کې اوسيږي عملي کيږي.

٣٠ په قتل باندې تورن نفر بايد يوازې په هغه صورت کې مجرم
وګڼل شي او ووژل شي چې دوه يا له هغه څخه زيات شاهدان
شاهدي ورکړي. د قتل د تور د ثابتولو دپاره د يو نفر شاهدي ورکول
کافي نه دي. ٣١ قاتل بايد ووژل شي. هغه د پيسو په ورکولو سره
د دې جزا څخه نه شي خلاصېدلی. ٣٢ که چېرې څوک د پناه
اخيستلو ښار ته تښتېدلی وي، نو هغه مه پرېږدئ چې د مشر کاهن د
مړينې څخه مخکې خپل کور ته د بېرته ستنېدلو په خاطر بيه ادا
کړي.

٣٣-٣٤ زه څښتن ستاسو اسراييلو د قوم په منځ کې اوسېږم، نو
ستاسو خاوره بايد پاکه وساتل شي. مګر کله چې قتل وشي نو د هغه
په وينه باندې ځمکه پليتيږي او ناپاکه کيږي. که چېرې داسې کيږي،
قاتل بايد ووژل شي نو ځمکه به بېرته پاکه شي. په اسراييلو کې دې
قتل نه کيږي.>

د واده شويو ښځو ميراث

# ٣٦

١ يوه ورځ د جلعاد د طايفې د کورنيو مشران حضرت
موسیٰ او د اسراييلو نورو مشرانو ته ورغلل. (جلعاد د ماخير زوی،
ماخير د منسي زوی او منسي د حضرت يوسف زوی ؤ.) ٢
هغوی ووېل: <باداره، څښتن تاته حکم کړی دی چې د اسراييلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلکو ته د پچې په اساس ځمکه ووېشي. همدارنګه هغه حکم کړی
دی چې زمونږ د خپلوان صلفحاد ځمکه د هغه لورګانو ته ورکړي.
۳ مګر دا خبره یاد ساته، که چېرې هغوی د بلې قبیلې د سړیو
سره ودونه وکړي، د هغوی جایداد به د هماغې قبیلې شي او زمونږ
دپاره ټاکل شوې برخه به کمه شي. ۴ د بېرته ورکولو په کال کې
کله چې ټول خرڅ شوی جایداد خپل اصلي خاوند ته بېرته ورکړل
شي، د صلفحاد د لورګانو ځمکه به د هغې قبیلې په دایمي جایداد
باندې ورزیاته شي په کومې کې چې هغوی واده شوې دي او دا به
زمونږ د قبیلې په تاوان تمام شي.>

۵ نو حضرت موسیٰ د څښتن له خوا د اسراییلو قوم ته دغه
حکم ورکړ. هغه وفرمایل: <د منسي قبیله چې څه وایي هغه صحیح
دي ۶ او څښتن فرمایي چې د صلفحاد لورګانې ازادې دي چې د
هرچا سره چې وغواړي واده کولی شي خو یوازې په خپله قبیله کې.
۷ په دې ډول به د هر اسراییلي جایداد د هغه د خپلې قبیلې
پورې تړلی پاتې شي. ۸ هره ښځه چې د اسراییلو په یوه قبیله
کې ځمکه په میراث اخلي باید د هماغې قبیلې د سړي سره واده
وکړي. په دې ډول به ټولو اسراییلیانو ته د خپلو نیکونو جایداد په
میراث کې ورسیږي ۹ او د یوې قبیلې ځمکه دې بلې قبیلې ته نه
ورکول کیږي. هره قبیله دې خپل ملکیت وساتي.>

۱۰-۱۱ د صلفحاد لورګانو محلې، ترصې، حجلې، ملکې او نوعې
د څښتن اطاعت وکړ او د خپلو ترونو د زامنو سره یې ودونه وکړل
۱۲ او د منسي په قبیلې کې پاتې شوې. نو د هغوی جایداد د
هغوی د پلار په قبیله کې پاتې شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ دا هغه اصول او مقررات دي چې څښتن د حضرت موسیٰ په
وسیله د موآب په ډاګونو کې د اردن د سیند په بله غاړه اریحا ته
مخامخ اسراییلیانو ته ورکړل.

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © د ختيځ افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.